مورچل

دهیواد دنشه یي توکیوپرضد دامریکا څرګنده ناکامي!

اسلامي امارت د ولس ژغورونکي ځواک په توګه!

ایډز د یرغل یوه بله کرغیړنه ډالۍ

لسم کال دویمه، پرلپسې ۹۰یمه ګڼه، جمادی الاولی ۱٤۳۷هق، فروري ۲۰۱۶

د سنګر مجاهده د ممبر مجاهد هم شه !

پرمجاهدینودخپلوبندیانو حقوق !

تحمل مشقات بخشی از جهاد است

دغلیم پوچ تبلیغات، مکاره میډیا اوداسلامي امارت ...

داسلامي شعایروسره تاجک دولت نوی اعلان جنګ

امنیتي ځواکونه ولي د ملي اُردو له لیکو تښتي ؟!

پرمجاهدینودخپلوشهیدوملګرودیتیمانو حقوق!



لسم کال دویمه پرلپسې ۹۰ یمه گنه، جمادي الاولي ۱۴۳۷ هق ۲۰۱۶ م

مورچل

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لرلیک

گنه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	دسنگر مجاهده دممبر مجاهدهم شه !	۳
۳	پرمجاهدینو دخپلو بندیانوحقوق	۵
۴	تحمل مشقات بخشی ازجهاداست	۷
۵	دغلیم پوچ تبلیغات، مکاره میډیا اوداسلامي امارت	۹
۶	دبرمامسلمانانوتاریخ اوروان وضعیت ته لنډه کتنه	۱۱
۷	پرمجاهدینودخپلوشهیدوملگرودیتیمانوحقوق	۱۴
۸	تقوا اواتحاد دواصل نیروی اجتماعی مسلمانان	۱۶
۹	دجهاد فقهي مسائل	۱۸
۱۰	اسلامي امارت دولس ژغورونکي ځواک په توگه	۲۰
۱۱	په اسلام کې دچارواکو او ولس ترمنځ اړیکي	۲۳
۱۲	دشهید امرالله رهبر ژوند اوشهادت	۳۰
۱۳	ایډز دیرغل یوه بله کرغېړنه ډالۍ	۳۲
۱۴	زندگی نامه ثمامه بن آثال رضی الله عنه	۳۳
۱۵	ددعوت، ارشاد، جلب وجذب کمیسیون	۳۸
۱۶	دشهیدمولوي عبدالرحمن "محمود" ژوندته کتنه	۳۹
۱۷	جنگي جنایتونه (فروري)	۴۵
۱۸	په مطبوعاتو کې دسرمقاله لیکونکي اهمیت او ...	۴۷
۱۹	امنیتي ځواکونه ولې دملي اردوله لیکو تښتي	۵۰
۲۰	دمورچل وړمې	۵۱
۲۱	د ۲۰۱۶ ز کال د جنوري میاشت جهادي خبرونه	۵۳
۲۲	دتلفاتو میاشتني جدول	۱۲۶

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســن خېل | ایــوب صــافی
حســن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مســافر | حافــظ سعــید

تخنیکي چارې

دفرهنگي کمیسیون تخنیکي څانگه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دهیواد دنشه یې توکیو پرضد دامریکا څرګنده ناکامي !

مخدرات یا نشه یې توکي داسې عناصر دي، چې نه یې اسلام اجازه ورکوي او نه یې بشري ټولنې دخپل ځان په خیر بولي ،خو په دومره تفکیک سره، چې اسلامي شریعت ټول مسکرات حرام بولي او کوم ډول تفاوت پکې نه کوي ،مګر هغه بشري ټولنې چې ځانونه دصنعت اونړیوال اقتصاد مخکښان بولي ،دشرابو په څیر مسکرات ځانونو ته مجاز،خو ډهیروینویاورته نورو عناصروتولیدات او کښت بیا یو نړیوال جرم ګڼي .

پدې وروستیوکې دامریکا دخارجه چارو وزارت منلې، چې امریکایان ددې سربیره ،چې افغانستان کې پوځي شتون لري ،خو بیا هم دنشه یې توکیوپه مخنیوي کې پاتې راغلې ،همداسې د نشه‌یي توکو د مخنیوي نړیوالې اداري په خپل راپور کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته ویلي، چې د امریکایانو په شتون کې د مخدره موادو تجارت او کښت ډېر شوی او امریکا د نشه‌یي توکو پر وړاندې جګړه بایللې ده.د«سیګار» مشر (جان سوپکو) هم د نشه‌یي توکو په اړه په خپل راپور کې ویلي، چې افغانستان کې د نشه یي توکو کرکیله له تاریخي پلوه بې ساري ده.

د جان سوپکو له دفتره په خپره شوې، اعلامیه کې راغلي، چې امریکا د نشه‌یي توکو د مخنیوي لپاره۷،۶۵ میلیارده ډالر ولګول، مګر د مخدره موادو کښت او تجارت د پخوا په پرتله بیخي زیات شوی دی.

اعلامیه کې راغلي، چې دولتي چارواکیو څو څو ځله اعلان کړی، چې ځینو سیمو کې یې د کوکنارو پتې ویجاړ کړي، مګر د پلټنو پر مهال د چارواکو خبرې دروغ ثابتې شوي دي.

اعلامیه زیاتوي، چې د افیومو د ډېر والې له امله په افغانستان کې د امریکا پر سیاسي فعالیت هم شکونه کیږي، ځکه داسې ښکاري، چې امریکایي چارواکي نه غواړي، چې دغه هېواد کې نشه یي توکي له منځه یوسي.....امریکایان او اورپایان چې پخپله په نشه یې توکیو روږدي او داخلاقي فساداتو عاملین دي ،نوکله به یو داسې اسلامي هیواد، چې ددوئ لښکرې پکې چوپې چوپې ګرځي او ددې هیواد ځمکه او هوا یې اشغال کړي، ددې مهلکو توکیو څخه دوئ خلاص کړي ،ډېر داسې اسناد شته، چې دا جوتوي ،چې امریکایان پخپله دمخدره موادو دقاچاق چارې سنبالوي او همدوئ یې نورو هیوادونو ته سوداګرې کوي .

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

که نه، داسلامي امارت درونډ مشر امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رح دخپل واک په موده کې ډیوه فرمان په صدرو سره کوکنار بند کړل اومسلمان ولس دنوموړې دفرمان پر اساس دکوکنارو کښت چورلټ له منیځه یو وړ،تردې چې نا دوست نړیوال هم دې پریکړې هیښ کړل او تر ننه بیا دافغانستان پردیپالیو مشرانو دلسګونو فرمانونو په صادرولو سره دې ناورین ته دپای ټکی کښینښودلای شو.ددې نه په ډاګه داسې معلومیږي ،چې فقید امیرالمؤمنین رح او اسلامي امارت مجاهدین دهیواد رښتیونې بچیان ،دهیواد ارزښتونوته وفادار او دخپل اولس په زړونو کې ځای لري او مقابل لوری نه کوم ولسي محبوبیت لري او نه داسلام او هیواد اقدارو ته کومه ژمنتیا لري ،دتل لپاره داشغالګرو په لاسونوکې دنانځکوغوندې اوړې را اوړې اوکومه لوړه مفکوره او خپلواکه نظریه داسلام او هیواد په اړه ورسره نشته .

شک نشته چې داسلامي امارت مشرتابه ،ګرد مخدارت داسلامي شریعت دحکم لمخې منع اعلان کړل او پدې اړه یې دکوم چاسره معامله ونکړه،نوپایله کې یې ډیر ژرډافیوموکښت بند شو،مګردلویځې نړۍ مشرانوداسلامي امارت ددې سریع النفاذ فرمان یو ډول تقدیر هم هاغه مهال هم ونکړاو نه یې دا کار یو صریح پرمختګ وباله، چې له امله یې له ورایه تړې دانښکاړې ،چې دوئ اصلاً نه غواړې ،چې زمونږهیواد دې له مسګراتونه خلاص کړي او یا داچې لا له هماغه وخته دوئ پدې مخنیوي کې ناکام وو،خو داچې اوس دهیواد سیاسي نظام ددوئ لخوا اداره کیږي، عملاً دادی ګورو،چې ددومره لوړ لګښت سربیره، بیا هم ونه توانیدل، چې دافیومومخه ډب کړي او دهیواد له ټندې دا پیغورنور لیرې ،لکه څنګه چې دا شاته تګ دامریکایانو سیاسي جهتونه دخپل حکومت ناکامي بولي،نو مونږ لا پخوا ویلې وو،چې نه یوازې دنشه یې موادو په مخنیوي کې به دوئ ناکام وي، بلکې سیاسي او پوځي ډګرونو کې به امریکایان او ټول نیواکګرد ځښتن تعالی په مرسته ،له ماتې سره مخامخ شي ،هاغه وړاندوینه چې مویونیمه لسیزه مخکې ددوئ دناکامۍ په اړه کړي وه، دادی دامریکاخارجه وزارت هم ومنله او پخپله ماتې یې اعتراف وکړ.

مونږپداسې حال کې چې امریکایان او ددوئ غلامه اداره دافغانستان په ټوله جغرافیه او داشغال په ټولو ډګرونوکې له ناکامیو سره مله بولو،ورته وریادوو !چې پخوا هم دا نشه یې توکې اسلامي امارت چورلټ بند کړي وو او ګانده یا راتلونکی کې هم ددې کار هیله لدې سپیڅلې کاروان څخه شونې ده ، خوهغه چې دغربي هیوادونو سره تړاو لري، هغه داده، چې نور پداسې بې مفهومه شعارونو اوغولونکیوژمنو نړیوال ونه غولوي اونه ددې وژنکیو توکیواو موادو پړه پر اسلامي حرکتونو ورواچوي ،بلکې په تولیز ډول ددې ټولوبشري جرایمو او انسانیت ضد کړو وړو مسؤلیت پر همدوئ دی او دوئ ددې چارو بشپړ مسؤلیت !!

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دسنګر مجاهده د ممبر مجاهد هم شه!

قاري حبيب

څرنګه چې د مسلمانانو په خلاف دښمنان په پوځي جګړه سربیره، د تبلیغاتو، فرهنګ، مطبوعاتو او هنګامو خپرولو په برخه کې هم په فعالیت بوخت دي. نو پرمونږ لازمه ده چې له دښمن سره په مسلح جهاد سربیره د جهاد په دې نامسلح ډګر یا د سړې جګړې په میدان کې هم مبارزه وکړو، چې ددې لپاره بیا هر مجاهد ته ښایي چې د نظامي جهاد ترڅنګ باید باللسان او بالقلم جهاد ته هم ځان اماده او خپل برخه کار په کې ترسره کړي.

د نظامي مجاهدینو لپاره د باللسان یا نشراتي جهاد پراخ امکانات او فرصتونه شته چې کولای شي استفاده تري وکړي. مجاهد باید لومړی خپل ځان په علمي او فکري لحاظ اماده او مستعد کړي، د اسلام او جهاد اهداف وپیژني، د کفارو تزویرونه او شوم نیتونه تشخیص کړي، د جهاد بریا او دالهي نصرت د نزول اسباب ځان ته معلوم کړي، د ځان، خپلو ملګرو او ټولنې د رهنمایي او نجات لاره پیدا کړي او بیا له هر مجلس، هرې غونډې، هر مناسبت او هر فرصت نه په استفاده خپلو مجاهدو ملګرو او عام اولس ته د اسلام او مسلمانانو د نفعې او خیرخواهۍ په غرض اصلاحي لاربنوونې وکړي.

مجاهد لکه څنګه چې د دښمن په وړاندې نظامي عملیاتو ته پلان جوړوي، وربانديې فکر کوي، ورته ځان اماده کوی او د بریا لپاره بې ټول تلاش کوي همداسې د خپلو ملګرو او عامو مسلمانانو د اصلاح، رهنمایي، له کفر او فسق څخه د ساتلو او فکري تنویر او ویښتابه لپاره هم باید همیشنۍ اماده ګي ولري.

دا چې د مجاهدینو ټوله ګوزاره د ولس په منځ کې ده، د ولس په کورونو، جوماتونو، او تجمعاتو کې همیشنی حضور لري، باید له دې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

فرصتونو څخه د ديني او جهادي دعوت ، د اسلامي امارت د مرام او تګلارې د بيان او د رسمي موقفونو د توجيه او وضاحت لپاره په خپل وخت مقصودي کار وکړي.

کله چې دښمن د راډيوګانو له لارې کومه بده اوازه خپروي، د اسلامي امارت د مجاهدينو د بدرنګي لپاره تبليغات کوي، مجاهد بايد په هماغه ورځ د همدې تودې موضوع په اړه له معلوماتو وروسته په خپل ماحول کې نورو مجاهدينو او عام اولس ته ډاډ ورکړي، د هغوی انديښنې او سوء تفاهم بايد رفع کړي او په دې ډول د دښمن د ساړه جنګ د سائس هم د الله تعالی په نصرت سره شنډ او ناکاره وګرځوي.

د دې لپاره چې مجاهدينو ته په شعوري توګه خپله تګلاره او د اسلامي امارت پاليسي ښه واضحه شي نود اسلامي امارت چاپي او انټرنيټي نشرات دې تعقيب کړي تر څو د هرې خبرې په باره کې د استدلال له ځواک څخه برخمن شي. په دې سربيره د اسلامي امارت د نشراتو لکه مجلو، مسيجونو، مخابروي پيغامونو، غږيز او ويډيوي اصدارات، د انټرنيټ او عامه رسنيو خپرونې او د غسې نور نشرات بايد هر مجاهد تر خپله وسه بدرګه او تر وروستي حده پسې نشر او تکثير کړي، تر څو د اولس هر کور- کور او کلي - کلي ته د حق داعيه او د جهاد پيغام ورسيږي او د مؤمنانو زړونه وربانديې تسکين شي.

په هر حال، که د سنګر مجاهد په عين حال کې د ممبر ، ژبې او قلم مجاهد هم شي نو په دې ډول به د نور علی نور څنبستن او د څو برابره زياتو ثوابونو ګټونکی شي.

امريکايي چارواکي: افغانستان د سياسي خطر له ګوابښ سره مخ دی

د امريکا د ملی استخباراتو مشر وايي، چې سياسي همغاړه کېدل په افغانستان کې مخ په ځور روان دی او امنيتي ګوابښونه په دغه هېواد کې زيات شوي دي. د امريکا د ملي استخباراتو مشر جيمز کلپر د امريکا په سنا کې وويل، چې افغانستان پر ۲۰۱۶ کال د سياسي سقوط له ګوابښ سره مخ دی.

هفه زياته کړه، سياسي توافق او همغاړه کېدل مخ په ځور دی، دولت له سترو ننګونو سره مخ دی او په دې منځ کې د طالبانو جګړه ييز ګوابښونه زيات شوي دي.

د ده په وينا، د سولې خبرو په تړاو د طالبانو په شرايطو او کړنلارو کې کوم بدلون نه دی راغلی.

په همدې غونډه کې د امريکا د استخباراتي ادارې مشر نسنت ستيوارد هم وويل، که څه هم افغان ځواکونه په خپلواکه توګه د جګړې رهبري کوي، خو سترې ننګونې په مخ کې لري. هفه زياته کړه، طالبانو په افغانستان کې د دولت د کنټرول سيمه محدوده کړې ده.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پر مجاهدینو دخپلوبندیانو حقوق !

(مفتي شاهد حقاني)

هغه مجاهدین چې د اشغالګرو څخه د خپلې اسلامي خاورې د خپلواکۍ ،د اسلامي نظام د نفاذ اود جهاد دمقدسې فریضې د اداکولو په لاره کې د ددې اشغالګرو اومحاربو کفارو ، او د دوئ د غلامانو لخوا ونیول شي، پر ټولو مسلمانانو او مخصوصاً پر مجاهدینوپې د دښمن له منګلو څخه خلاصول ،د دوئ د کورنیو پالنه ،د نومورپیو د ماشومانو دیني او اخلاقي روزنه او د دوئ د ورځنیو لګښتونو او اړوندو ارتیاوو انتظام، شرعي او اخلاقي وجایب دي،او پدې اړه باید چې مجاهدین لاډیره پاملرنه وکړي ،هغه اسیر، چې خپل آزاد ژوند او حریت یې د دښمن قفس کې بندیوان کړاو د اسلام او خاورې د دښمنانو پنجرو کې د اسارت په څنګیرونو تړلی او یا کوټه قلفي کې د خلاصیدو شپې او ورځې سبا کوي ،د همسنګرو او همفکرو ملګرو د مرستو په تمه د انتظار لارې شمارې او خپلې هیلې او اسرې یې ورسره تړلې وي.

په شرعي لحاظ د کفارو له زندانونو څخه د یوه مجاهد اسیر خلاصول، له واجباتو څخه شمیرل کیږي او حتی پدې باندې د امت اجماع هم منعقد ده ،چې یو مسلمان اسیر باید چې د کفارو له اسارت څخه راخلاص شي ،د اکه د بیت المال په پیسو وي او که له نورو ملي بودیجو څخه وي ،که احیاناً د امدارک تش وي ، نو پر مسلمانانو یې په شخصي مصارفو خلاصول فرض دي.د امام قرطبي رح په احکام القرآن تفسیر) کې داسې لیکلي:چې زمونږ علماء رح فرمایي ،چې د پیسو په بدل کې د اسیرانو خلاصول واجب دي ،که څه هم یوه روپۍ (بیت المال کې) پاتې نشي ،تفسیر قرطبي ۲ج۲۳ص کې د سورت البقرې د(۸۵)نمبر آیت کریمه په تفسیر کې چې {وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَى تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ} د(ابن خویزمنداد)قول داسې رانقلوي:چې دا آیت د بندیانو د خلاصولو متضمن دی ،او پدې اړه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه ،آثار هم رانقل شوي، چې ده (ص)به اسیران خلاصول او د اسیرانو په خلاصولو کې به یې نورو ته هم حکم کاوه ،او پدې باندې د مسلمانانو تعامل هم جاري دی او اجماع هم پرې منعقده ده ،له بیت المال له پیسو څخه د اسیر خلاصول واجب دي، که چیرته بیت المال کې پیسې نه وي، نو بیا په ټولو

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

مسلمانانو باندې فرض دي، چې پخپلو پيسو باندې مجاهد او مسلمان اسيران راخلاص کړي .....) .

روح المعاني تفسير ۲۷ج۴۰۷ص کې دالبقرې سورت د(۱۷۷)نمبرآيت لاندې د(وفي الرقاب)په تفسير کې ليکي چې: أي آتي المال في تخليص الرقاب وفكاكها بمعاونة المكاتبين أو فك الأسارى.....يعنې نيکي هغه ده، چې دنورو صنفونو په څير خپلې ګراني پيسې دالله درضا لپاره داسيرانو په راخلاصولو کې مصرف کړي.

پر مجاهد ينو ديوه مسلمان مجاهد اسير له حقوقو څخه داهم ده ،چې دنوموړې اسير د کورنۍ کفالت وکړي،دهغه د کورنۍ ورځنيو اړتياوو تابيا ونيسي ،دماشومانو حفاظت ،تربيت ،تعليم اوروزنه له خپلو وجايبو څخه وګرځوي ،دمجاهد بندي دمال سامان اوناموس ساتنه وکړي ،دا دندې او حقوق که څه هم دټولو مسلمانانو وظايف دي، خو په ځانګړې توګه زيات مسؤليت هغه جهادي مشر ته راجع کيږي، چې دچاپه قيادت او مشرتابه کې جهاد ته تللی او دده په امارت کې ددښمنانانو سره داسارت زندان ته لويدلی ،داچې دا اسير دنوموړې دجهادي ديوان عسکراو ورسره په دفتر کې ثبت وو ،نو په شرعي لحاظ يې هم زيات مسؤليت هم ده ته راجع شو ،لکه په حديث کې چې فرمايي: عن زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ الجُهَنِيُّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم- قَالَ: « مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِى سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَهُ فِى أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا (سنن ابي داود ج۲ص۳۳۲) دلته حديث کې دا راغله، چې دوه کسان دمجاهد سره دغزا په اجر کې شريکان دي ،يوهغه چې ديوه غازي لپاره جهادي وسايل برابرکړي او دويم هغه څوک چې دغازي کورکې دهغه په غياب کې نيابت يا سرپرستي وکړي او دکورا ړتياوې يې پوره کړي ،دکور ،مال او ناموس ساتنه يې وکړي ،نودا هم داسې دی، لکه پخپله چې غزا ته تللی وي.نولکه چې ديوه مجاهد دکورنۍ کفالت په جهاد يا غزا کې شميرل کيږي او دا دمجاهد له حقوقو څخه دی، نو چې کله همدا مجاهد غازي دجهاد په لاره کې دهمدې کافرو اشغالګرو سره اسير شي ،نو څه فکر کوئ ،چې که څوک يې دکورنۍ کفالت او دماشومانو پالنه يا سرپرستي کوي آيا به دابه ګوندې دآزادمجاهد دتجهيز او نيابت په نسبت دډيرو اجرونو نه مستحق نوي !

لنډه داچې داسير مجاهد حقوق دا دي، چې نورملګرې مجاهدين يې له زندانه دخلاصون په مورد کې بې پايانه هڅې وکړي، ترڅو هغه داسلامي امت دا زمرې !! دنيواکګروګيدړانو !! له قفسونو څخه راخلاص شي، همداسې يې ډډير اهتمام ورحقوق داهم دي، چې دکورنيو په کفالت ،دده دماشومانو په پالنه اوروزنه ،داقتصادي مشکلاتو په حل ،دهغه داموالو په مصؤنيت اودهغه اهل وعيال ته په تمه او هيله ورکولو کې بې دريغه سعيه وکړي ،نوددې اميد له الله تعالی نه ډير شونی دی ،چې دهغې غازې غوندې داجرونو مستحق به دا هم وګرځي، چې کوم په مذکور حديث کې راغلي دي !

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

تحمل مشقات بخشی از جهاد است

(ابو صهیب حقانی هراتی)

از آنجا که کلمهٔ "جهاد" ماخوذ از جُهد؛ یعنی تلاش و کوشش و برداشت رنج و تکلیف است و اصطلاحا عموما به جنگیدن با دشمنان الله و رسول تعبیر می شود؛ اما نباید جهاد را منحصر در نفس کشتن دانست چون این تعریف بر خلاف واژه جهاد است بلکه برداشت و تحمل انواع رنج و زحمت در راه اعلای کلمه الله را نیز جهاد گفته و هر کسی که بخاطر آمدن نظام الهی رنج و تکلیفی را تحمل می کند مجاهد دانسته و در زمرهٔ مجاهدین برشمرد.

یعنی مجاهد است کسی که بخاطر جهاد خود را به خطر انداخته و آب و خوراک برای مجاهدین فراهم می کند، مجاهد است کسی که بخاطر جهاد از مجاهدین در مجلس های خصوصی و عمومی دفاع کرده و حرف سخت بعضی ها را تحمل می کند، مجاهد است کسی که بخاطر جهاد حرف بد می شنود، مجاهد است کسی بخاطر جهاد لت و کوب می شود، مجاهد است کسی که بخاطر جهاد شب و روز برای کامیابی مجاهدین پیش الله سر به سجده و دست به دعاء است، مجاهد است کسی که خبرهای خوش مجاهدین را به این و آن می رساند و مومنین را خوشحال می سازد، مجاهد است کسی که بخاطر جهاد، روابطش را با مزدوران امریکا قطع کرده و گوشه اختیار می کند، مجاهد است کسی که آرزوی جهاد دوشادوش برادران مجاهد خود را داشته اما بخاطر مشکلات و شرایط بد روزگار در سنگرها حاضر شده نمی تواند.

و بخشی از جهاد است کسی که بخاطر جهاد در سفرهای پر رنج و مشقت رفته و مشکلات طاقت فرسا را به جان و دل می خرد، بخشی از جهاد است تکلیف و رنج کسی که بخاطر جهاد از خانه و کاشانهٔ خود دور گشته و مسافر و مهاجر شهر و بیابان شده است، بخشی از جهاد است رنجی که بخاطر فعالیت های جهادی و یا عکس العمل های نامطلوب برخی انسان های فریب خورده به انسان رسیده و در دلش سختی و ناگواری پیدا می شود و روز و شب در فکر این است که چگونه جهاد راه الله را به نحو احسن و طریقهٔ مفید ترش به پیش ببرد.

آن کسی که پشت به دنیا زده و از شهوات و لذایذ فریبندهٔ دنیا دوری جسته و بخاطر الله سخت ترین مشقات را تحمل کرده و شب و روز خود را در ترس و هراس به سر برده و از تعقیب دشمنان الله در ایمن نمی باشد و دشمنان الله مثل سایه در تعقیب وی است تا به آن مجاهد گزند و آسیب برسانند و آن مجاهد هر لحظهٔ عمرش را در سختی و تکلیف

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

سپری می کند اگر شخصی با این اوصاف یاد شده مجاهد نباشد پس مجاهد کیست؟

همچنین تحمل رنج و تکلیف های روحی و روانی در دفع تهمت ها، دروغ ها، نیرنگ ها، دسیسه ها و پلان های رنگارنگ دشمنان که به انواع مختلف در این روزها شدت پیدا کرده و خنثی نمودن آنها با سختی های فراوان بخشی از جهاد مقدس است که الله متعال بندگان مومن و مجاهد خود را به انواع مختلف سختی ها، مورد امتحان و آزمایش قرار می دهد تا بندگان مومن و مجاهدش از بندگان غیر مومن و غیر مجاهدش تفکیک شوند.

جهاد واقعی را آنهایی می کنند که به خاطر الله متعال انواع رنج و تکلیف را با جان و دل خریده و به قربانی های بیشتر حاضر بوده و در میدان عمل از هیچ کوشش و مبارزهٔ دست نکشیده تا رضای الله شامل حال وی شده و نظام عدل الهی بر بندگان الله روی زمین الله قائم شود.

پس در جهاد، تحمل مشقات بخشی از جهاد است و هجرت و مشکلات آن، ترک آسودگی های دنیا و لذایذ آن، تحمل دوری از خانه و خانواده، خویشان و اقوام و همینطور در رفتن به سنگرها دوری فرزندان و عزیزان و دیدن انواع غیر قابل وصف مشکلات، نیز بخشی از جهاد مقدس است که الله متعال خود می داند که چگونه پاداش هایی به آن بندگان مومن و مبارزش عنایت کند.

تنها آرزوی مجاهد در تمام این مجاهدت ها رضامندی الله پاک است که ان شاء الله جای بسی امیدواری است که این لطف الله متعال شامل حال مجاهدین و کافهٔ امت اسلامی شود.

حسبنا الله و نعم الوکیل نعم المولی و نعم النصیر

که د کوم مریض د ځنکدن وخت وي ډاکتر ته څه کول پکار دي؟څه وخت چې په کوم مریض یا کوم بل کس د ځنکدن حالت ښکاره شو، نو ډاکتر او ولاړ بل انسان ته پکار دي، چې هغه انسان ته د لا اله الا الله ویلو تلقین وکړي، ځکه د ابو سعید الخدري رضی الله عنه نه روایت دی، چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واورېدل چې هغه وفرمایل:لقنوا موتاکم لا اله الا الله«

ژباړه:«هغه خلک چې د هغوی ځنکدن وي هغوی ته د لا اله الا الله د ویلو تلقین وکړی» (مسلم)د تلقین نه مراد دا نه دی،چې هغه ته ووایي چې: لا اله الا الله ووایه ستا مرګ را نژدې شوی دی، بلکې د هغه په مخکې په زوره لا اله الا الله ووایه ځکه کله چې هغه دا واوري بیا یې د دې ویل رایاد ېږي او دغسی یې بیا هغه وایي.که چېرته د کوم کافر ځنکدن وي بیا هغه ته د دې ویلو چې لا اله الا الله ووایه څه خبره نه ده، ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابو طالب چې څه وخت مرکېده رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:ای زما تره !الا اله الا الله ووایه زه به الله جل جلاله سره ستا د دغه لا اله الا الله په ویلو ټینګ ودرېږم»(بخاري مسلم)رسول الله صلی الله علیه وسلم یو یهودي هلک ته ورغی چې هغه د ځنکدن په حالت کې و او ورته یې وویل: ای هلکه !لا اله الا الله ووایه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته دا خبره ترهغې وکړه ترڅو چې هغه لا اله الا الله وویل او بیا هغه مړ شو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:د الله جل جلاله شکر دی، چې دا یې د جهنم د اورنه وساته (بخاري

(څوک چې د هغه چاسره ناست وي، چې د هغه ځنکدن وي هغه ته پکار دي، چې د الله جل جلاله په باره کې هغه ته د خیر او ښه ګمان کولو وایي، ځکه د ځنکدن حالت ډېر سخت وي او کېدای شي هغه په دې وخت کې د اولاد د راتلونکي، په هغه د قرض او نیستی فکر وي، نو پکار ده هغه ته دا وویل شي چې روزي، خوشحالي او هرڅه د الله جل جلاله په لاس کې دي او ستا بچي به هغه (الله عزوجل) نه خواروي ترڅو د

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دغلیم، پوچ تبلیغات، مکاره میډیا

او د اسلامي امارت بریمن فرهنګي مورچل :

(خلیل عبید)

نږدې ۱۵ کاله وړاندې امریکا او غرب په افغانستان دپوځي یرغل ترڅنګ دافغانانو په عقیدې، اذهانو او افکارو هم یرغل پیل کړ، که له یوې خوایي زموږ دولس دوژلو او زموږ دخاوري دلاندي کولو لپاره زهرجنې، سوځونکې او ویجاړونکې وسلې وکارولې، ورسره یې دافغان ولس داذهانو او فکر دتسخیر لپاره هم دزهرجنو اوپوچو تبلیغاتو دخپاروي منسجمه لړۍ ترکار لاندې ونیوله

په دې ترڅ کي یې سلګونه راډیوګاني، تلویزونونه، مجلې، ورځپاڼي، نشراتي بنسټونه او نور ډول ډول مبتذل مراکز تاسیس اوپه کار واچول

امریکایانو دخپلې مکاري میډیا او تالیڅټو رسنیو په وسیله دافغانانو دیني احساسات مجروح کړل ،ددیني شعایرو مسلسل سپکاوی ته یې دوام ورکړ، په افغاني دودونو یې ملنډي ووهلي ،دځوان نسل دبې لاري او له خپل دین او هیواد څخه دپردي کولو لپاره یې له هیڅ ډول دسیسو نه مخ وانه ړاوه ،دعصبیت او قوم پرستي اورته یې لمن ووهله، دهیواد دروحانیینو او علماوو یې په دوامره ډول استهزاګاني وکړی، فحشا بې دیني او دغربي کلتور ترویج ته یې نهایي هلې ځلي ترسره کړي ..

ددې ترڅنګ همدغو مغرضو رسنو او یک رخه میډیا ده دروان اشغال په اوږدو کې په ډیرې سپین سترګی دروغ وویل، کاذبې افواوې اوشایعي یې خپري کړي ،په امریکایي تلفاتو او زیانونو یې خاورې واړولې په ډالرو اخستل شوي بې ضمیره لیکوال او ژورنالیستان دجنګي تبلیغاتو داشاعت لپاره وګمارل ، څنګه چې امریکا اوناټو ورته وویل همغسي لیکني اوخبرونه یې ورکړل، د پوځي عملیاتو دځان په ګټه انعکاس لپاره یې پوځي ساحو ته په امریکایي چورلکو کې ورسره ولاړل ،مرمی ضد خولی اوواسکټونه یې ورسره واغوستل اودجګړې له ډګره یې لایف اوژوندي نشرات په دوامدار ډول خپاره کړل !!

خودالله تعالی کارونو اولورینو ته ګوره، لکه څنګه چې امریکا، ناټو اونورکفري شیطانان یې په پوځي میدان کې له خپلو ټولو حربو اوستراتیژیو سره ناکام اوشرمنده وګرځول اودبې وسو ،بې پیسو اوبې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وسلو مجاهدينو دمخلصانه قربانيو او فداكاريو په نتيجه كې ګونډه مال وګرځيدل، دغه ډول متعال رب جل جلاله، دمجاهدينو دفرهنګي ډګر دګوتې په شميرو قلمو الو، مجاهدو شاعرانو اودحماسو دخورې الحانه بلبلانو دغږ او حنجري په توره هم دغرب، امريكا اوهندوستان له بربنډ اوحيواني تهذيب څخه داسې غچ اوانتقام واخيست او توبه ګاريې وګرځول، چې دامريكا دلوی شيطاني لوډسپيكر (ازادی راډيو) ديو تحقيقاتي راپور په مټ چې تيركال يې دعامو افغانانو له څرګندونو برابركړی دي حقيقت ته غاړه كيښوده چې دطالبانو فرهنګي هڅې له مقابل لوري څخه څوچنده وسيعې، چټكې اوولس ته محبوبې دي

الله تعالی دنومورې ټولې په قلمونو، استعدادونو، ذهنونو، حنجرواوهنرونو كې دومره اغيزاوقوت ولوراوه چې غليم يې حيران دريان كړ چې طالبان اخيركومه تكنالوژي اوحكمت كاروي چې طالب څه وايي او ويانديان يې كوم خبرورکوي اويا اعلاميه نشروي، په ډيرلږ وخت كې نړۍ ته ورسيږي، سره لدې چې دنشر او اشاعت برښنايی ذرايع هم دغليم په اختيار كې دی خو بياهم دطالب غبرګون اوپه پيښو تبصره له مقابل لوري ډيره سريعه، مستنده اوزړه منونكي وي، دغه راز دمجاهدينو ديوې جهادي ترانې اونظم په اوريدلو سره په پرګنو كې دومره اثرغورځي چې ځوان، بوډا، ښځه اوماشوم ټول يادسرقربانی ته تياريږي، يادمال اويادمجاهدپه حق كې الله ته سرسرتوري اودهغود كاميابی لپاره بهترينې دعاګانې غواړي

نو ويلای شو چې امريكا او اشرابانې يې په څه ډول چې په نظامي ميدان كې مات اوګونډ شول او دامريكا اوناټو دهرډول وحشت اوبربريت باوجود په اتيا فيصده ځمكه داسلامي امارت ولكه او سلطه مستحكمه پاتې شوه، په فرهنګي او تبليغاتي ميدان كې هم داسلامي امارت بريمن مورچل خپل كردار او اغيز له مقابل لوري څو برابره زيات ګرم او موثر وساته، چې لامل يې مخامخ هغه الهي نصرت بولو چې امام المجاهدين سرور كاينات حضرت رسول اكرم صلی الله عليه وسلم دفرهنګي جهاد داغيزمنتيا او اثر په باب دخپل دور مجاهدو اديبانو اوشاعرانو ته داسې ويلي و («والذي نفس محمد بيده فكانها تنهضونهم بالنبل») مسند امام احمد جلد ۳ صفحه ۴۶۰(زمادې په هغه ذات سوګند وي چې دمحمد (ص) ځان اونفس دهغه په اختيار كې دی چې دكفارو په مقابل كې ستاسې غږ اوشعرونه داسې لګيږي اواثرلري لكه دغيصې دګوزارپه څير) اويالكه چې نبی اكرم صلی الله عليه وسلم خپل صحابي حضرت حسان رض ته وايي، "اهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ، وروح القدس مَعَكَ" په خپل كلام اوشعر كې دكفارو بدي بيانوه، ځكه حضرت جبرائيل له تاسره په دغه كار كې يوځای اوملګری دی

په پای كې دالله تعالی دربارته لاس اوچتوو چې زمونږ دجهادي فرهنګي سنګر دچلونكو غازيانو، مخلصينو اوكاركونكو چې، خاص دالله په خاطر دجهادزمزمې اوانګازي تاندي ساتي، دګلګون كفنه شهيدانو كارنامې اواتلولی بيانوي، مبارکو كورنيو ته يې دتسليت اوتسكين پيغام رسوي نو متعال رب دې ددوی ددغه ستر رسالت اوخدمت په عوض كې لويی بدلي او اخروي انعامات پرې ولوروي اومذيد خلوص دې پرې ولوروي، امين

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د برما مسلمانانو تاریخ

او روان وضعیت له لنډه کتنه!

لیکنه: عزالدین عماد

د برما څینې سیمو کې مسلمانان له پیړیو راهیسې اوسېږي، د اراکان سیمه، چې د مسلمانانو قاطع اکثریت پکې اوسېږي، د روهینګیا په نوم مشهوره ده، په دې سیمه کې اسلام د خلیفه هارون الرشید په وخت کې د مسلمانانو د تجارتي قافلو تګ راتګ او د هغوی د ښو اخلاقو او په معاملاتو کې د عدل او انصاف له وجې ورځپور شوی.

په برما کې د مسلمانانو تعداد تقریبا څه د پاسه یو میلیون دی.

په لومړیو کې به بودایي مشرانو د مسلمانانو ډېر عزت او درنښت کاوه، او د خپل حکومت په لوړو پوستونو کې به یې وظیفه ورکوله.

په دې منطقه کې مسلمانانو خپل قوي سلطنتونه درلودل چې د دې له جملې څخه یې یو د اراکان په نوم سلطنت ؤ، دوی به د خپلو دینارو یو ارخ باندې برمایي لفظونه لیکلي وو او په بل ارخ باندې عربي الفاظ. د دوی سلطان جلال الدین محمد شاه، چې د ۱۴۳۰ کال څخه یې سلطنت په لاس کې ؤ، په ۱۴۳۳ کال کې ومړ او همدا وه چې بودایانو یې څه منطقې تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

په ۱۷۸۵ کال کې بودایي سلطان (کونګ باونګ) د اراکان سلطنت باندې حمله وکړه او په نتیجه کې لکونه مسلمانان د برما یایي پوځیانو له ظلمه د بنګلادیش چیټاکونګ علاقې ته، کومه چې د برطانویانو په لاس کې وه، وتښتېدل.

په دوهمې نړیوالې جګړې کې جاپاني پوځیانو په برما او شاوخوا سیمو باندې حمله وکړه او په نتیجه کې برطانوي ځواکونه له سیمې ووتل او داخلي جګړه د برطانوي وفادارو ځواکونو، برمایي او جاپاني ځواکونو تر منځ ونښتله.

د برما په نورو سیمو کې د جاپاني ځواکونو له لوري په مسلمانانو باندې سخت ظلمونه وشول او همدا وه چې بنګلادیش او هندوستان ته په زرګونو مسلمانانو هجرت وکړ. په ۱۹۴۰ کې چې کله له هند څخه د پاکستان د جلا کېدو هڅې راوڼې وې، د روهینګیا مسلمانانو هم ورته پاڅون وکړ، تر دې وخته برما مستقل مملکت نه ؤ، د دوی یو ډلې غوښتل چې د برما په داخل کې یو داسې ایالت جوړ کړي، چې اداره به یې د مسلمانانو په لاس کې وي، خو د برما جزء به وي او بلې ډلې د پاکستان د

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

تحریک مشر محمد علي جناع څخه وغوښتل، چې د مسلمانانو منطقې د بنګلادیش سره یوځای کړي او د پاکستان یوه برخه یې وګرځوي.

محمد علي جناح د هغوې سوال ته مثبت ځواب ورنه کړ، په دې دلیل چې هغه نه غواړي د برما په داخلي امورو کې مداخله وکړي.

د جناح ددې کار نتیجه دا وه ،چې په ۱۹۴۷ کال کې د روهینګیا مسلمانانو د اراکان سیمه کې د روهینګیا مجاهدینو په نوم یو خوځښت جوړ کړ، تر څو یو آزاد او مستقل هېواد تر لاسه کړي.

په ۱۹۷۸ کال کې برمایي جنرال (نیون) د کنګ ډریګون په نوم غټ عملیات ترسره کړل، د کومې په نتیجه کې چې زرګونه مسلمانان د اراکان سیمې څخه وتښتېدل او بنګلادیش او د پاکستان کراچۍ ته یې هجرت وکړ.

همدا رنګه د بنګلادیش د آزادۍ په هڅو کې تقریبا یو میلیون بنګالي مسلمانان بیځایه شول او نیمایي څخه زیات یې اراکان سیمې ته وتښتېدل، خو جنرال نیون د بین المللي هڅو وروسته دوه لکه بنګالي مسلمانان له اراکان څخه وشړل.

برمایي حکومت په ۱۹۸۲ کال کې یوه مسوده تصویب کړه او د روهینګیا میشت بنګالي مهاجرین یې ټول خارجیان وبلل، خو په دې کې د روهینګیا اصلي اوسېدونکي هم شامل شول.

د روهنیګیا علماوو او سیاستدانانو دا دعوه وکړه، چې د روهینګیایي مسلمانانو پخوا په اراکان کې خپل سلطنتونه درلودل او تقریبا سلګونه کاله دا سلطنتونه د مسلمانانو په لاس کې وو، خو د دوی دا تاریخي ثابته دعوه د برما یې حاکمانو له خوا، په دې دلیل چې دا هسې زړې افسانې دي، رد شوه.!

د برما روهینګیایي مسلمانانو دا پرېکړه وکړه ،چې دوی د (روهینګیا) د لفظ په سر روغې جوړې ته تیار دي او که دا نوم د (اراکان مسلمانانو) ته یا (میانمار مسلمانانو) ته یا صرف (میانماریانو) ته بدل شي نو دوی حاضر دي چې دا ومني، خو له بده مرغه چا یې خبرو ته غوږ ونه نیوه.

په ۲۰۱۲ کال کې د روهینګیا د مسلمانانو قتل عام وشو، په زرګونه خلک په مختلفو طریقو د بودایانو له خوا قتل شول، قصابي پرې وشوه، کورونه او مسجدونه یې وران او وسوځول شو.

همدارنګه په لس ګونه زره مسلمانان بنګلادیش، تایلینډ ملایشیا او نورو منطقو ته په پټه مهاجر شول، خو له بده مرغه له څه ځنډ وروسته د بنګلادیش حکومت هم خپل بحري سرحد، په کوم به چې روهینګیایي مسلمانان بنګلادیش ته داخلیدل، بند کړ.

(په دې قتلونو کې برمایي پوځیانو ډېره ونډه لرله) له ۲۰۱۲ کال راهیسې تر اوسه پورې په زرګونه روهینګیایي مسلمانان هڅه کوي چې له اراکان څخه ملایشیا او اندونیشیا ته وتښتي او ددې لپاره یې له وړوکي کشتیو څخه کار اخیستی، خو زرګونو کسانو د کشتیو د چپه کیدو له امله ژوند له لاسه ورکړی، او بعضو د اوبو او خوراکي موادو د نه شتون او د محاصرې له امله ځانونه له کشتیو څخه بحر ته غورځولي.

هېڅ اسلامي هېواد په شمول د مالیزیا، اندونیزیا، بنګلادیش وغیره... او نړیوالو مرستندویه مؤسسو په خاصه توګه ملل متحد یا په اصطلاح یونایټډ نیشن تر اوسه له دغو مظلومو مسلمانانو سره هېڅ راز مرسته نه ده کړې، صرف تقریبا دوه کاله مخکې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داود اوغلو د دغو مسلمانانو د پوښتنې لپاره د يو لړ طبي او نورو مرستو سره اراکان ته ولاړ، چې تاسو يې ويډيو په يوټيوب کې موندلی شئ..

له بلې خوا ټولې غربي او غلامې ميډيا ګانې له دغو ظلمونو د خپرولو څخه چپه خوله پاتې دي ګويا چې په دې منطقه کې هيڅ کوم مهم خبر نشته.

(د مسلمانانو قتل و قتال د برطانوي استعمار نه وروسته، چې بودايان يې د مسلمانانو قتل ته وهڅول، شروع شوي، او تر دې ورځې پورې دوام لري)

د اراکانی سلطنت د پيسو ننبه:

په روهينګيايي مسلمانانو باندې د هر بنديزونه لګيدلي دي، له دې جملې څخه بعضې په لاندې ډول دي:

۱ـ هيڅ روهينګيايي مسلمان خپله ځمکه نه شي اخيستلای.

۲ـ خپل تجارت نه شي کولای.

۳ـ په پوځ کې هيڅ قسمه دنده نه شي ترلاسه کولای.

۴ـ په حکومت کې هم هيڅ ډول دنده نه شي ترلاسه کولای.

۵ـ په انتخاباتو کې خپله رايه نه شي ورکولای، او اوس يې تر ې په زوره پخواني د ملیت کارډونه ټول کړي او ټولوي يې، چې بيا هيڅ قسمه کارډ ونلري، او نه د کوم حق لپاره دعوه په محکمه کې دايره کړي.

۶ـ سختې او درنې مالي جريمې او په هر څيز باندې ډبل ګمرک لګول شوی.

۷ـ د هغوی د نفوسو د کمولو په خاطر مختلفې طريقې په کار اچول شوي لکه د دوه اولادونو څخه ډېر نه راوړل، له يو واده څخه ډېر نه کول، په کم عمر کې واده نه کول، د طلاقې شوې ښځې سره تر يو کال واده نه کول.

۸ـ هيڅ قسمه ديني کتابونه نه شي چاپ کولای الا دا چې له حکومت څخه اجازه واخلي.

۹ـ د عامه کار او مزدورۍ په خايونو کې هغه کسان نه ګمارل چې په اسلام څه نا څه برابر وي لکه اسلامي لباس اغوستونکيو، ږيره پريښودونکی وي.

۱۰ـ مړي په هاغه خايونو کې خښول کوم چې صرف حکومت خاص کړي وي.

۱۱ـ په مساجدو کې په لوړ آواز اذان نه کول.

۱۲ـ د مساجدو او مدارسو اداره به صرف د حکومت په کنترول کې وي.

علاوه پر دې، کوم خلک چې تايلينډ ته مهاجر شوي دي، په زندانونو کې اچول شوي دي، او هيڅا ته دا اجازه نشته چې له هغوی سره ووينې او د ۱۰۰۰ ډالرو په بدل کې يو زنداني خرڅېږي، او که څوک يې نه اخلي نو په دسته جمعي توګه قتلېږي، او په نړۍ موده کې په تايلينډ کې بعضې قبرونه پيدا شوي چې تر ۱۰۰ پورې روهينګيايي مسلمانان پکې خښ شوي وي.

هر کله چې مسلمانانو کې اتحاد ختم شوی، اختلافات او خپلمنځي جنګونه يې شروع کړي، د خپل مسلمان ورور نصرت يې پريښی نو الله تعالی پرې ذلت نازل کړی، او که چېرې مونږ په خپله خپل ځان بدل نه کړو، د خپلو حالاتو د تبديليدو لپاره جد و جهد ونکړو، چې په خوله پاتې شو نو الله تعالی به مو دا حالات بدل نکړي(ان الله لا يغير ما بقوم حتى يغيروا ما بانفسهم) سورة الرعد

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

پر مجاهد ینود خپلو شهیدو

ملکرو د یتیمانو حقوق!

(مفتي شاهد حقاني)

شک نشته، چې یتیم هغه څوک وي، چې په کوچنیتوب کې د پلار له مینې او شفقت څخه محروم شوی وي او د یوه خدای ج اسرې ته یې دعجز او اړ تیاوو ځولې نیولې وي ،نه یې د ګټې وتې څوک وي اونه یې پر سر د مهربانۍ دلاس ایښودلو اوخواږه غږ څوک وي ،دبې څوکۍ ،مسکنت اواحتیاجاتو تودې سیلۍ یې ګونه داسې خړه پړه کړې وي ،چې له ورایه یې پر څیره کې د یتیمۍ آثار بریښي ،ببر سر ،لوڅې پښې ،شکیدلی ګریبان ،زړې جامې خالي جیب اولالهانده ژوند، د یتیم هغه ډاګیزې نښې دي ،چې له هیڅانه پرې نه غلطیږي ،او بیادشهیدانو هغه پاتې یتیمان ،چې اوس یې هم دشهید پلار قاتلان په هیواد کې خپل هوسونه پوره کوي اودشوبلو ګردونه یې دشهید پلار پر شناختو لویږي!

هو کې!

دایتیمان پر عاموخلکواو مخصوصاً پر مجاهدینوډیر حقوق لري ،چې عام مسلمانان ،داسلامي تحریک پاسداران،مجاهدین اود کورنۍ او ګاونډمیشتې پر ګنې یې په اړه داسلامي او انساني ارزښتونوله مخې اړې بلل کیږي ،بنه دا راته بنکاري، چې داسلامي شریعت په رڼا کې یې ځینې حقوق برملا کړو، که نه نو ،خیریه ټولنې او بشریت پال وګړي، هم ورته په حقوقو قانع دي، مګر هغه حقوق چې ورته اسلام ور کړي، ډیر کامل اودانساني ذهنیت دقناعت وړ دي او بس.

داسلام ستر لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لاخوا لس سوه کاله مخکې دیتیم او بڼځې حقوق دومره له تاثیراتو او حساسیتونو څ بللي وو، چې خپل مبارک ځان یې هم ددومره کمالیه صفاتواوبې پایانه مهربانۍ سربیره ،ددوئ له حقوقو څخه په حرج کې بللی و. لکه چې د(سنن نسائي)په یوه حدیث کې چې راغې :

عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلي الله عليه وسلم اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ : حَقَّ الْيَتِيمِ وَحَقَّ الْمَرْأَةِ.)). أخرجه النسائي في الكبرى (المسندالجامع لابی الفضل ج ۴۷ص۸).

ژ: یا الله ! زه ددوو ضعیفانو د حقوقو له امله په حرج کې یم ،یو د یتیم د حق څخه او بل د بڼځې حق له څخه. سره ددې نه چې پخپله دانسانیت ستر ناجي حضرت محمدصلی الله علیه وسلم له ګران پلاره یتیم پاتې شوي وواو د یتیمۍ ستونزې پخپله کتلې وي، خو بیا هم د یتیم حقوق پر ځان دومره زیات بولي، چې آن خپل ځان هم تر ې په حرج کې ګڼي او د یتیم او بڼځې د حقوقو دادا کولو سوژه یوه پیچده او له حساسیتونو څخه ډکه موضوع ګڼي .

په (شرح الاربعین النوویة ج ۴۷ص۸) کې د(الانعام سورت /۱۵۱)آیت کریمه په تفسیر کې لیکي :چې دې آیت کریمه کې چې (وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ) د یتیم د حق ذکر ،د کیل پوره ور کولو خبره او په عهد دوفا کولو خبره ذکر شوه ،او بیا ورپسې پای کې متصلاً د اسې الله تعالی وفرمایل چې : وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} [الأنعام: ۱۵۳] یعنې دا تشریع او دا بیان او هغه چې رسول الله صلی الله

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

علیه وسلم یې ور ته تلاوت کوي ،چې ځینې یې ور ته حلال کړي او ځینې یې ور ته حرام کړي. همدا ډیغه یا مستقیمه لاره ده اوبس .نو دفوق الذکر آیت په یوه برخه چې الله داسې وفرمایل چې : وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ /داهم دیتیم له حقوقو څخه وشمیرل شوه، چې دنومورې مال او پیسو نه باید چې ،خلک ځانونه وساتي ،او دخپل ځان په ګټه یې مصرف نکړي .

څوک چې له یتیم سره شفقت او دهغه سره مرسته کوي، دا ددې ور ګړځي، چې جنت کې دحضرت محمد صلی الله علیه سره یې معیت او یوځای ژوند په نصیب شي، لکه یوه حدیث کې چې فرمایي : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ قَالَ مَنْ مَسَحَ رَأْسَ يَتِيمٍ لَمْ يَمْسَحْهُ إِلَّا لِلَّهِ كَانَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مَرَّتْ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ وَمَنْ أَحْسَنَ إِلَى يَتِيمَةٍ أَوْ يَتِيمٍ عِنْدَهُ كُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ وَفَرَّقَ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى.)). أخرجه أحمد ٢٥/٥ المسند الجامع لابی الفضل ج ٧ص ٣٦٦) ترجمه :له حضرت ابوامامه رض نه روایت شوی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې :چاچې دیتیم سر دالله تعالی درضا لپاره مسحه کړ ،نودده دلاس لاندې دهر ویښته په بدل کې به ور ته نیکۍ ور کړل شي اوچاچې له یتیمې او یا له هغه یتیم سره ښیګڼه وکړه، چې دده سره اوسي ،زه او هغه به په جنت کې ددې منځنۍ او مسواکې ګوتې غوندې یوځای یو)،دادی ومو کتل، چې له یتیم سره ښیګڼه کول او دده په سر دمینې لاس راکښل ،ددې سبب ګړځي ،چې داکافل الیتیم او محسن به جنت کې له ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یوځای اوسیږي .

همداسې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ابوهریره رض روایت کوي، چې هغه فرمایي : ښه کور په مسلمانانو کې هغه کور دی ،چې یتیم پکې وي او احسان ورسره وشي اوبد کور په مسلمانانو کې هغه کور دی، چې هغې کې یتیم وي او بد ورسره کیږي .لکه چې داسې فرمایي :عن أبي هريرة ، عن النبي قال:«خير بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يحسن إليه. وشر بيت في المسلمين بيت فيه يتيم يساء إليه».(مصباح الزجاجة لشهاب الدين البوصيري). په الضحی سورت کې دیتیم دحق په باره کې الله تعالی داسې فرمایي چې : {فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ / الضحى : ٩}؛یتیم ته قهر مه کوه . دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی حکم وکړ ،چې یتیم ته غصه مه کوه .مفسرین داهم دیتیم حق بولي چې څوک ور ته غصه ونکړي، بلکې ددې پرځای به پرې مهرباني کوي، لکه همدا خبره په (اضواء البیان تفسیر القران بالقران) لیکل شوي ده .

دامام سمرقندي په (بحر العلوم تفسیر) کې ددې کریمه آیت په تفسیر کې لیکي : كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ /الفجر/١٧)چې دوئ یتیمانو ته خپل حقوق نه ور کوي ،پیښه داسې وه، چې دامیه بن خلف سره ،یو یتیم و، چې دده حق به یې نه ور کاوه، نو داآیت کریمه یې په هکله نازل شواو دا دټولوخلکو لپاره وعظ شو . په فوق الذکر آیت کې دیتیمانوعزت کول دیتیمانوپه حقوقو کې شامل شو یعنې دیتیمانویوحق دادی، چې مونږ او تاسو یې عزت او قدرداني وکړواو په حقیره او سپکه ستر ګه ور ته ونه ګورو!

دپور تنیودلایلونه داسې نتیجه اخلوچې : چې دټولو یتیمانو عموماً او دخپلو شهیدو مجاهدینود راپاتې شویویتیمانوخصوصاً، حقوق دادي چې درناوی یې وکړو ،ددوئ اخلاقي روزنه او تربیت وکړو، لدوئ سره حسن معامله او حسن معاشره وکړو، ددوئ دمال او ځان حفاظت وکړو، دیتیمانو او ددوئ د کورنیو پالنه او دیتیم سره داسې بې کچه مینه وکړو، چې هغه هیڅکله دیتیم ولې او بې څوکې احساس ونکړي او دهغوئ اړتیاوې داسې پوره کړو، لکه دخپل کور چې پوره کوو ،نو بویه! چې څه حقوق به مودخپلو شهیدو ملګرو دیتیمانو پوره کړي وي !

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

تقوا واتحاد

دو اصل نیروی اجتماعی مسلمانان

(سعید بدخشانی)

یاأیها الذین آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون(۱۰۲) آل عمران

ترجمه: ای ایمان داران بترسید از خدا همان طور که باید از او ترسید ونمیرید مگر مسلمان.

بلی! یکی از نیروی احتماعی مسلمانان تقوا است، واو عبارت است از اجتناب از اموری که در نزد خداورسول الله صلی الله علیه وسلم ناپسند باشد وفضایل و برکاتی که در قرآن کریم وحدیث نبوی برای تقواوعده گردیده متعلق به همین درجه تقوا می باشد.

حضرت عبدالله بن مسعود، ربیع، قتاده وحسن بصری (حق تقوا) را چنین فرموده اند: هو ان یطاع فلایعصی ویذکر فلاینسی ویشکر فلایکفر.

یعنی حق تقوا آن است که در هر کار از خدا اطاعت شود وهیچ کاری بر خلاف اطاء ت او انجام نگیرد واو را همیشه یاد نموده فراموشش نکنند وهمیشه شکر او را به جا آورند وناسپاسی نکنند.

در غزوهٔ بدر که نخستین معرکهٔ کفر واسلام بود، وقتی که مسلمانان پیروز شدند ومقداری مال غنیمت بهدست آوردند، پس در بارهٔ توزیع آن میان صحابه کرام اختلاف نظر پیش آمد که مناسب مقام اخلاصواتفاق آنها نبود، در صورتی که زندگی یاران رسول الله سرشار از اخلاص وتقواواتحاد بود.

لذا خداوند متعال در پیرامون اتحاد وهمبستگی وعدم تنش واختلاف مسلمانان چنین ارشاد فرمودند: ((فاتقوا الله وأصلحوا ذات بینکم واطیعوا الله ورسوله إن کنتم مؤمنین)) سوره انفال.

یعنی پس بترسید از خدا وباهم آشتی کنید وخدا ورسول اورا فرمان برید، اگر ایمان دارید.

البته در این آیه مبارکه به صحابه ویاران راستین پیامبر گرامی اسلام خطاب شده است که از خدا بترسید وروابط ذات البینی خود را اصلاح کنید. (پس ما مسلمانان فعلی وکنونی اشد به خوف از خدا واصلاح ذات البینی ضرورت داریم اگر هراس از خدا جل جلاله نداشته باشیم وهمینگونه بغض وعداوت را از میان خویشدور نسازیم هیچ گاه متحد ومتفق نخواهیم شد.) در اینجا اشاره به آن واقعه ای است که در بارهٔ توزیعاموال غنیمت در میان اصحاب اتفاق افتاد وخطر آن بود که میان آنان اختلاف ونارضایتی رخ دهد، آنگاه اللهتعالی قضیهٔ دشوار توزیع ومصرف غنایم را بگونه سهل وصریح، حل کرد. به ا ی ترتیب رشته هایاخلاص وصمیمیت در

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

بین قلوب صحابه، آن پروانه گان شمع نبوت، مستحکم شده و سر انجام آتش تقواوخوف خداوآخرت در دلشان شعله ور تر گردید.
به هر حال تجربه گواه است که هر گاه تقواوترس خداوآخرت غالب شود، تنازعات بسیار بزر گوخطرناک در چند لحظه پایان می پذیرند ونفرت وعداوت به محبت واخوّت مبدل می شود.
مولانا رومی، احوال اهل تقوارا چنین به سلک نظم در آورده و توصیف می کند.

مر مرا چه جای جنگ نیک وبد کین دلم از صلحها هم می رمد.

یعنی، آنان به جنگ وجدال چه تمایلی دارند، بلکه آنها برای صلح وآشتی مردم هم فرصت ندادند زیرا هر کسی که قلب او به محبت وخوف وباد خدا مشغول باشد، فرصت نمی یابد که حتی روابط میان مردم رابر قرار سازد ودر جای دیگر می گوید: به سودای جانان زجان مشتغل به ذکر حبیب از جهان مشتل.
بنابراین به تدبیر تقواپرداخته ومی فرماید که به وسیله تقواروابط میان یگدیگ ر رااصلاح کنیدوبه تشریح هر چه بیشتر آن چنین ارشاد فرمودند کاملاً به اطاعت خداورسول بپردازید، اگر ایماندارید.
یعنی مقتضای ایمان اطاعت است واطاعت نتیجهٔ تقوا است وهر گاه اینها(ایمان وتقوا)در میان مردمومسلمانان پدید آید پس منازعات وکشمکش های مابین آنها خود بخود پایان یافته ودر دلها، بجای عداوتودشمنی، الفت ومحبت پدید می آید
اتحاد اصل دوم نیروی اجتماعی مسلمانان میباشد
خداوند حکیم در آیت ذیل به گونه بسیار بلیغ وحکیمانه نخست قانون ارتباط دس ت جمعی ونسخهء کیمیاوییکپارچگی انسانهارا بیان فرموده به اتحاد دستور داد واز هر گونه تشتّت وتفرقه برحذر داشت.
وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ. آلعمران(۱۰۳)
ترجمه: محکم بگیرید ریسمان خدارا همهء شما واز هم جدا نشوید وباد آورید احسان خدارا بر خود چونبودید باهم دشمن پس الفت انداخت در دلهای شما اکنون قرار گرفته اید از فضل او برادر وبودید شمابر کناره گودالی آتش پس نجات داد شما را از آن همچنین واضح می کند بر شما ایات خود را تاکهشما راه یابید.
اتحاد واتفاق اصلی است که همه مردم جه ان نسبت به آن اذعان داشته وآنرا محترم می شمارند، لذا اتحاد اصلیا ست که باهمه مذاب و مسالک وملل وفرقه ها سازگاری دارد، ه ر مکتب ومسلکی آنرا جزو قوانین ودستور العمل مفید خود قلمداد م ی کند وجهت اجرای آن توصیه می شود وهر گروه مردم رابه سوی آن دعوتمی دهد.
لذا رمز پیروزی مسلمانان در وحدت ویکپارچگی نهفته است، باید امت مسلمه این اصل بنیادی رادوباره احیانمایند تا که از گزند دشمنان کینه توز اسلام(یهودیت و نصرانیت) نجات ورهای یابند، در غیر آن خداینخواسته مصیبت و ذلت دامن گیر مسلمانان خواهدبود.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د جهاد فقهي مسائل

مفتي ابومحمد (حفظه الله)

۲۶

کفارو سره دجګړې داختتام اسباب :

کفارو سره دسولې کولو دویم شرط (د مسلمانانو مصلحت)!

له محاربو کفارو سره دروغې جوړې دویم شرط دادی، چې پدې سوله کې یو ډول مصلحت او دمسلمانانو خیر موجود وي، نو بیا به ورسره دمسلمانانو امام یا مشر سوله کوي ،که چیرته پدې روغه جوړه کې کوم مصلحت او خیر نه کتل کیده، نو بیا به یې ورسره نه کوي ،فقهاوو همدا خیر او مصلحت دروغې او مهادنې لپاره ضرور بللې.

په (الموسوعة الفقهية)کې لیکي:چې دهدنې یا سولې دعقد لپاره شرط دادی، چې پدې کې دمسلمانانو خیر وي او یوازې انتفاء دمفسدې د سولې عقد کولو لپاره کفایت نه کوي ،ځکه دا موادعت بلا مصلحته دی او دې ته ارتیا دالله تعالی ددې قول له وجه نه نشته چې فرمایي: {فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ} سورة محمد / ۳۵.

دسولې دعقد مصلحت مبیحه هرهغه شئ دی، چې په شرعي لحاظ دمسلمانانو لپاره غرض مقصوده متحقق کوي ،لکه یا پرعامو مسلمانانو یا مجاهدینو کې دقلت ،یا دوسلو او پیسو له جهته ضعف وي او متقابلاً دښمنان قوت کې وي ،یا داچې په مسلمانانو کې قوت وي ،خو په موادعه او مصالحه کې دبل جهته خیر وي ،لکه داچې ددې هیله وي، چې شاید دې سولې سره به له مسلمانانو سره دا کفار مختلط او ګډ شي اوددې اختلاط په برکت به دا کفار اسلام قبول کړي ،یادا مصلحت وي، چې شاید دوئ جزئې ته غاړه کښیږدي ،یادا چې دې سره به کفارو کې ضعف راشي اودا (هغه کفار چې سوله ورسره شوي) دوئ به نور دمسلمانانو خلاف دنورو پیاوړیو کفارو سره مرسته نه کوي ،یادا مصلحت وي دسولې له عقد څخه وروسته به دوئ دنورو کفارو خلاف مسلمانانو سره مرسته کوي او یادا سې نور مصلحتونه او ګټې چې له دې موادعې او مصالحت په پایله کې مسلمانانو ته رسیږي، هغه وجوهات دي، چې دسولې دویم شرط جوړوي او مسلمانان یې په شتون کې له کفارو سره سوله کولای شي ،که چیرته بیا داسې کومه ګټه او فایده پکې نوي، نو سوله بیا بې نتیجې ثابیږي او بیا یې کول نه صحیح کیږي،دافوق الذکر تول تفصیلي بحث پدې حوالو کې موجود دی :(بدائع الصنائع ۷/ ۱۰۸ ، فتح القدیر ۵/ ۴۰۴ ، البحر الرائق ۵/ ۸۵ ، تحفة المحتاج ۹/ ۳۰۵ ، مغني المحتاج ۴/ ۲۲۰ ـ ۲۲۱ ، الدسوقي ۲/ ۲۰۲ ، المغني ۸/ ۴۵۹ ، کشاف القناع ۳/ ۵۱۲)

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دسولې دريم شرط: دسولې عقد(ټرون) کې دنيټې تعيين !

له کفارو سره دسولې دمعاهدې دټرون پر وخت دنيټې په تعيين او يا نه تعيين کې، د اربعه مذاهبو دفقهاوو ترمينځ ژور اختلاف دی ،احناف علماء رح وايي:چې له کفارو سره سوله مطلقاً (دتعيين له نيټې پرته)هم جايز ده او مقيده(مؤقته) يا تر تاکلې نيټې پورې هم ورسره روا ده، خو بل طرف ته نورو دري واړو مذاهبو چې (الموسوعة الفقهية) کې ورته جمهور فقهاء ويل شوي ،داسې وايي چې له کافرو سره سوله يې دجنګ بنديز معاهده مطلقاً (دنيټې له تحديد يا تعيين نه په غير) نده روا، خوکه چيرته دسولې عقد کې وخت معلوم وي ،چې ترڅلورو مياشتو پورې ، تر لسو کالو پورې اويا زياتې او کمې مودې پورې به سوله پلي کيږي ،نودا بيا جايز ده ،لکه پدې عبارت کې چې: ((اخْتَلَفَ الْفُقَهَاءُ فِي اشْتِرَاطِ تَحْدِيدِ مُدَّةٍ مُعَيَّنَةٍ لِصِحَّةِ الْهُدْنَةِ: فَذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ - الْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ - إِلَى أَنَّهَا لا تَنْعَقِدُ مُطْلَقَةً ؛ لأَنَّ إِطْلاقَهَا بِلا تَحْدِيدِ مُدَّتِهَا يُؤَدِّي إِلَى تَرْكِ الْجِهَادِ حاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٢ ، مغني المحتاج ٤ / ٢٢٠ ، والمغني ٨ / ٤١٠ .)).

دفقهاوو ددې نظرياتو تفصيل داسې دی:

احناف فقهاء رح فرمايي:چې له کفارو سره دسولې ترون يا موادعه ،دمودې له تعيين څخه پرته يا مطلقاً هم صحيح ده او موقتاًيا دتاکل شوي مودې پورې هم صحيح ده ،احناف فقهاء رح فرمايي ،چې کله دمسلمانانو مشر يا امام پدې کې مصلحت وګوري،څو له اهل حربو سره دجنګ پر ځای سوله وکړي، نو دالله تعالی ددې قول په دليل دا جايز ده او کومه خبره پکې نشته ،لکه چې الله تعالی فرمايي { وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ}سورة الأنفال / ٦١ .دلته دا آيت کريمه که څه هم مطلق دی، خود فقهاء کرامو داجماع له مخې ددې راتلونکې آيت کريمه په وجه دمسلمانانو دمصلحت له رؤيې پورې مقيد شوی،او سوله يا موادعه هغه وخت له کفارو سره جوازپيدا کوي، چې دې مصالحت کې دمسلمانانو خير او مصلحت وي ، چې هغه آيت کريمه داسې دی چې: { فَلا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنْتُمُ الأَعْلَوْنَ} سورة محمد / ٣٥ .دالموسوعې څه عبارت ددې مسئلې په باب داسې دی: ((وَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّ عَقْدَ الْمُوَادَعَةِ يَصِحُّ أَنْ يَكُونَ مُطْلَقًا عَنِ الْمُدَّةِ ، وَيَصِحُّ أَنْ يَكُونَ مُؤَقَّتًا بِمُدَّةٍ مُعَيَّنَةٍ ، فَإِذَا رَأَى الإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ فِي ذَلِكَ الصُّلْحِ مَصْلَحَةٌ لِلْمُسْلِمِينَ فَلا بَأْسَ بِهِ ؛ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ/سورة الأنفال)

بل داچې رسول الله صلى الله عليه وسلم له اهل مکه وو سره، تر لسو کالو پورې دسولې ترون لاسليک کړی او ددوئ ترمينځ لس کاله وزبند شوی ،نودايې هم دجواز دليل دی ،احناف علماء وايي:چې له اهل مکه وو سره لس کلنه سوله ايزه معاهده ديوه مصلحت پر بناء شوې وه او داحتمي نده، چې هره سوله ايزه معاهده دې، ضرور تر لسو کالو پورې له کفاو سره وشي، بلکې دمسلمانانو خير ،ګټو او مصالحو ته په کتو به ورسره سوله کيږي او دا به کله په مياشتو وي او کله په کلونو ، کله به کمه وي کله به زياته اودا به دمصلحت پر محور اوړي را اوړي، داحنافو ساداتو دانظريات او دسولې په باب دمذهب ليد لوری په دې لاندينيو کتابونو کې مفصلاً کتلای شو:(تبيين الحقائق ٣ / ٢٤٥ ، والبحر الرائق ٥ / ٨٥ ، وفتح القدير ٥ / ٣٧١ .)

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په(الموسوعة الفقهية)کې ليکي چې جمهور فقهاء(مالکيان رح شوافع رح او حنابله رح)تول په يوه خوله وايي: چې له کفارو سره مطلقاً(دوخت له تعيين پرته) سوله يا موادعه نشي منعقد کيداى، ځکه چې له نيتې دتعيين څخه په غيرله کافرو سره دسولې ترون باندې دجهاد ترک راځي، نوبايد چې دترون وخت وزمان پکې معلوم وي ،لکه چې ددې مسئلې نور تفصيل (حاشية الدسوقي ۲ / ۲۰۲ ، مغني المحتاج ۴ / ۲۲۰ ، والمغني ۸ / ۴۱۰ .)کتابونوکې رانقل شوى دى.

دوئ دريواړو مذاهبو له احنافو پرته ،پدې کې سره اختلاف کړى، چې څومره وخت به له کفارو سره دسولې ترون کيږي او اندازه به يې څومره وي ،مالکيان حضرات رح فرمايي:چې د سولې يا مهادنې وخت بايد دمسلمانانو دامام يا اميراجتهاد ، رأيې او تصميم ته وسپارل شي اوهغه دې، دمصلحت په رنا کې پدې باب فيصله وکړي، خومندوب يا مستحب داده، چې له څلورومياشتو څخه د سولې وخت زيات نوي، ځکه کيداى شي ،چې دې موده کې مسلمانان قوت پيدا کړي، په هر صورت خبره دمسلمانانو دمصلحت پر محور راڅرخي ،که چيرته پکې ددوئ مصلحت نه و ،نو بيادا تحديد زماني هم نشته(حاشية الدسوقي ۲ / ۲۰۲ .).

شوافع فقهاء حضرات رح فرمايي: چې دسولې دترون دمودې اندازه توقيفي ده ،چې هغه څلور مياشتې ده اوداپه هغه صورت کې چې مسلمانانوکې قوت وي او سوله دمصلحت پر بنياد منعقد شي، چې هغه مصلحت داوي ،چې ياخو ددې اميد موجود وي، چې دا کفار به ايمان راوړي، ياداچې جزيه به قبوله کړي، خو بيا که چيرته مسلمانانوکې ضعف وو ،نو بيا به دسولې دعقد موده لس کاله يابه ددې نه کمه وي ،داځکه چې دمسلمانانودقوت پرمهال رسول الله صلى الله عليه وسلم له (صفوان بن اميه)سره دفتحې په کال مهادنه يادسولې څلور مياشتينى ترون ،دده دمسلمانيدو په هيله وکړ،چې دا مهال مسلمانان قوت کې وو ،خوچې کله مسلمانان دضعف په حالت کې وو ،نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دقريشو سره د(حديبيې) لس کلن ترون لاسليک کړ،دوئ وايي چې د قوت په حالت کې دڅلورومياشتو نه زيات او دمسلمانانودضعف په حال کې دلسو کالو څخه زياته له کفارو سره سوله ايزه معاهده نه صحيح کيږي، ځکه دا له خطر څخه خالي نه وي، نو پدې باندې اقتصار واجب دى، لکه پدې حوالو کې چې داتفصيل ذکر شوي:(مغني المحتاج ۴ / ۲۲۰ ، وتحفة المحتاج ۹ / ۳۰۵ ، والحاوي الكبير ۱۸ / ۴۰۲ .).

حنابله حضرات فقهاء رح وايي: چې کله دمسلمانانو امام يا امير په مسلمانانو کې دجنګ ضعف ،دغزا تکليف ،دکفارو دمسلمانيدو اسره يا جزيه منل يا بل کوم مصلحت وليد ، نو دې صورت کې له کفارو سره سوله جايزده ،دسولې وخت به معين وي، دا که لس کاله وي، که زيات وي او که کم ،خو ضرور داده، چې دسولې موده به تاکل شوي وي ،که متعين نشي، نو بيا ورسره مهادنه يا سوله نده روا ، ځکه چې دا سوله به بيا دتابيد او همېش لپاره وشي او دې سره به دجهاد ترک رامنځ ته شي او دا نا جايزده (كشاف القناع ۳ / ۱۱۲ ، وشرح منتهى الإرادات ۲ / ۱۲۵ ، ۱۳۲ .) نوربيا.....

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اسلامي امارت

د ولس ژغورونکي ځواک په توګه!

اسلامي امارت له تاسيس څخه تر اوسه ټولي تودې او سړې د اسلام د مقدس دين د حاکميت او د افغان مجاهد ولس د حفاظت په موخه ګاللي دي.

اسلامي امارت په داسي وخت کي تاسيس شو چي هيواد کي ملوک الطوايفي حاکمه وه، دولس سر، عزت، اولاد او شتمنۍ ته له هر طرف څخه جدي ګواښ متوجه ؤ، د اسلامي امارت مجاهدينو د خپلو سرونو په قربانولو او کمساري ستړياوو په ګاللو سره د موجودو ګواښونو سره داسي موفقه مبارزه وکړه چي په لنډ وخت کي يې ولس او هيواد ته د متوجه چلنجونو او ګواښونو څخه نجات ورکړ.

مثالي سوله يې راستنه کړه، شرعي نظام يې نافذ کړ، د مينې او خواخوږۍ فضاء يې خپره کړه، قومي او لساني توپيرونه يې له منځه يو وړه، تعليمي بنسټونه يې ورغول، کنډ وکپر سړکونه يې ترميم کړل، بريښنا يې فعاله کړه، حکومتي دستګاه يې فعاله کړه او مرکزي واکمني يې رامنځته کړه.

د امارت په واکمنۍ کي د صنعتي پارکونو د بيارغوني کارونه پيل شول، سوداګري څو چنده زياته شوه، بهرنيو هيوادونو ته هوايي الوتنې پيل شوې، حاجيان له خپل هيواد څخه په خپلو الوتکو کي د حج د فريضې د اداء کولو لپاره ولاړل، د بهرنيو هيوادونو سره مخابروي اړيکي فعالي شوې، د بې سيم شرکت سره لومړني هوکړه ليکونه ترسره شول، د تاپي پروژې د ترون او تطبيق ابتدايي تماسونه، چلنجونه، او توافقات د اسلامي امارت له

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

لوري په داسي ډول ترسره شول چي دافغانستان ا افغان ولس
ډيري ګټي پکي خوندي شوي وي.
داسلامي امارت پر پورته ذکر شوو لاسته راوړنو او بنيګڼو يو
شمېر متعصب ځيړونکي او ليکوال سترګي پټوي او داسلامي
امارت زرينه دوره د کمونيستي رژيم او پاتې کسالارۍ له
وختونو سره په يوه کټګوري کي يادوي، په واقعيت کي د غه
ډول ناسم قضاوت او تحليل دمځکنيو واقعيتونو سرچپه
تعبير او دتاريخ دګمراهۍ شعوري هڅه ده.
د واقعيتونو دناسم تعبير او تحليل بهير وروسته له هغه لا
پياوړی شو چي امريکا پرافغانستان يرغل وکړ، مشهور
ځيړونکي، ليکوال او ژورنالېستان يې په ډالري معاشونو
استخدام کړل، دوی دامريکايي ډالرو دهضم لپاره د افغان
ولس ويارونه پرديو ته منسوب کړل، د اشغال پرضد ولسي
پاڅون ته يې د نيابتي جګړې نوم ورکړ، د يرغلګرو په وړاندي
روانه مبارزه کي شهيدان شوي او ژوندي اتلان يې ترهګر
ونومول، دتاريخ د انحراف هڅي يې وکړې، دافغان هويت
دمسخي کوښښونه يې وکړل، د غربي منحط کلچر، دود او
دستور ترويج ته يې شپې روڼې کړې او د يرغلګرو ځواکونو
هرډول جنايتونو ته يې د توجيه پرتوګونه ور واغوستل.
افغان ولس د اسلامي امارت د کړنو د عيني شاهد په توګه
وينې چي مجاهدين د ورځي او شپې ددوی د عقيدې، نواميسو
او منافعو څخه دفاع کوي، ديرغلګرو ځواکونو او دهغوی د
اجيرو وسله والو له وحشت
اوبربريت څخه د ژغورې په لاره
کي خپل سرونه ښندي، ژندانونه
او شکنجې زغمي.
د يرغلګرو له لوري استخدام
شوي تبليغاتي چينلونه، تولني
او قلمونه کې افغانستان کي
روان ضعيت هر څومره برعکس
وښيي، خو افغان ولس هر څه د
سر په سترګو وينې، د سم او
ناسم تشخيص کولای شي، دحق
او باطل، ظلم او عدل تفکيک
کولای شي، خاينان او اتلان،
غلامان او د خپلواکۍ ترلاسه
کولو مبارزين ښه پيژني.
لنډه داچي افغان ولس ته ثابته
شوې چي اسلامي امارت يې د
سر، مال او ارزښتونو ساتونکی
ځواک دی، نو ځکه يې د مبارزې
نه بيليدونکی ملګری دی.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په اسلام کې د چارواکو او ولس تر منځ اړیکې

د چارواکو د مخالفت صورتونه!

(دکتور شیر علی ظریفی)

په قوانینو کې – چې د چارواکو اوامر ګڼل کیږي – دوه ډوله حکمونه وي: امریه حکمونه او تکمیلیه حکمونه.

د امریه حکمونو او قواعدو موخه د عامه نظم راوستل وي او د هغو ماتول او له پښو لاندې کول په ټولنه کې ګډوډي رامنځ ته کوي، زیان پې ټولو ته متوجه وي، نو د افرادو تر منځ د امریه قواعدو په خلاف توافق جواز نلري، په داسې مواردو کې اطاعت مطلق دی، استثناء نلري.

تکمیلیه حکمونه او قواعد د افرادو د چارو او عقدونو د تکمیل لپاره وي، د هغو په خلاف عمل کول ګډوډي نه راولي، د ټولنې ګټې په خطر کې نه اچوي، نو که اشخاصو په خپلو معاملاتو کې تشه پریښوده، دا تشه د همدې تکمیلیه حکمونو په واسطه ډکیږي، خو که دوی د هغو حکمونو په خلاف تړون سره وکړ، جواز لري او له اطاعت څخه سرغړونه نه ګڼل کیږي.

د بیلګې په توګه څوک نشي کولای د خپل نفس او د بدن د غړو په هکله له چا سره معامله وکړي، نو د خپل مرګ روا کول، د بدوډو پلورل او د وینې پلورل ناروا دي. او دا امریه حکمونه دي. د هغو په خلاف جوړ جاړی ناروا دی.

خو په قانون کې د مبیعې د بېلولو – لکه تلل – اجوره په بایع او د انتقال – لکه تر کوره وړل – اجوره پې په مشتري ده، خو که د پلور په تړون کې د دې حکم په خلاف شرطونه کیښودل شول، جواز لري. ځکه دا تکمیلیه حکمونه دي، امریه نه دي، که په تړون کې یادونه ورځخه ونه شوه، قانون پلی کیږي او که یادونه ورځخه وشوه، بیا د تړون مطابق عمل کیږي.

لکه مهر مثل، که په نکاح کې مهر ونه ټاکل شو، ښځې ته مهر مثل ورکول کیږي، د نکاح د عقد تشه پرې ډکیږي، خو که په عقد کې مهر وټاکل شو په همغه ټاکنه عمل کیږي او له شریعت څخه مخالفت نه ګڼل کیږي.

د موازي جوړښتونو حکم

د چارو واکمنان د شریعت د امر پر بنسټ د کفایي واجباتو د تر سره کولو لپاره ټاکل کیږي، لکه امنیت راوستل، د عدالت تامینول، د جهل او بېوزلۍ له منځه وړل او

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

داسې نور، څرنګه چې شرعي احکام ټولو مسلمانانو ته متوجه دي، د هغو پر ځای کول هم د ټولو دنده ده، خو کفایي واجبات باید د یوه نظم په واسطه تر سره شي، هر وګړی په ځانګړې توګه نشي کولی څو هم پولیس شي، هم قاضي، څو عدالت رامنځ ته کړي، او بیا هم معلم شي او هم طبیب څو ناپوهي ورکه او صحت خوندي کړي، نو خلک د شریعت د لارښوونې په رڼا کې د ټولنیزو واجباتو د تر سره کولو لپاره امیر ټاکي، هغه له ځان سره وزیران او نور موظفین استخدامووي، څو د ټولو مسلمانانو په استازیتوب دا کفایي واجبات تر سره کړي.

همدا د واکمنۍ موخه او همدا پې فلسفه ده، خو که په یوه وخت کې موازي جوړښتونه رامنځ ته شي او هر یو د واکمنۍ دعوا وکړي، دا دوه صورته درلودلی شي:

الف –له موجودې واکمنۍ سره د مخالفت او مقابلې صورت، چې دې ته بغاوت ویل کیږي او بغاوت په اسلام کې ځانګړي احکام لري، دلته په لنډه توګه ویلی شو چې اصل په بغاوت کې حرمت دی، خو په هغه صورت کې بغاوت لازم دی چې چارواکي په ښکاره کافران شي.

او که چارواکي مسلمانان وو، خو د واکمنۍ موخو ته پې شا کړه، د عامه ګټو پر ځای پې خپل ځانګړي مصالح په مخ کې واچول، فاسق شول، په ښکاره پې تقوا پرېښوده، په داسې حالت کې په ناروا وو کې په هیڅ ډول مرسته نه ورسره کیږي او له دوی سره د مقابلې او د دوی د راپرزولو په هکله په اسلامي فقه کې دوه نظره موجود دي:

لومړی نظر د جمهورو علماوو دی، هغه دا چې د دوی په کړنو دې صبر وشي، ځکه له عباده بن صامت –رضي الله تعالى عنه– څخه روایت دی:) بایعنا على السمع والطاعة في منشطنا ومكرهنا وعسرنا ويسرنا وأثرة علينا وأن لا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا كفراً بواحاً عندكم من الله فيه برهان)

ژباړه: موږ په اوریدلو او منلو بیعت کړی و، زموږ د نشاط او تیارتیا په وخت کې او زموږ د نه غوښتلو په وخت، د سختۍ او آسانۍ په وخت او په موږ باندې د بل چا د غوره ګرځولو په وخت او دا چې له چارواکو سره به منازعه نه کوو، مګر که ښکاره کفر مو ولید، چې له تاسو سره د الله تعالى له لوري په هغه کې ښکاره دلیل و.

نو یواځې په ښکاره کفر کې د چارواکو په خلاف پاڅون جواز لري، له دې رانښکته باید د دوی په ناخوالو صبر وشي.

البته ښکاره کفر د ځینو علماوو په نزد یواځې اعتقادي کفر ته نه، بلکې عملي کفر ته هم ورشامل دی[٢٠]، نو د کفر کارونه چې له اجتهادي مسائلو څخه نه وي، بلکې په ښکاره دا عمل د اسلام د احکامو خلاف وي، په داسې وخت کې د هغه په خلاف د حق اظهار واجب ګڼي.

او همداراز د دوی راپرزول احتمالي دي، ډیر ځله داسې پېښیږي چې زیات معنوي او مادي زیانونه مسلمانانو ته ورسیږي او د هغه په بدل کې مثبت بدلون رامنځ ته نه شي او یا بدلون رامنځ ته شي، خو د دې په لار کې د زیانونو په پرتله، د دې مثبت بدلون ګټې لږې وي.

دویم نظر د امام ابو حنیفة –رحمه الله– او ځینو نورو علماوو دی چې د

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

فاسقو او ظالمو چارواکو منل لازم نه دي ، ځکه الله تعالى فرمايي :
{وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ }[البقرة: ١٢٤
ژباړه : او هغه وخت رايـاد کړه چې ابـراهيم – عليـه السلام – د هغه څښتن په څو خبرو وازمايه ، نو هغه پې پوره تر سره کړې ، الله تعالى وويـل : زه دې خلکـو تـه امـام او پيشـوا ګرځـوم ، ابـراهيم وويـل : او زمـا لـه اولادونو نه هم ، الله تعالى وويل : زما منصب ظالمانو ته نه رسيږي.
همدا راز حسين او عبد الله بن زبير - رضي الله تعالى عنهم – د امويانو په خلاف پاڅون کړی و او ډير صالح سلف د حجاج پـه مقابـل کـې – چې د امويانو والي و – له ابن الاشعث سره دريدلي وو.

غوره لاره

څرنګه چې ډير داسې پـيښ شـوي چې د چارواکو پـه لـرې کولـو کـې فتنـې جـوړيږي ، جګړې رامـنځ تـه کيـږي ، نفسـونه او مالونـه تلـف کيږي ، نو د «يختار أهون الشرين) «پـه دوو شـرونو کې هغـه سپک غوره کيږي) ، قاعدې پر بنسټ بايد هغه لاره غوره کړی شي چې د عامو خلکو مصلحت پکې راجح وي ، کـه د ظـالمو چارواکو پـه عـزل (لرې کولو) کې زيانونه ډير وو او په بقا کې پې د هغو پـه نسبت زيـان لږ و ، نو د صبر خيار به غوره کيږي او که پـه لـږ زيـان د چارواکو لـرې کول ممکن و او په بقا کې پې زيانونه زيات وو ، نو د هغوی د لرې کولو اپشن (option) به غوره کيږي.
علامه حصفکي وايي : (يکره تقليد الفاسق ويعزل به إلا لفتنة [٢٢]) (د فاسق امام ټاکل مکروه دي او په فسق سره يې عـزل کـولی شـي ، مګـر که فتنه (ستره شخړه او جګړه) جوړيده.
څرنګه چې له راشدو خلفای راوروسته پـه اسلامي تـاريخ کې زيـات وخت ، د امام په ټاکلو ، ځارلو ، مشورو او عزلولو کې د امـت پـه حـق د زورورو حاکمانو له خوا خيټه اچول شوې او دا حق له امت څخه غصب شوی ، واکمني ميراثي شوې او د قيصر او کسرا په پلونو پـه دې هکلـه تګ شوی ، نـو دا ډيـره غـوره ده چې داسې لارې چارې راوايستل شي ، چې دا تشه له منځه يوسي.
که په اساسي قانون کې د چارواکو د ټاکلو ، ځارلو او عزلولـو پـه هکلـه ، راتلـونکي حـالات پـه سـمه توګـه پيشبيني شي او د ټولو ناوړه حالاتو لپـاره د حـل معقـولې لارې وټاکـل شـي ، د رئـيس جمهـور صـفات او صلاحيتونه معين شي ، نـو د ډيـرو ناخوالو مخه نيول کيدای شي.
هغـــه صـــفات ، صـــلاحيتونه او شرطونه چې شريعت بيان کړي او امريـه قواعـد ګنـل کيـږي ، لکـه د رئـيس جمهـور اسـلام ، عـدالت ، وړتيا او نـور ، دا پـه خپـل حال پاتـه دي او د شريعت له مخې پې رعايت لازمي دی.
نور شرطونه چې په شريعت کې پې يادونـــه نـــه ده شـــوې ، لکـــه د صـلاحيتونو تقييـد ، د معـين ډول شـوری الـزام ، د رياسـت د مـودې ټاکـل ، د رئـيس جمهـور د ټـاکلو ، ځارلو او عزلولـو څرنګوالی او داسې نور ، کيدای شي په اساسي قـانون او نـورو قوانينـو کـې بيـان شـي. او څرنګـه چـې اساسـي قـانون د يـوه هيواد د اوسيدونکو تر منځ د تـړون

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

حیثیت لري، نو ټول هغه مواد پې چې له شریعت سره په ټکر کې نه وي، واجب الاتباع دي[۲۳].

الله تعالى فرمايي: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ} [المائدة: ۱] ژباړه: اې مؤمنانو! په تړونونو وفا وکړئ.

او فرمايي: {وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا} [الإسراء: ۳۴] ژباړه: او په تړون وفا وکړئ، بېشکه د تړون پوښتنه کيږي.

څرنګه چې اساسي قانون دیوه هیواد داتباعو تر منځ یو تړون ګڼل کيږي، نو د هیواد په هر وګړي لازمه ده چې د دې قانون اطاعت وکړي.

ب – له موجودې واکمنۍ سره د همکارۍ او اطاعت صورت، لکه د ګوندونو او ټولنیزو ارګانونو جوړول، عامه رسنۍ ایجادول، خیریه بنسټونه رامنځ ته کول، خصوصي تعليمي، تحصيلي او صحي مرکزونه جوړول او داسې نور د عامه ګټو خوندي کوونکي بنسټونه، دا ټول چې د دولت د قوانینو په چوکاټ کې وي، نه یوازې دا چې مشروعیت لري بلکې د نیت پر بنسټ الله تعالى اخروي اجر هم پرې ورکوي، ځکه په (وتعاونوا على البر والتقوى) کې داخل امور دي.

په دې ځای کې یو اصل ډېر د پام وړ دی، هغه دا چې د ښکته چارواکو د اطاعت مشروعیت د لوړپوړو چارواکو په اطاعت پورې تړلي، له رئیس جمهور څخه د راښکته خلکو اطاعت هلته مشروع دی چې د رئیس جمهور د امر پر خلاف نه وي، نو که دولت یو ډول امر وکړي او د ګوند، ټولنیز ارګان او یا هر بل مشروع بنسټ مشر بل ډول امر وکړي، د رئیس جمهور د امر منل لازم او د نورو اطاعت د هغوی پر خلاف حرام دی، ځکه د دوی د امارت مشروعیت د رئیس جمهور له واک څخه سرچینه اخلي، نو د هغه د اوامرو خلاف کړنې پې نه مشروعیت لري او نه په بل چا الزام راولي.

د چارواکو نافرماني

د بحث په سر کې له یادو شویو نصوصو څخه څرګندیږي چې دچارواکو نافرماني جواز نلري، مګر په هغه صورت کې چې په معصیت امر وکړي او د معصیت امر او نهي پې نه منل کېږي.

له رسول الله –صلى الله عليه وسلم– څخه روایت دی چې فرمايي: "السمع والطاعة حق مالم يؤمر بالمعصية فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة

ژباړه: اوریدل او منل حق دي، تر څو چې په ګناه امر نه وي ورته شوی، کله چې په ناروا امر ورته وشو بیا نه اوریدل شته او نه منل.

خو که مسأله اجتهادي وه او د چارواکو نظر هم له اسلامي نظریاتو څخه بهر نه و، نو بیا له اولوالامر سره منازعه ناروا ده، ځکه په اجتهادي چارو کې د اولو الامر اطاعت لازم دی. پخوا په دې هکله له بدائع الصنایع څخه نص رانقل شوی وه.

مأخذونه:

– [۱]صحيح البخاري د طوق النجاة چاپ ۴ ټوک ۵۰ مخ.

– [۲]صحيح البخاري -طوق النجاة ۴ ټوک ۵۰ مخ.

– [۳]متفق عليه صحيح البخاري -طوق النجاة چاپ: ۹ ټوک ۴۷ مخ، صحيح مسلم –عبد الباقي: ۳ ټوک ۱۴۷۰ مخ.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

– [۴]نووي د مسلم په شرحه کې وايي: والمراد بالكفر هنا المعاصي ومعنى عندكم من الله فيه برهان أي تعلمونه من دين الله تعالى ومعنى الحديث لا تنازعوا ولاة الأمور في ولايتهم ولا تعترضوا عليهم إلا أن تروا منهم منكرا محققا تعلمونه من قواعد الإسلام، فإذا رأيتم ذلک فأنكروه عليهم وقولوا بالحق حيث ما كنتم. (شرح النووي على مسلم ۱۲ ټوک ۲۲۹ مخ)

– [۵]صحيح البخاري - طوق النجاة چاپ: ۹ ټوک ۶۲ مخ.

۶ – صحيح مسلم د بيت الأفكار الدولية چاپ ۷۶۸ مخ، د حديث شمیره: ۱۸۳۷.

۷ – متفق عليه، صحيح البخاري: صحيح البخاري - طوق النجاة ۹ ټوک ۴۷ مخ، صحيح مسلم د حديث شمیره ۱۸۴۹.

– [۸]حاشية ابن عابدين: ۷ ټوک ۵۳ مخ.

– [۹]شرح النووي على مسلم ۱۲ ټوک ۲۲۲ مخ.

– [۱۰]رد المحتار: ۱ ټوک ۵۴۸ مخ.

– [۱۱]جمهور علما د قريشي توب صفت د ستر امامت لپاره شرط ګڼي، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (الأئمة من قريش) امامان له قريشو څخه دي، ځينو نورو بيا دا حکم معلول ګڼلی، وايي: په هغه زمانه کې په قريشو کې عصبيت او غلبه (يو موټی والی او په نورو برلاسي) وه، نو که په نورو زمانو او ځايو کې، که په نورو خلکو کې همدا دوه صفتونه موجود شي، د امامت شرط پکې پوره کيږي. ابن خلدون په مقدمه کې وايي: (فإذا ثبت أن اشتراط القرشية إنما هو لدفع التنازع بما كان لهم من العصبية والغلب، وعلمنا أن الشارع لا يخص الأحكام بجيل ولا عصر ولا أمة، علمنا أن ذلک إنما هو من الكفاية، فرددناه إليها، وطردنا العلة المشتملة على المقصود من القرشية، وهي وجود العصبية، فاشترطنا في القائم بأمور المسلمين أن يكون من قوم أولي عصبية قوية غالبة على من معها لعصرها، ليستتبعوا من سواهم وتجتمع الكلمة على حسن الحماية)مقدمة ابن خلدون: ۲۱۷ مخ(

– [۱۲]الدر المختار ۱ ټوک ۷۵ مخ.

– [۱۳]عن علي قال: بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم سرية واستعمل عليهم رجلا من الأنصار وأمرهم أن يسمعوا له ويطيعوا فأغضبوه في شيء فقال: اجمعوا لي حطبا، فجمعوا له، ثم قال: أوقدوا نارا، فأوقدوا، ثم قال: ألم يأمركم رسول الله صلى الله عليه وسلم أن تسمعوا لي وتطيعوا؟ قالوا: بلى، قال: فادخلوها، قال: فنظر بعضهم إلى بعض، فقالوا: إنما فررنا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم من النار، فكانوا كذلک وسكن غضبه وطفئت النار فلما رجعوا ذكروا ذلک للنبي صلى الله عليه وسلم فقال لو دخلوها ما خرجوا منها إنما الطاعة في المعروف. متفق عليه، واللفظ لمسلم، صحيح البخاري - د طوق النجاة چاپ ۹ ټوک ۶۳ مخ. صحيح مسلم ۱۸۴۰ مه ګڼه حديث.

– [۱۴]حاشية ابن عابدين ۲ ټوک ۱۷۲ مخ.

– [۱۵]حاشية ابن عابدين، ۲ ټوک ۱۸۵ مخ.

– [۱۶]ابن عابدين وايي: أمر الخليفة لا يبقى بعد موته، ... وبنى

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

عليه أنه لو نهى عن سماع الدعوى بعد خمس عشرة سنة لا يبقى نهيه بعد موته. (حاشية ابن عابدين ٢ تهوك ١٧٢ مخ)

- [١٧]البحر الرائق ٥ تهوك ١٥٢ مخ. او همداراز دا جمله په بدائع الصنائع ٧ تهوك ١٤٠ مخ كې هم راغلي.

- [١٨]بدائع الصنائع ٧ تهوك ٩٩ مخ.

- [١٩]صحيح البخاري - د طوق النجاة چاپ ٩ تهوك ٤٧ مخ.

- [٢٠]امام نووي وايي: والمراد بالكفر هنا المعاصي ومعنى عندكم من الله فيه برهان أي تعلمونه من دين الله تعالى، ومعنى الحديث: لا تنازعوا ولاة الأمور في ولايتهم ولا تعترضوا عليهم إلا أن تروا منهم منكرا محققا تعلمونه من قواعد الإسلام، فإذا رأيتم ذلك فأنكروه عليهم، وقولوا بالحق حيث ما كنتم، وأما الخروج عليهم وقتالهم فحرام بإجماع المسلمين، وإن كانوا فسقة ظالمين، وقد تظاهرت الأحاديث بمعنى ما ذكرته، وأجمع أهل السنة أنه لا ينعزل السلطان بالفسق، وأما الوجه المذكور في كتب الفقه لبعض أصحابنا أنه ينعزل وحكى عن المعتزلة أيضا فغلط من قائله، مخالف للإجماع، قال العلماء: وسبب عدم انعزاله وتحريم الخروج عليه ما يترتب على ذلك من الفتن واراقة الدماء وفساد ذات البين، فتكون المفسدة في عزله أكثر منها في بقائه، قال القاضي عياض :أجمع العلماء على أن الإمامة لا تنعقد لكافر، وعلى أنه لو طرأ عليه الكفر انعزل، قال وكذا لو ترك إقامة الصلوات والدعاء إليها، قال: وكذلك عند جمهورهم البدعة، قال: وقال بعض البصريين: تنعقد له، وتستدام له، لأنه متأول، قال القاضي: فلو طرأ عليه كفر وتغيير للشرع أو بدعة خرج عن حكم الولاية، وسقطت طاعته، ووجب على المسلمين القيام عليه وخلعه ونصب أمام عادل إن أمكنهم ذلك، فإن لم يقع ذلك إلا لطائفة وجب عليهم القيام بخلع الكافر، ولا يجب في المبتدع إلا إذا ظنوا القدرة عليه، فإن تحققوا العجز لم يجب القيام، وليهاجر المسلم عن أرضه إلى غيرها، ويفر بدينه،

قال: ولا تنعقد لفاسق إبتداء، فلو طرأ على الخليفة فسق قال: بعضهم يجب خلعه إلا أن تترتب عليه فتنة وحرب وقال جماهير أهل السنة من الفقهاء والمحدثين والمتكلمين لا ينعزل بالفسق والظلم وتعطيل الحقوق ولا يخلع ولا يجوز الخروج عليه بذلك بل يجب وعظه وتخويفه للأحاديث الواردة في ذلك.

قال القاضي وقد ادعى أبو بكر بن مجاهد في هذا الاجماع، وقد رد عليه بعضهم هذا بقيام الحسن وبن الزبير وأهل المدينة على بني أمية وبقيام جماعة عظيمة من التابعين والصدر الأول على الحجاج مع بن الأشعث وتأول هذا القائل قوله: أن لا تنازع الأمر أهله في أئمة العدل، وحجة الجمهور أن قيامهم على الحجاج ليس بمجرد الفسق بل لما غير من الشرع وظاهر من الكفر، قال القاضي: وقيل أن هذا الخلاف كان أولا ثم حصل الإجماع على منع الخروج عليهم والله اعلم (شرح النووي على مسلم (١٢/ ٢٢٩)

ابن حجر وايي: وقال غيره المراد بالإثم هنا المعصية والكفر فلا يعترض على السلطان إلا إذا وقع في

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

الكفر الظاهر والذي يظهر حمل رواية الكفر على ما إذا كانت المنازعة في الولاية فلا ينازعه بما يقدح في الولاية الا إذا ارتكب الكفر وحمل رواية المعصية على ما إذا كانت المنازعة فيما عدا الولاية فإذا لم يقدح في الولاية نازعه في المعصية بأن ينكر عليه برفق ويتوصل إلى تثبيت الحق له بغير عنف ومحل ذلك إذا كان قادرا ونقل بن التين عن الداودي قال الذي عليه العلماء في أمراء الجور أنه إن قدر على خلعه بغير فتنة ولا ظلم وجب والا فالواجب الصبر وعن بعضهم لا يجوز عقد الولاية لفاسق ابتداء فان أحدث جورا بعد أن كان عدلا فاختلفوا في جواز الخروج عليه والصحيح المنع إلا أن يكفر فيجب الخروج عليه)فتح الباري –ابن حجر ١٣ توک ٨ مخ.

– [٢١]ابو بكر جصاص د دې آيت په تفسير کې وايي: فلا يجوز أن يكون الظالم نبيا ولا خليفة لنبي ولا قاضيا ولا من يلزم الناس قبول قوله في أمور الدين من مفت أو شاهد أو مخبر عن النبي ص –خبرا فقد أفادت الآية أن شرط جميع من كان في محل الإئتمام به في أمر الدين العدالة والصلاح... لأن عهد الله هو أوامره فلم يجعل قبوله عن الظالمين منهم وهو ما أودعهم من أمور دينه وأجاز قولهم فيه وأمر الناس بقبوله منهم والإقتداء بهم فيه ... ولا فرق عند أبي حنيفة بين القاضي وبين الخليفة في أن شرط كل واحد منهما العدالة وأن الفاسق لا يكون خليفة ولا يكون حاكما كما لا تقبل شهادته ولا خبره لو روى خبرا عن النبي صلى الله عليه وسلم ... وكان مذهبه مشهورا في قتال الظلمة وأئمة الجور ولذلک قال الأوزاعي احتملنا أبا حنيفة على كل شيء حتى جاءنا بالسيف يعني قتال الظلمة فلم نحتمله. (أحكام القرآن للجصاص: ج ١ ص ٨٥)

– [٢٢]رد المحتار: ١توک ٥٤٨ مخ.

– [٢٣]امام ابن تيميه په الفتاوا الكبرى دريم توک ٤٧٢ مخ کې وايي: وبالجملة فجميع ما ينفع بين الناس من الشروط والعقود والمحالفات في الأخوة وغيرها ترد إلى كتاب الله وسنة رسوله، فكل شرط يوافق الكتاب والسنة يوفى به، " ومن اشترط شرطا ليس في كتاب الله فهو باطل ؛ وإن كان مائة شرط. كتاب الله أحق، وشرطه أوثق " فمتى كان الشرط يخالف شرط الله ورسوله كان باطلا : مثل أن يشترط أن يكون ولد غيره ابنه، أو عتق غير مولاه، أو أن ابنه أو قريبه لا يرثه، أو أنه يعاونه على كل ما يريد، وينصره على كل من عاداه سواء كان بحق أو بباطل، أو يطيعه في كل ما يأمره به، أو أنه يدخله الجنة ويمنعه من النار مطلقا، ونحو ذلک من الشروط وإذا وقعت هذه الشروط وفى منها بما أمر الله به ورسوله : ولم يوف منها بما نهى الله عنه ورسوله. وهذا متفق عليه بين المسلمين. وفي المباحات نزاع وتفصيل ليس هذا موضعه. وكذا في شروط البيوع، والهبات، والوقوف، والنذور؛ وعقود البيعة للأئمة؛ وعقود المشايخ؛ وعقود المتآخيين، وعقود أهل الأنساب والقبائل، وأمثال ذلک؛ فإنه يجب على كل أحد أن يطيع الله ورسوله في كل شيء؛ ويجتنب معصية الله ورسوله في كل شيء؛ ولا طاعة لمخلوق في معصية الخالق.

- (٢٤) صحيح البخارى - دطوق النجاة چاپ، ۴ توک، ۴۹ مخ.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د شهید مولوی امرالله رهبر ژوند او شهادت

الحمدالله الذی اعزالاسلام بنصره واذل الشرک والکفربقهره والصلوة واسلام علی النبی الذی اعلی متار السلام بسیغه وعلی اله اوصحابه الذین اهتدوایهدیه

امابعد: د دوه زره څوارلسم کال داګست د میاشتی په دوه ویشتمه نیټه رسنیو یو اند یښنه زیږونکي خبرخپور کړ، چې دلوګر ولات په بابوس سیمه کی قومندان امرالله له خپلو ملګرو سره په شهادت رسیدلی.

د نوموړی شهادت اګر که په مطبوعاتو کی د ورځنیو عادی خبرونو په څیر بدرګه شو، خو د نومیالی مجاهد شهادت کومه عادی پیښه نه وه، بلکی دلوګر او سیمی د مجاهدینو لپاره یو درد ونکی او نه هیریدونکی خبر وه، چی تول یی د خفګان په تغر کینول.

نوراځی چی د محترم شهید له ژوند، حالاتو او کارنامو سره سو څوشیبی وخنډ یرو او د یاد په تازه کولو سره یې د هجران تنده ماته کړو.

پیدایښت اوزده کړه:

شهید مولوی صاحب امرالله رهبر د عبدالطیف څوی د لوګر ولایت مرکز اړوند بابوس سیمی اوسیدونکی وه چی په ۱۳۵۷ قمری کال کی په یوه دینداره کورنی کی دی فانی دنیا ته ستر ګی وغړولی

نوموړی چی د درس ویلو جوګه شو، نو په دینی زده کړو یی پیل وکړ، چی لومړنی زده کړی یی دخپل کلی له امام څخه ترسره کړی او بیا دلوګر ولایت جامعه عمری ته ولاړ، هلته د لومړیو درجو لوستلو وروسته د جلال اباد نجم المدارس ته او وروسته وروسته د کابل مشهوری مدرسی جامعه فاروقیه ته ولاړ، او همدا رنګه یی د ګاونډی هیواد پاکستان په مختلفو مدارسو کی زده کړی وکړی، چی بالاخره یی د مبارکو احادیثو د لوستلو او دستار فضیلت په موخه عبدالله ابن مسعود مدرسی ته ولاړ او هلته یی لویه دوره د سیمی له مشهود شیخ الحدیث عبدالغنی صاحب څخه ولوستله چی له بده مرغه د درس په اخری میاشتو کی اسیر شو او د دستاربندی د مراسمو شپی او ورځی یی په زندان کی تیری کړی.

د طالبانو په تحریک کی ونډه:

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په ۱۳۷۳ قمری کال کی چی کله د طالبانو سپیځلی تحریک را څرګند شو نو په لمړنیو کلونو کی یی شهید (رهبر) د کم عمر څښتن و، خو چی کله د ځوانی بڼ یی زرغون شو نو رهبر شهید له علمی زده کړو او مصروفیتونو سره سره د شر او فساد په خلاف په مبارزه کی ونډه واخیسته چی د هیواد په مختلفو ولایتونو کی یی خدمت ترسره کړ او ترهغه په دغه مبارزه کی مصروف و، چی تحریک د نړیوالو صلیبی اشغالګرو د اشر په نتیجه کی غرونو او رغونو ته وخوت.

دامریکایانو په خلاف جهاد کی:

چی کله صلیبیانو د خپل کفر او الحاد د پلی کیدو په موخه په ګران هیواد یرغل راوړ، نو نومورې له خپلو مخلصو ملګرو سره د جهاد په لومړی صف کی په پوره میرانی سره ودرید، چی ان خپل کور یی د مجاهدینو لپاره د مرکز په توګه وکاراوه له همدی املـه به یی په کور هر وخت د تالاشی او چاپو بهیر روان وو.

نومورې یو څه موده وروسته د مجاهدینو د سالار او قومندان په توګه راڅرګند شو، رهبر شهید چی د لوړو اخلاقو، نرمی لهجی، وړین تندی او نبوی سیرت او صورت څښتن وو نو له ملګرو سره یی بی ساری مینه وه له همدی کبله یی ملګری هم مخلص، زړور او پوره اطاعت درلودنکی وه چی په لنډه موده کی د خپلو توندو عملیاتو په نتیجه کی امریکایانو او دهغوی اجیرانو ته مطلوب شو او هر وخت به دښمن ورڅخه په ویره کی وه د یادونی وړ ده چی رهبر شهید د دغه ایثار او قربانی په سلسله کی د خپل اسارت په دوران کی خپل ځای ناستی ګران محترم ورور دینی عالم مولوی صاحب کریم الله کامران وتاکه چی د یرغلګرو په خلاف یی خپل د اسیر ورور لاره تعقیب او په دښمن یی تندریز عملیات ترسره کړل چی بالاخره د وحشی امریکایانو له خوا په یوه چاپه کی په شهادت ورسید چی له شهادت او تدفین وروسته یی په کرامت ټول لوګر شاهد وه.

د رهبر اسارت:

د لوی دوری د اختتام څخه شاوخوا یوه میاشت وړاندی د ۱۳۸۷ قمری کال د حمل د میاشتی په ۱۵ نیټه نومورې د ثمرخیلو پاتک جلال اباد کی د اجیرو غلامانو له خوا اسیر شو، دری کاله یی زندان تیرکړ، ګڼ تکالیف یی وګالل او تراخره په خپل عزم کلک ولاړ و، چی بلاخره د ۱۳۹۰ قمری کال د حوت د میاشتی په ۲۸ له زندان څخه ازاد شو.

شهادت:

نومورې له اسارت څخه وروسته خپله دنده پیل کړه او مقدس جهاد ته یی ادامه ورکړه، چی مبارزه یی نوره هم ګرندی شوه، امریکایانو هڅه کوله چی نومورې اسیرکړی، له ډیرو چاپو وروسته یی پری د ډرون ګوزارونه وکړل، چی سړ کال هم ډرون پری دري ځله ګوزار وکړ، چی په الهی نصرت او پوهه ځیرکتیا به وژغورل شو، خو په ځلورم وار یی په ناځوانمردانه ډرون برید کی له خپل یو ملګری صالح محمد کاروان سره یوځای شهید کړ، روح دی شاد او یاد دی تل وی.

فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر، الایه

انالله وانا الیه راجعون

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ایډز د یرغل یوه بله کرغیړنه ډالۍ

سید شریف

ایډز هغه مهلکه ناروغي ده چي هر کال د ملیونونو انسانانو ژوند اخلي، د روغتیا د نړیوال سازمان د راپور په اساس هره ورځ په نړۍ کي ۳۳۰۰تنه د ایډز له امله ساه ورکوي یعني ایډز هره دقیقه د یو سړي ژوند اخلي، خو له نیکه مرغه ددې ناروغۍ څخه اسلامي نړۍ تر ډیره حده خوندي ده، سبب یې دادی چي په اسلامي نړۍ کي د غرب غوندي بې بندوباره ازادي او فحاشي نه شته .

څیړونکي دایډز عمده علتونه د مخدره موادو اعتیاد، ناخوندي جراحي عملیات او تر ټولو لوی علت یې ناروا جنسي اړیکي او اخلاقي فساد په ګوته کوي.

اشغالګرو او لاسپوڅي رژیم یې افغانستان او افغان ولس ته خورا ډیر امنیتي، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، صنعتي، اخلاقي او عقیدوي زیانونه واړول، مثلا: په بې ۵۲ او ایف۱۶ الوتکو، کروز راکټونو او خوشیې بمونو یې ښځي او ماشومان شهیدان کړل.

کلي، کورنه، فصلونه او شنه باغونه یې په بمونو او بلدوزونو وران ویجاړ کړل.

په بهر او داخل کي یې زندانونه دافغان ولس له مختلفو قشرونو، بوډاګانو، ماشومانو او ځوانانو څخه ډک کړل.

اخلاقي فساد ته یې وده ورکړه، زمینه یې ورته برابره کړه او دلا ترویج په موخه یې مختلف بنسټونه په مختلفو نومونو باندي جوړ کړل.

اداري فساد یې اوج ته ورساوه، تر دې چي څو ځله افغانستان په نړیواله کچه اداري فساد کي لومړی او دوهم مقام وګاټه.

قومي او لساني تعصب یې رامنځته کړ ځیني پردي پال جهتونه او شخصیتونه یې ددې لپاره استخدام کړي چي وخت ناوخت د واحد افغان ولس ترمنځ د کرکي او تفرق تخمونه وشیندي.

په ځلونو یې دمسلمان ملت د مومن به کتاب(قران عظیم الشان) بې عزتي وکړه او داسلامي ارزښتونو او شعایرو سپکاوی یې تکرار کړ.

افغان فرهنګ یې تحریف کړ او د غربي منحط او لغړ کلچر د دودولو په موخه یې د مدني او فرهنګي ټولنو په نوم ګڼي ګمراه کونکي او پردي پالي پروژې په کار اچولي دي چي افغان ولس په تیره ځوان کهول ته یې لوی تاوانونه رسولي دي.

د تاریخ دمسخه کولو هڅي یې ګرمي ساتلي.

مخدرات، (هیروئین، تاریاک، چرس او شراب) یې رایج کړي او دپیر او پلور مارکیټونه یې ورته پرانستلي دي.

د ایډز مهلکه ناروغي یې دافغانستان پاکي خاوري ته وارده کړه.

د وروستیو راپورونو په اساس دا مهال افغانستان کي تقریبا ۹۰۰۰زره کسان د ایډز په ناروغۍ اخته دي او په زرهاوو نورو کي د ایچ آی وي وایروس ثبت شوی دی، متاسفانه چي دافغان ولس لپاره یو بد خبر دی.

د کابل د روغتیا وزارت په وینا ۸۷۴۱ تنه د ایچ آی وي په مرض ککړ کسان ورسره راجستر شوي دي، ځیني داسي کسان هم شته چي په همدې مرض اخته دي خو د شرم له وجي یې ځانونه نه دي ثبت کړي.

په افغانستان کي د امریکایي یرغل څخه مخکي ډیرو هیواودالو حتی د ایډز نوم هم اوریدلی نه ؤ، خو داسلامي امارت له سقوط څخه وروسته چي افغانستان ته پورته ذکر شوې ناخوالي او ناتراشي واردي شوې، له جملې یې یوه هم د ایډز تباه کونکې مریضي ده. په بل عبارت ایډز افغانستان ته د یرغل یوه بله کرغیړه ډالۍ !! ده.

الله تعالی دي ټول امت په تیره افغان مظلوم ولس له ایډز او نورو مهلکو ناروغیو څخه وساتي امین

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

زندگی نامه (ثمامه بن أثال رضي الله عنه)

ترجمه: عبدالخالق احسان

نام و نسب

ایشان ثمامه پسر أثال پسر نعمان پسر سلمه از قبیله بني حنیفه واقوام مسیلمه کذاب بودند.

لقب ایشان لقب او رضي الله عنه ابو امامه یماني منسوب به یمامه بود. جایگاه ایشان حضرت ثمامه سیدی از سادات و زعیم از زعماي بني حنیفه بوده و از شخصیت قوي و منزلت والاي خویش بهره مي جست، علاوه بر آن ابهت، مقام، ثروت و دلیري او باعث گردید که قومش او را بقتل رسول خدا صلي الله علیه وسلم ترغیب و تشویق نمایند، لذا بمدینه آمد و منتظر فرصت مناسب بود تا رسول خدا را تنها بیابد و به قتل برساند تا حقد و کینه اش را فروکش نموده و قوم خویش را که در مقابل این قضیه برایش پول زیادي میدادند خرسند نماید. اسارت هنگامي که بعضي از مسلمانان وي را دیدند که در جاده هاي مدینه مي گردد نسبت به او دچار شک و تردید شده و او را گرفتار نموده و به یکي از ستون هاي مسجد بستند، وقتیکه رسول معظم اسلام ثمامه را بسته دید امر کرد که رهایش کنید، مسلمانان تعجب نموده و گفتند اي رسول الله او قصد کشتن شما را دارد، اما رسول رحمت، عفو، گذشت امر به آزادي او نمود تا به همه جهانیان ثابت شود که او رسول رحمت و عفو و انسانیت میباشد، اوست که میگوید: حقیقتاً من رحمت هدایت گر هستم و او آن پیامبري است که خداوند عزوجل خطاب به او میفرماید: (وما ارسلناک الا رحمة للعلمین) ترا نفرستادم مگر رحمتي براي جهانیان. خداوند بزرگ راست گفت، یقیناً فرستادن محمد صلي الله علیه وسلم رحمتي است وقتي به پیام انسانیت او نگاه کنیم و نیز وقتي به شخصیت عالي او و طبعیت خوش و تصرفات ارزشمند او بنگریم براي ما واضح مي شود که رسالت او رحمتي براي عالمیان میباشد. ایشان صلي الله علیه وسلم این مبدء و اساس را در طول حیات خویش در ساحه عمل تطبیق نمودند و این صفت بارز او و نشانه از افعال و کردار خوب او گردید و مي خواست این رحمت او شتابان به همه انسانیت سرایت نماید گویا که او صلي الله علیه وسلم نمونه از رحمت الهي بود که هر جا میرفت وهر جا مي نشست وهر کاري که میکرد سرایت مي نمود این فطرت سلیم مهرباني او که خداوند سرشته بود، در موارد

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

متعددي حتي همراه دشمنان آشكار گرديد.

آزادي

دراين قضيه (ثمامه بن أثال رض) متجاوزانه آمده مي خواهد او را بقتل برساند، اما رهبر بشريت صلي الله عليه وسلم به وي مهرباني نموده واو را مي بخشد و به آزادي اش امر ميكند و براي ثمامه رض ميگويد: حالا چه ميگوئي؟ ثمامه رض گفت: اگر ثروت ميخواهي ميدهم واگر ميكشي يک مجرم را كشته ئي واگر نعمت ميدهي سپاسگذاري آنرا خواهي ديد.

گرويدن به اسلام رسول معظم اسلام صلي الله عليه وسلم دعا نمود كه اي بار الها! خوردن گوشت شتر برايم از كشتن ثمامه دوست داشتني تر است، و بار ديگر به رهاي او امر كرد و قيدها باز شده ثمامه آزاد گرديد و خارج از مدينه رفته غسل نموده و بدنش را پاک كرد، سپس به طرف پيامبر گرامي برگشت تا به دين اسلام مشرف شود، و دست راست خود را بدست راست محمد مصطفي صلي الله عليه وسلم نهاده و به عمل به اسلام بيعت نمايد و از كيان اسلام حمايت كرده و محرمات آن را دور بيندازد، لذا آمد و اسلام را پذيرفت وگفت: اي رسول خدا صلي الله عليه وسلم روزي كه اينجا آمدم تو در نظرم بدترين انسانهاي روي زمين بودي، و دينت را مبغوض ترين دين ها مي پنداشتم، وشهر تو را بد ترين شهر ها فكر ميكردم؛ اما امروز بنظرم هيچ ديني از دينت بهتر وهيچ شهري از شهرت دوستداشتني تر نمي باشد.

چه چيز باعث شد كه ثمامه رض بدين اسلام مشرف شود، واين كلمات شگفت انگيز را بزبان آورد؟

بخشايش وگذشت اسلام دربن ترديدي نيست، آنچه كه سبب ايمان آوردن ثمامه گرديد، مشاهده عملي گذشت در اسلام بود، مسئله اي كه او را وادار نمود به قناعت و رغبت خود به اسلام بگرود تا كه ايمان ثابت و يقين راستين ازين گرايش متولد گرديد، كه درآن هيچ شک و ترديدي راه ندارد، اين ايماني است كه هر گاه به قلب انسان داخل شود آنرا منشرح ساخته وهمه چيز آسان ميشود و انسان به تمام معنا بطرف خدا رو ميآورد.

خداي عالم درين مورد ميفرمايد: (فمن يرد الله ان يهديه يشرح صدره للاسلام) ( ) كسي را كه خداوند بخواهد هدايت كند سينه اش را به پذيرش اسلام فراخ مينمايد. ونيز ميفرمايد: (أفمن شرح الله صدره للإ سلام فهو علي نور من ربه فويل للقاسية قلوبهم من ذكر الله اولئک في ضلال مبين) ( ) كسيكه خداوند سينه اش را به پذيرش اسلام فراخ كرد او در روشنائي از جانب پروردگار خود زندگي ميكند پس واي بر آنانيكه از ياد خدا دل هايشان سخت ميشود وآن گروه در گمراهي آشكاري بسر ميبرند.

دين اسلام هيچ كس را به پذيرش خود مجبور نميكند چرا كه خداوند وظيفه پيامبر و دعوتگر را به تبليغ و ياد آوري منحصر نموده آن جائيكه ميفرمايد: (فذكر انما أنت مذكر لست عليهم بمُصيطِر) سوره الغاشيه. آنان را ياد آوري كن تو فقط ياد آوري كننده هستي وبر آنها چيره نميباشي. اين آزادي انتخاب باين خاطر است كه ايمان امر قلبي ميباشد و محال است كه جبر و اكراه در وجدان، عقل و قلب انسان اثر گذارد.

لهذا رسول اكرم صلي الله عليه وسلم در تمام مراحل و شيوه هاي دعوت به سوي خدا حكمت و اندرز نيكو را رعايت مي نمود و هيچ كس را به پذيرش اسلام

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

مجبور نمیکرد، نتیجه این سیاست حکیمانه بود که مردم گروه گروه به اسلام میگرویدند در حالیکه این ایمان شان ناشي از قناعت واطمینان بود؛ لذا دعوتگران راه حق و هادیان نیکوي گردیده و تعالیم اسلام ونور هدایت آن را به تمام روي زمین گسترش دادند، خداوند در شأن اي مؤمنان راستین میفرماید: (خیرامة اخرجت الناس) اینها بهترین امتي اند که به خاطر رهنمائي مردم بیرون شده اند. از جمله آن بهترین ها ثمامه بن أثال رضي الله عنه بود که هم چون کوه بلند وبزرگي گردید وبسوي اسلام دعوت مینمود واز کیان اسلام دفاع میکرد چنانچه بیان خواهد شد. دعوتگری حضرت ثمامه رضي الله عنه ثمامه رض ایمان آورد، وبا نبي اکرم صلي الله علیه وسلم بیعت نمود و اجازه خواست، تا بمکه رفته اداء عمره نماید ومسئولیت دیني خود را عملي کند، همینکه بمکه رسید مشرکین به اطراف او جمع شده چونکه از شخصیت وجایگاه اونزد قومش باخبر بودند، برایش گفتند: آیا صبائي ( ) شده ودین پدرانت را ترک کرده اي؟ ثمامه رض گفت: من سخنان شما را نمي دانم اما خاطر نشان میکنم که به پروردگار این خانه (کعبه) سوگند یاد نمودم که از طرف یمامه هیچ نفعي بشما نرسد تا که همه تان پیرو محمد صلی الله علیه وسلم گردید.

بعد از آن بحیث سفیر اسلام و نماینده رسول معظم اسلام صلي الله علیه وسلم بطرف قوم خود در یمامه رفت، تا مسؤلیت دیني خود را اداء نموده و وجیبه دعوت را انجام دهد، بنا به موقعیتي که نزد قومش داشت که سخنش را رد نمی کردند؛ لذا از صادر کردن گندم به قریش و اهل مکه منع کرد، تا اینکه قحطي ومشکلات اقتصادي دامنگیر مشرکین گردید و نزدیک بود از گرسنگي بمیرند، پس به رسول خدا صلي الله علیه وسلم چنین نوشتند: آنچه ما از تو دیدیم این بود، که به صله رحم امر میکردي و ما را هم تشویق مینمودي، حالا ثمامه رض صدور گندم را بطرف ما قطع نموده و ما را متضرر ساخته است، اگر ممکن است که این مانع مواد خوراکي ما را برداري چنین کن. رسول اکرم صلي الله علیه وسلم نامه ی به ثمامه رض چنین نوشت: اي ثمامه این مانع خوراکي را از قومم بردار. این گونه است صله رحم، عفو وگذشت، قومش او را اذیت نموده، تکذیب کرده به تمسخر گرفته آماده گي قتل او و خنثي کردن دعوتش را گرفتند، اما او پیامبر بشریت صلي الله علیه وسلم آنها را مي بخشد وکینه نسبت به آنها در دل ندارد، وقتي آنها محتاج میشوند، بشکل ناشناخته با آنان برخورد نمي کند، بلکه به سفیر خود مي نویسد، که صدور مواد غذائي را منع مکن.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمود: خداوند (جل جلاله) قوم قریش را به قحطي وگرسنگي گرفتار نمود، تا که خود مرده، سگ ها و(علهز) را مي خوردند، کس پرسید: علهز چیست؟ ابن عباس گفت: آنان پشم گوسفند و شتر را با خون تر نموده وبریان کرده مي خوردند. ابوسفیان براي پیامبر صلي الله علیه وسلم گفت: ترا بخدا سوگند، بحال ما رحم کن آیا خداوند ترا رحمتي براي عالمیان نفرستاده؟ گفت: بله چنین است ابوسفیان گفت: بخدا قسم پدران را به شمشیر وپسران را به گرسنگي کشتي، این قول خداوند نازل گردید: (ولورحمناهم وکشفنا ما بهم من ضرٍ للجو في طغیانهم یعمهون و لقد اخذناهم بالعذاب فما استکانوا لربهم وما یتضرعون)

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

اگر به آنها رحم نمائیم و این مشکل شان را رفع کنیم باز هم به طغیان وسرکشي خود سرگردانند ما آنها را به عذاب گرفتار کردیم آنها بسوي خداوند کرنش نکرده وبه تضرع نپرداختند.

این کرامت وبزرگي براي حضرت ثمامه رضي الله عنه است ،که خداوند عزوجل عمل او را تائید نمود وآیه قرآن را نازل فرمود ، که تا روز رستاخیز تلاوت شود ، و بدانیم که آنچه ثمامه رض انجام داد ، دلیل بر بزرگ منشي، قوت یقین، غیرت شدید ، ثبات بر اسلام دفاع از حریم اسلام وکیان امت مسلمه ثمامه رضي الله عنه بود.ارتداد اهل یمامه روزها و سال هاي سپري شد ورسول گرامي صلي الله علیه وسلم به رفیق اعلي پیوست، پس بناي محکم اسلام به تزلزل آمد ، اطرافیان اسلام پراکنده شدند و هر روز امر اسلام بوخامت میگرائید و پیروان دشمنان افزایش میافت، وبعضي قبایل عرب از اسلام مرتد شده ومنکر شرایع اسلام گردیده و نماز و زکوة و غیره را ترک نموده و دوباره به جاهلیت سابق خود بر گشتند. بعضي از آن مرتدین از اعطاي زکوة انکار ورزیده و منکر وجوب اداء آن به خلیفه اسلامي گردیده وگفتند: ما زکات را به کسي میدادیم که نمازش براي ما آرامش میآفرید وحالا او وفات نموده است باین قول خداوند فقط رسول الله صلي الله علیه وسلم را مراد داشتند چنانچه خداوند خطاب به پیامبر میفرماید: (خذ من اموالهم صدقة تطهرهم وتزکیهم بها وصل علیهم ان صلاتک سکن لهم)

از اموال شان صدقه وزکوة را بگیر تا آنها را پاک وتزکیه نمائي وبراي شان نماز بخوان حقیقتاً نمازت به آنها آرامش میآفریند. از جمله قبایل عربي مرتد شده از اسلام قبیله بنوحنیفه بود که مسلیمه کذاب مدعي نبوت در بین شان قرار داشت. مسیلمه کذاب براي رسول خدا صلي الله علیه وسلم نامه چنین نوشت:

از طرف مسیلمه رسول خدا براي محمد رسول الله اما بعد: یقیناً نصف زمین از آن من ونصفش از آن توست. رسول معظم اسلام در جوابش چنین نوشته از طرف محمد رسول خدا براي مسیلمه کذاب اما بعد: محققاً زمین از آن خداست به هر بنده خود که بخواهد میدهد و عاقبت نیکبختي از پارسایان میباشد.

انتقاد ثمامه از ارتداد قومش

بعد از وفات رسول گرامي اسلام صلي الله علیه وسلم امر مسیلمه کذاب بوخامت گرائید ، و قوم خود را به ارتداد از اسلام تشویق کرد و اکثریت قومش مرتد شدند بغیر از ثمامه بن أثال رض که علیه قوم خود جهاد ومبارزه نموده و با مسلمانان همکاري میکرد وآنان را از پیروي مسیلمه نهي مي نمود و به تمسک به اسلام امر میکرد.

حضرت ثمامه رضي الله عنه در مورد مسیلمه کذاب میگفت: دعانا الي ترک الدیانة والهدي مسیلمه الکذاب اذجاء یسجع فیا عجبا من معشرقد تنابعوا له في سبیل الغي والغي اشنع مسیلمه کذاب آنگاه که سخنان موزون میگوید ما را به ترک تدین وهدایت فرا میخواند پس تعجب بحال کسانیکه درین مسیر ضلالت وگمراهي شنیع از او متابعت میکنند.ثمامه رضي الله عنه در انتقاد از ارتداد قومش گفت:اهم بترک القول ثم یرد ني الي القول انعام النبي محمد شکرت له فکي من الفعل بعدما رایت خیالاً من حسام مهند قصد میکنم سخن نگویم اما انعام نبي اکرم محمد صلي الله علیه وسلم مرا به سخن گفتن وامیدارد ،

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

از او سپاسگذاري ميكنم كه مرا از زنجير ضلالت رهانيد بعد از اينكه بفكر وخيال شمشير برنده هندي بودم.و نيز فرمود: اي قومم: ازين مسئله تاريك كه هيچ روشني ندارد بپرهيزيد ،چرا كه اين شقاوتي است كه خداوند نصيب كسي ميكند كه بآن بگرود.

خلاصه اينكه دوا مدار آنها را از ارتداد نهي نموده و به گرويدن به اسلام و ثبات آن امر ميكرد ؛ اما اين دعوت او مؤثر واقع نشد چراكه چشم هاي آنان كور نشده بود بلكه قلب هاي آنان كه در سينه هاي شان قرار دارد كور شده بود.

لذا از دعوت مسيلمه متأثر شده وشيطان بردل هاي آنان مسلط گرديد ، دشوار بود كه آنها بطرف اسلام برگردند واز مسيلمه منصرف شوند و دروغ، عقيده باطل و دعوت فاسد او را بر ملا كنند.

مبارزه ثمامه رض عليه قومش

ثمامه رض عليه قوم خود مبارزه ميكرد وآنها را بر ثبات به اسلام تشويق مينمود ، عدهء كمي كه دوباره مسلمان شدند آنها را به لشكر مسلمانان تحت سر كرده گي خالد بن وليد رضي الله عنه كه براي جنگ با مرتدين آمده بودند ملحق نمود.

ثمامه رضي الله عنه اين همه تلاش را براي اين ميكرد تا مجاهد در راه خدا ، دعوتگر مخلص و رهنما به سوي خير و هدايت و روشنائي محسوب گردد ، بعد از اينكه سخترين دشمني را به رسول خدا و شهر و دينش داشت، اين تطور وقتي رونما گرديد كه او يقين حاصل نمود محمد صلي الله عليه وسلم فرستاده بر حقيست و دعوت و پيام او حق است. خداوند ميفرمايد:(قد جاءكم من الله نور وكتاب مبين يهدي به الله من اتبع رضوانه سبل السلام ويخرجهم من الظلمات الي النور باذنه ويهديهم الي صراط مستقيم)يقيناً از جانب خداوند نور وكتاب واضحي براي شما آمده است كه كه خداوند بواسطه آن كسي را كه پيرو رضايت خداوند باشد به راه سلامتي رهنمون ميسازد واز تاريكي ها بسوي روشنائي باذنش بيرون ميكند و بسوي راه راستين هدايت مينمايد.

سرانجام مرتدين حضرت خالد بن وليد نيرو وتوان خودرا در جنگ با مرتدين بكار بست و بعضي آنها را از قله كوه غلطانيد وخانه هاي بعضي را سوزانيد و در مدت يكسال اكثر آنان به اسلام عودت نمودند و بيرق اسلام بر تمام محلات يمامه گسترش يافت و مسيلمه كذاب توسط وحشي كشته شد آن وحشي كه حضرت حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه را شهيد كرده بود. وحشي بعد از اين ميگفت: بهترين مردمان را در جاهليتم كشتم وبدترين مردم را در اسلامم كشتم.

خداوند از حضرت ابوبكر خوشنود باد ، آن شخصيتي كه به جنگ مرتدين امر نمود وعمل او مقبول وسعي او مشكور باد خداوند از سر لشكر اسلامي درين پيكار و از تمام اصحاب رسول خدا صلي الله عليم وسلم راضي آنان را در جنت برين جاي دهد .

پايان

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون

دفروري دمیاشتې راپور

دروان (۲۰۱۶م) کال دفبروري په میاشت کي هم دتېرومیاشتوپه شان داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون په هڅواودځایې مجاهدینوپه ملاتړ دافغانستان په مختلفوولایاتو کي ۲۳۸تنه چي دکابل اداري اړوندبیلابیلوارګانونو کي په کاربوخت وو دحقایقوپه درک کولوددغه فاسداوګوډاګي رژیم څخه راووتل اوداسلامي امارت دمجاهدینوسره یوځای شول.

ګرانولوستونکوداهم دتسلیم شووکسانو میاشتني ارقام

جوزجان: ۷تنه عسکر

بغلان: ۳۷ تنه عسکر

میدان : ۶تنه عسکر

سرپل: ۳تنه عسکر

ارزګان : ۵۹تنه عسکر

غزني : ۱۵ تنه عسکر

کندهار : ۱تنه عسکر

هلمند: ۱۴تنه عسکر

فاریاب : ۱۲تنه عسکر

دایکنډي : ۱۲ تنه عسکر

غور: ۳۶ تنه عسکر

زابل: ۴تن عسکر

نیمرزو: ۱تنه عسکر

هرات: ۲۶تنه عسکر

اوپه پنجشیر ولایت کي ۴تنه بااحساسه عسکراومنسوبین داسلامي امارت داتلومجاهدینوسره یوځای شول بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لویې اووړې وسلې ،مخابرې ،وسایط اوبوزیات شمېرمهمات مجاهدینوته وسپارل.

دکابل دمنفور رژیم څخه راجلاشوواوداسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شووهیوادوالو وعده وکړه چي نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینوورونو سره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زموږله ویاړلې خاوري څخه دکفر ،فسق ،،اشغال ،فحشاءا وګمراهیو کرغیړن ټغرټول کړي اودمسلمانانودخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي دیرغلګرواولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیوادڅخه دوحشي یرغلګرودشړلو اوداسلامي اوملي نظام درامنځته کولوپه موخه دران سپېڅلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅي هم ګړندۍ کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخوپوځي لاسته راوړنوڅخه علاوه هره میاشت دهیوادپه بیلابیلوولایتونو اوولسوالیوکي ددعوت اوارشاد کمیسیون په هڅولکه پورته چي ذکرشول دکابل اداري څخه په سلهاووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیږي ته پناراوړي.

دعوت اوارشاد کمیسیون

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دشهیدمولوی عبدالرحمن(محمود) رحمه الله

ژوندته کتنه

Ì Ê‰¤ > V÷Ì –«fi

زوګړه:

شهید سعید مولوي صاحب محمود له نن څخه ۵۲ کاله وړاندې په سپوږمیز کال ۱۳۸۱ کې چې له ۱۳۳۸ لمریز کالسره برابره وه، د غزنی ولایت قره باغ ولسوالۍ د سفرخیلو په کلي کې د سیمه ایز متبحر عالم مولوي فضل محمد صاحب په دینداره علمي، جهادي او شهید پاله کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانستلې، چې له خاپوړو پیل کولو سره سم یې دلوی څښتن دوحدانیت، درسول الله صلی الله علیه وسلم دمتابعت، او داسلام د سپیڅلي دین دحقانیت درس د خپلې دینداري مورکۍ د غیږي د زانګو له مدرسې څخه په رګونو

جهادي سنګرونه او ورکې ځار سوي کدرونه ، هریود دې وړ دی چې په ستاینه یې یو ځانګړی کتاب ولیکل شي، خود شاعر په خبره: ستا د ښایست ګلونه ډیردي = ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه؛ ځکه نوباید ووایم چې زه د دې أخیرودوه نیمولسیزود جهادي کدرونو له قطارنه دیوې دیني، علمي، او جهادي هستۍ په ژوند او حالاتو درسره غږیږم، ترڅود حقې لارې دلارویانو لپاره دصبر او تسلي الهام، او دفیل په غوږکې ویدوزلمو لپاره د پاڅون پیغام وګرځي، (وماذالک علی الله بعزیز)

دغه جهادي هستي، دسنګرونو اتل، دحساسي، بشاشي، او متبسمې څیرې څښتن، دصبر، حوصلې، اونرم زړه خاوند، داخلاص، شفقت، او مهرباني سمبول، دلوړ علمي استعداد اوویاړمنار، دقره باغ پر افق ښکاره، د غزنوي اسمان پر جبین ځلیدلی جهادي ستوری، چې څو ورځې وړاندې له خپله مداره ووت، دژوند پسرلی یې خزان، او دعمر ورځ یې مازدیګر شوه، دغه په الهي مینه مست، مبارز مولوي عبدالرحمن رحمه المنان ،و چې په (محمود) سره یې شهرت درلود.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وخښه اوپه خبرود سم پوهيد لو سره سم يې خپل نيک پلارورته همدا درس په مغزو کې ورمحلول کړ.

زده کړې:

دا چې شهيد محمود په يو علمي تبر کې زيږيدلی و؛ نو ځکه يې د ديني علومو حصول ته لومړيتوب ورکړ، له خپل والد ماجد څخه يې ديني زده کړې پيل اوبياد سيمې او ګاونډي هيواد په بيلا بيلو حجرو او مدرسو کې يې په جيدو علماء کرامو سبقونه وويل، چې له هغوی څخه د سيمې په کچه متبحر او خاکساره علمي ستې مولوي عبدالمحمد صاحب مشهورپه (چمبرانو ملاصاحب) اودعلم، جهاد او تصوف په اسمان کې ځلانده ستوری مرشدنا خليفه صاحب دبشير او متواضع عالم دين مولوي عيسی محمدصاحب، همدارازد آب بند ولسوالی اړوندو موتی ممتازعالم دشهيانو پلار جانګل آخندزاده صاحب رحمه الله يادولای شو، شهيد محمود ته د علمي تندې دماتولو په تکل د پيل کړي طالبي ژوند، سفرونو، ستونزو او پرديسيو ګاللو په پايله کې د ګاونډي هيواد خيبرپشتونخوا مربوط داکوړه ختک په مشهوره علمي اداره دارالعلوم حقانيه کې د علمي ستوريو او جليل القدره شيوخولخواد فراغت دفضيلت تاج (پګړی) ورپه سر کړل شوه، اودخپل تره (آکا) علمي، سياسي، او جهادي مشهورې څيرې الحاج مولوی محمدصادق (عرف صادق حاجي صاحب) په مبارکولاسونو اعزازي چپنه ور واغوستل شوه.

تدريس اوعلمي خدمتونه:

شهيد محمود رحمه الله عليه، د خپل علمي سفرله پايته رسولو وروسته هيواد ته راستون شو، په خپله سيمه کې يې د خلکو اودهغوی دبچيانو په خدمت، پالنه اوروزنه پيل وکړ، په بيلابيلو کليو کې يې امامتونه وکړل، ورسره ځنګ کې يې په هر مسجد کې دطالبانود ميشت لپاره حجرې (دائرې) آبادې او فعالې وساتلې چې له دغه لارې يې د سيمې ډيری طالبان له علمي فيوضاتو برخمن شول اودعلم په لسګونو مينوالو دعلم له دغه منبع (محمود) څخه خپله علمي تنده ماته کړه.

د طالبانوله اسلامي تحريک سره يوځايوالی:

کله چې شوروي سرو لښکروپه افغانستان کې ماتې وخوړه اومزدور حکومت يې هم نسکورشو په هيواد کې د جهادي ډلو ترمنځ جګړو زور واخيست او په پايله کې يې دخورلس کلن جهاد ويارونه تر پښو لاندې شول نو په لمريزکال ۱۳۷۳ کې چې د ۱۴۱۵ سپوږمیزکال محرم الحرام له ۱۵مې سره برابره وه، دهيواد په جنوب لويديځ کندهار ولايت کې د يويشتمې پيړۍ د اتل ځوان ملامحمدعمر (مجاهد) رحمة الله عليه په مشري د طالبانو اسلامي غورځنګ پيل شو، په دغه تحريک کې ټول هغه مخلص مجاهدين چې په هيواد کې د اسلامي نظام دحاکميت دراوستلو په تکل يې قربانی ورکړې وې، راغوند او په ډيره کمه موده کې يې دهيواد ډيرې سيمې د جګړې له شر څخه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وژغورلې چې خلګو ورکې د امنیت احساس وکړ، دغه اسلامي تحریک له جنوب لویدیځ زون څخه مرکزي زون ته ډیر په لنډ وخت کې ځان ورساوه، کله چې طالبي سپیځلي قافلې مرکزي زون ته مخه کړه، د قره باغ ولسوالۍ طالبان د خلیفه ملا محمد اسحاق آخند زاده صاحب په مشري د مقر ولسوالۍ ته د استقبال لپاره ورغلل، د شر او فساد پرضد پیل شوي جهاد کې یې ډهر راز قرباني وعده ورسره وکړه، خدای ښښلی شهید مولوي عبدالرحمن(محمود)هم له دې قافلې سره ملګری اود اسلامي امارت د سقوط ترمهاله دیوو فادار مجاهد په صفت ورسره پاته شو.

د صلیبي یرغل په وړاندې جهاد:

کله چې په لمریزکال ۱۳۸۰ د میزان میاشتې په ۱۵مه صلیبي تاراکګرود خپلو ضمیرپلورونکو ځیره خوروپه توسط زمونږپر هیواد بې رحمانه یرغل وکړ، د همدې متجاوزینو د سختو وحشي اورسا بمباریو له امله چې په هیڅ ځای کې ورسره د مقابلې تـوان نـه ترسـترګو کیدو، د اسلامي امارت مجاهدینو د عالیقدر امیرالمؤمنین رحمه الله په امرشاتګ وکړ، خـودا چې زمونږهیواد تـه (کنانـةالله)د الله تعالی د غشو چانته ویل شوې په هرپیر کې چې دوخت طاغوت پر دې خاوره دبلوسیدوتکل کړی، په دین او خاوره مین بچیان یې په وړاندې راپاریدلي اودتیریګرو له ککرو یې منارونه جوړکړي؛ ځکه نود نړیوال صلیبي ایتلاف له یرغل سره سم افغان مجاهد ملت په مقابل کې په جهاد او مقاومـت لاس پـوري کړ،دامقاومت دهیواد له جنوب، جنوب لویدیځ اوختیځ زون څخه پیل اوپه تـدریجي توګـه دهیواد ټولوسـیموته خپورشو ،دصلیبیانوضد دغه مقاومت څپې د قره باغ ولسوالۍ تـه هـم راورسـیدې، د دې ولسـوالۍ غیـرتمن اولـس اومجاهدینو هم جهادي خوځښت پیـل کړ،دزړورمجاهـد حـاجي صاحب داروخان(شفق) اودهغه د مرستیال اتـل اوسرشاره مبـارز قـاري صـاحب عبـدالمتین (شفیق)تر مشري لاندې د سیمې مجاهدینوظهورو کړ،په دین مین شهید محمود هم توپک ورسره په اوږه کړ او د لـوی څښتن لـه لـوري ورکړي استعداد سره یې دخپلو مشرانوهرروا امر تـه په ورین تندي لبیک وویلو ،د دې مقاومت په جریان کې پر میرنې مجاهد حاجي صاحب داروخان (شفق)یرغلګردښمن د خپل بې ضمیره جاسوس په مټ چاپه ووهله اوحاجي صاحب شفق یې دیـو ملګـري شـعیب پـه ګـډون دبګرام د وحشـي زنـدان میلمـه کړ،د دلګی مشري فقیر صفته متقـي مجاهـد قـاري صـاحب (شـفیق) تـه پـاتې شوه،داسلام دښمنانود حـاجي داروخـان لـه نیولوورسته دخپلومزدورانو په وسیله د قاري صاحب شفیق لټون پیل کړ، بالآخره یې په کال ۱۳۸۲ کې د سنبلې میاشتې په۱۲ دسه شـنبې پـه شـپه یـوه نیمـه بجـه دخواجـه شیر غـره پـه لمنـه کې شمال لورتـه پروت شیرسر نومي کلي په مسجد کې، قاري صاحب له پنځویشت کسیز ګروپ سره په خوارې خوب ویده وو ، چې پیره دارد دښمن د چاپې خبرورکـړ، قـاري صـاحب لـه ملګروسـره دمسـجد مخته دیرغلګـرو پـه وړاندې سنګرونه ونیول، له اوږد

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

مقاومت وروسته قاري صاحب
د ۹ ملګرو په ګډون د شهادت جام
نوش کړ، پاته ملګرو کې قاري
جاويد، اسير
شو، يو شمير ملګري زخميان
او ځيني روغ رمټ له سيمي
ووتل، لنډه دا چې د ګوتو په شمير
ملګري بې سرپرسته ډير د
مايوسۍ په حالت کې پاته
شول، دا پيښه ځکه دردونکې وه
چې يو مشر حاجي داروخان اسير
او دوه مشران قاري شفيق
او ملا محمد صادق (صديقي) له
ټاکلو سره متصل يو په بل پسې
په شهادت ورسيدل، د مشر تابه
تشه، د اسلحو،
او موټر سائکلونو ضياع، دا ټول
داسي څه دي چې طبعا انسان د
غم او مايوسي په ټغر کينوي؛
نو د دغسي يو حالت تصور
او برداشت د عامو انسانانو لپاره
ګران کارده، په دغه ويرجن حالت
کې يو اځيني کس محمود و چې د
پاتې ملګرو پر سر يې د شفقت
لاس تير او په ځان يې راټول
کړل، محمود د مشر په صفت نه
بلکې د يو عادي مجاهد په توګه د
خداى تعالى د دين د حاکميت
لپاره ټولو د نيوي لذتونو ته
شاکړه، په سپينه ږيره يې چانټه
په تن او ټوپک په اوږه کړ، دغه
مهال چې يو مشر ته سخته اړتيا
وه او له دې سره سره چې نوموړي
ته د مشر توب زمينه هم مساعده
وه؛ خو ده مشري قبوله نه کړه هغه
ووچې د ټولو ملګرو په اتفاق له
ډير ټينګار وروسته حافظ صاحب
د دلګۍ د مشر او محمود ورسره
د مرستيال په توګه وګمارل
شول، له دغه ټاکنيز بهير وروسته
په هره برخه کې
د شهيد محمود پر خدمتونو د قره
باغ زمکه، فضا، اولس او غليمان
شاهدان دي، د هيواد د قسم
خوړلو د ښمنانو او د هغوى
د بادارانو پر ضد د قره باغ
ولسوالۍ د مجاهدينو په
ټولو کمينونو، انفجاراتو، او
تکتيکي بريدونو کې
د مشر، فرد، او ياهم د طراح په
توګه سهيم و، د دې خبرې د ثبوت
لپاره د غليم د کشفي، بونګنو
او بې پيلوټه
الوتکو لخوا د شهيد محمود
دائمي تعقيب يادولاى شو، ډير
ځله داسي پيښه شوې چې د قره
باغ د کومې سيمې پر فضا به
د غليم د کشفي الوتکو غورهار
زيات و، ملګرو به ويل لکه چې
محمود په دغه سيمه کې دى، دا
مبالغه نه بلکې زما د سترګو
ليدلى حال دى، يوه ورځ د
مقاومت قوي سنګر (کډي
جامراد) کې سره يو ځاى
شوو، يو نابلده ملګرى ورسره
سپور و، مايو طرف ته ګوښه کړ
او ورته مې وويل دغه نابلده کس
له ځانه سره مه ملګرى کوه، وايي
زما شناخته ده، ماويل زما خوښه
نه ده، وايي بل څوک د موټر
سايکل ملګري نه راسره
کوي، نو ته راځه ما ويل د رځه زه
چې ورسره سپور شوم، د مولوي
عبدالبصير (طيب) د کلي
د مسجد مخته ترونو لاندې
ملګري ناست وو، ورته ودريد،
دوو کسانو ما ته وويل قاري
صاحب په تا ځان تاوان دى،
ماويل ولي؟ وايي په محمود
پسې بونګنه (کشفي) الوتکه
ګرده ګرځي، ماويل خيرده،
همدا راز دوه ځله يرغلګرود
نوموړي د موندلو په موخه د شپې
مهال دده پر کورنا کامه چاپې
ووهلې، دريم ځل يې د نوموړي
دورور قاري صاحب
عبدالستار سيرت په کور چاپه
ووهله چې په زخمي حالت کېيې
له ځان سره يووړ او د بګرام په
کرغيړن زندان کې له

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

درویشت ۲۳ میاشتو بند تیرولوورو سته د لوی څښتن په فضل راخلاص شو.

تقوی یې:

تقوی چې دانسانانو ترمنځ دفضیلت معیار اوله تولوبدمرغیو څخه انسان ته د نجات غوره وسیله ده، شهید محمود له نورو غوره صفاتو سره د تقوی له نعمته هم برخمن و، محمود دغه نبوي حدیث پر ځان عملي کړی و چې (اتقوا مواضع التهم) د تهمت له ځایونو ځان وساتئ، دده د مسؤلیت په سیمه کې یو سرمایه دارکس و، ما او حافظ صاحب په ډیرتینګار ورته وویل چې دغه کس څخه چې ستاډیر شناخته دی، زما قاري ضعیف دورونو دراخلاصولو لپاره څه پیسې تري وغواړه، مګرتر پایه یې ونه منله، وایي دازما بدنامي ده، دغه خبره بیا څوک مني چې ماستالپاره تري پیسې اخستې دي.

د شهید محمود په اړه د ملګرو اندونه او خاطري:

په خپلو همزولو کې نومونی ځوان عالم مولوي عبدالبصیر محمود په اړه وایي: پر محمود خدای تعالی ویره دومره غالبه وه چې کله به یې خلکو ته د دین په حواله خبره کوله نو له سترګو به یې اوښکې روانې وې، همدارنګه طیب صاحب وایي شهید محمود راته ویل رسول پاک صلی الله علیه وسلم مي په خوب لید په جنت کې یې زما، زماد کورنۍ اوآکا حاجي صاحب صادق (رحمه الله) ځایونه راته وښودل او بیا یې زه (محمود) او حاجي صاحب دموټرد مخې چوکۍ کې کینولو اوموټر یې روان کړ.

له شهید محمود سره نږدې اوسیدلی زړورمجاهد مولوي احمد منیرعابر وایي: شهید محمود الله جل جلاله په عمري صفت عدل او زړه سوي هم نازولی و او دغه نبوي حدیث یې پر ځان عملي کړی و چې فرمایي (انصر اخاک ظالما اومظلوما) شهید محمود یوه ورځ راته کیسه کړه چې دخپل مسؤلیت په ساحه واغظ ولسوالي کې د شپې ویده وم چیغې اوفریاد مې ترغوږ شو، د باندې راووتلم په یوکور کې د یوې ښځې زړه بوږنوونکې ژړاده، ورمنډه مې کړه، لومړی مې د کلي خلک راخبرکړل له هغو مې وپوښتل په دغه کور کې څه پیښه ده؟ هغوراته وویل دلته یوه میرمنه ده میړه یې په سفرتللی، یوه میاشت کیږي چې لیور اوخسر یې هره شپه وهي، بیامو دکوردروازه وټکوله که ګورم لیور اوخسر دي انګور (ژنور) یې په ځمکه غورځولې او وهي یې، غږمې پرې وکړ خلګو ښځه پریښودله، ښځي چې زه ولیدم نارې یې کړه وای طالبه! دایوه میاشت کیږي ناحقه مې وهي هیڅ ګنا مې نده کړې، شهید محمود وویل ښځه مې له دغو ظالمانو وژغورله او دوی ته مې جزاورکړه، بله شپه مې حضرت عمررضی الله عنه په خوب ولید.

دندې او مسؤلیتونه یې:

شهید محمود د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال لومړی د عسکرکوټ په نوم د تشکلاتي مرکزد مسؤل په صفت اوبیادوه کاله دقره باغ ولسوالۍ دځارنوال

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

په حیث دنده تر سره کړي، پرهیواد د صلیبي تاراکګروتر یرغل وروسته په ۱۳۸۶یم لمریز کال کې د قاري صاحب شفیق د جهادي ډلګي د مرستیال په توګه، په ۱۳۹۰ لمریز کې د اسلامي امارت د تشکیلاتي مهال ویش له مخې د واغظ ولسوالۍ د نظامي مسؤل په حیث، په ۱۳۹۱ کې د غزني د خوږیانو ولسوالۍ د نظامي مسؤل په توګه، اود روان ۱۳۹۴ لمریز کال له پیل نه بیا د شهادت تر ورځې د ده یک ولسوالۍ د نظامي مسؤل په توګه.

د شهید محمود د سالم فکر، ښه رایه، لوړ کاري استعداد دې باعث و چې شهید محمود ته د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د بیلا بیلو ولسوالیو نظامي مسؤلیتونه وسپارل شول، شهید محمود هم د مسؤلیت په ټولو ساحو کې په پوره ایمانداري، اخلاص، او امانتداري وظیفه ترسره کړه، لله الحمد له هرې ولسوالۍ چې به بلې ته تبدیلیده نو اولس اوملګرو به یې په فراق اوښکې تویولې، دیو امیر لپاره ترهرڅه دغه یو ویاړمن حالت دی، همدا راز محمود د دندو په ټولو ساحو کې پریږغلګرو اومزدورانو یې ځمکه سره تبې کړې وه، په ډیرو غلیمانو یې میندې بوږې کړې، د خوږیانو ولسوالۍ خو یې د مسؤلیت په ټوله موده کې تر تینګې محاصرې لاندې نیولې وه.

پښتانه وایي چې خدای نه وي وژلی نه مري، محمود (رح) له دښمن سره له ټولو جګړو اوهم د هغوی له تعقیب اوچاپولوی خدای جل جلاله روغ وساتلو، خو کله چې الهي قضا پوره اود اجل نیټه راورسیده، بیله جګړې په شپه کې د ملګرو د څارلو لپاره په ګزمه او ګشت ووتلو، اواشتباها دیوه تصادف له مخې دروان سپوږمیز ۱۴۳۷ کال د محرم الحرام په ۲۵مه نیټه چې د لمریز ۱۳۹۴ کال د لړم میاشتې له ۱۲مې سره برابره وه، د شنبې په شپه د ۵۲ کالو په عمر د شهادت عالي منارته جګ شو، انا لله وانا الیه راجعون] قدّرالله وماشاءفعل [روح یې

ښاد ستړیاوي یې قبولې اولاریې له لارویو ډکه.

په تدبیر کله ردیږي د ازل نویشته = بې وخته نه راځي هیڅکله د اجل فرشته.

د یادونې وړ ده چې د شهید محمود رحمه الله د شهید پالې کورنۍ د الومړی شهید نه دی، بلکې ۲۰۰۳ کال کې یې کشرور ورملا عبدالمنان (محمود) د خوست ولایت اړوند دروازګۍ سیمه کې د یرغلګرو پر کمپین د بریدپه مهال په داسي حال کې چې د ۷۰ کسیز ګروپ مشریې کوله، د غلیم په ناڅوانه مرمۍ ولګید اوورسته د شهادت کلیمې په ویلو سره د شهادت د نګ منارته وخوت، انا لله وانا الیه راجعون

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

جنګي جنايتونه (فبروري)

سيد سعيد

د روان (۲۰۱۶) کال د فبروري د مياشتي په ۲مه نيټه د کندز ولايت دعلي اباد ولسوالي، په عمر خيل او شير محمد سيمو کي د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کي يوه ميرمن او يو ماشوم شهيد شوی او يوه ښځه او سړی ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۵مه د پکتيکا ولايت د يحيی خيلو ولسوالي، دګناوي په سيمه کي اربکيانو يو ملکي وګړی (حاجی مبين) په وهلو کي شهيد کړی دی.

د فبروري په ۵مه د پکتيکاولايت د نکه ولسوالي، په ټور کلي باندي داخلي عسکرو دچاپې پر مهال، د خلکو کورونه تلاشي کړي، خينې خلک يې وهلي اوخلور تنه ولسي وګړي يې بنديان کړي دي

د فبروري په ۶مه د ننګرهار ولايت دبتي کوټ ولسوالي، په نواقلو سيمه کي داخلي عسکرو دچاپې پر مهال يو ماشوم او دوه ملا امامان د بنديانو په توګه له خان سره وړي دي.

د فبروري په ۷مه د کابل ولايت د سروبي ولسوالي، د بند په کلي کي د کورنيو عسکرو دهاوان په ډزو کي دوه کوچنيان شهيدان شوي او يوه ميرمن ټپي شوې ده.

د فبرووي په ۸مه پر غلګرو ځواکونو د داخلي عسکرو په ملتيا د شپينو عملياتو په لړ کي دکندهارولايت د خاکريز ولسوالي، په چنار او تمبيل کليو کي چاپه وهلې، د خلکو پر کورونو يې ډزي کړي، خلک له ډاره له خپلو کورونو ځغه وتلي چې په همدې مهال بې پيلوټه الوتکو په نښه کړي، ديارلس تنه ولسي وګړي يې شهيدان کړي او اته تنه يې ژوبل کړي دي.

د فبروري په ۱۱مه اشغالګرو د شپينيو عملياتو په لړ کي دهلمند ولايت د نادعلي ولسوالي، د شنې جامع په سيمه کي د چاپې پر مهال خلور تنه ولسي وګړي دبنديانو په توګه بيولي دي.

د فبروري په ۱۱مه د بغلان قومي مشرانو کابل کي د يوې غونډې په مهال په مرکزي بغلان، ډنډ غوري او ډنډ شهاب الدين کي د هغو عملياتو له ملکي زيانونو پرده پورته کړه چې د جنوري له وروستيو په سيمه کي روان دي. دوی وويل چې: « د حکومتي ځواکونو په عملياتو کي ۲۵ تنه ولسي وګړي شهيدان شوي چې ۴۰ تنه يې صرف بغلي او ماشومان دي او ۶۵۰کسه ملکي هيوادوال ژوبل شوي دي». قومي مخورو وويل چې حکومتي عسکر په لوی لاس د خلکو باغونه

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

او فصلونه په دې بهانه وراتوي چې دلته بيا مخالفين پټيږي.

په يـاده شوې ناسته کـې د بغـلان قومي مشرانو زياته کړه چې په دغو عملياتو کې تر دې دمه ۷ ازره کورنيو کلي او کورونه پرې ايښي او نورو سيمو ته کډه شوي دي، دوی د غونډې ګډونوالو ته دويجارو شوو کليو، کورونو، جوماتونو او عام المنفعه تاسيساتو د پراخـې خرابـې انځورونـه وښودل اوژر ترژره يې د روانو عملياتو د دريدو غوښتنه وکړه، خو عمليات تراوسه لاروان دي او خلـک هماغسـې شـکايتونه کوي.

د فبروري په ۶ امه د کاپيسا ولايت د نجراب ولسوالي، په عبدالله خيلو، نوي کلا، زره کلا کليو کې داخلي عسکرو د خلکو د کورنو دروازې ماتې کړې، خلک يې وهلي او ځلور تنه ملکي وګړي يې بنديان کړي دي.

د فبروري په ۷ امه يرغلګرو ځواکونو د کورنيو عسکرو په ملتيا د ميدان وردګو ولايت د جلګې ولسوالي، د تنګي په بازار کـې د سـويښن موسسـې لـه خـوا پـه تمويليـدونکي يـوازيني روغتـون برېـد کړی، ځلور تنه ناروغان يې شهيدان کړي، ډاکټران او نور کارکونکي يې ځورولي او تهديـد کړي دي. همدا راز د دې روغتون طبي وسايل د عسکرو له لوري چور شوي او ودانۍ، ته يې هم زيان اوښتی دی.

د فبروري په ۸ امه دميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالي، د مملو په سيمه کې داخلي عسکرو يو ۲ ۱ کلن ماشوم (ياسر دفضل ربي زوی) شهيد کړی دی.

د فبروري په ۸ امه د کندز ولايت د دښت ارچي ولسوالي، په ادیسي سيمه کې د داخلي عسکرو د ثقيله وسلو په برېد کې دوه ولسي وګړي شهيدان شوي او يو تن ژوبل شوی دی.

د فبروري په ۹ امـه د کنـدهار ولايت د ميوند ولسوالي، په سره بغل سيمه کې کورنيو عسکرو يو شخصي کلينک او يو موټر منفجر کړي او در پ تنه ولسي وګړي يې د بنديانو په توګه وړي دي.

د فبروري په ۱۰ امه د غزني ولايت د شلګر ولسوالي، اوسيدونکو چې شـمير يـې سـلهاوو تنـه وو د غزنـي پـه بنـار کـې د اربکيـانو پـه ضـد مظـاهره وکړه، لاريـون کونکو ويل چې اربکيان بې موجبه خلک وهي، کړوي، پيسې ترې اخلي، د پيسو لپاره خلک برمته کوي او په يوه او بله بهانه يې ترمرګه وهي، دوی وويـل چـې اربکيانو د کجير په سيمه کې يو بنوونکی او يو بل تن د مرګ تر پولو ووهل، لار يون کونکو زياته کړه چې نور په ځپله سيمه کې اربکيان نشي زغملای او حکومت ژر تـر ژره بايـد ددوی لـه سـميې اربکيـان وباسي.

دفبـروري پـه ۲۶ امـه يرغلګـرو د شـپنيو عملياتو په لړ کې دهلمند ولايت د نادعلي ولسوالي، عصمت بازارته ځير مه د چاپې پر مهـال پنځـه تنـه ملکـي هيـوادوال د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د فبـروري پـه ۲۷ مـه يرغلګـرو د شـپنيو چاپو په لړ کې دکندهار ولايت د خاکريز ولسوالي، د لام په سيمه کې دچاپې په ترڅ کې پنځه تنه ولسي وګړي د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د فبروري په ۲۷ مه د سرپل ولايت مرکز اړوند د انګوت پـه سيمه کـې د دوو تنـو اربکـي قومانـدانانو دوژنـي وروسـته اربکيـانو دوه تنـه دوکانـداران شـهيدان کړي، وروسته د خلکو او اربکيانو ترمنځ نښته رامنځته شوې چې داربکيانو په ډزو کې شل تنه ولسي هيوادوال د ښځو او ماشومانو پـه ګډون شهيدان شوي دي، همدارنګه وروسته اربکيانو د خلکو کورونه چور کړي او بيا سوځولي دي.

د فبـروري پـه ۲۸ مـه د کـونړ ولايـت د مروري ولسوالي، په سيرۍ کلي کې د داخلي عسکرو دهاوان په برېد کې د يوه کور ځلور تنه ماشومان ژوبل شوي او يو کوچنی شهيد شوی دی.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو، ازادي = ،افغـان اسـلامي اژانـس ،پـژواک= ،خبريـال وييپانـه ،لراوبـر = ،نـن تکـی اسيا=اوبينوا=]

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

دوهمه برخه ابوظهير

ليکونکي اهميت او اوصاف ته کتنه

۳-دفکر او غورکولو وړتيا:

دسرمقاله ليکونکي فرايض يواځي د حالاتو، واقعاتو تر سپيناوي او توضيح او د مختلفو مسائلو په باب د لوستونکو تر فکري بلنې محدود ندي، بلکې د ژوندانه د ټولو لوړو ژورو په اړه به سرمقاله ليکونکی په قلم په پورته کولو دلوستونکو فکري رهنمائي کوي!

خو ليکوال هغه مهال ددې ستونزمنې او نازکې رهنمائې نازک فرايض په ښه او سمه توګه سرته رسولی شي چې کله نوموړی د لوړو صلاحيتونو دلرلو څخه برخمن وي او د حساس زړه او بينا سترګو خاوند وي! خو بيا هم هغه خامخا به هغه په روانو حالاتو او واقعاتو باندې د پوهيدو لپاره دظاهري محرکاتو پر پيژندلو اکتفاء نکوي! بلکې خپل ذهن به دهغو تل ته رسوي ادښو اوبدو ترمنځ د تميز او بيلتون کرښې به پيژني اوپه پټو سترګو دمعلوماتو منلو او قبلولو پر ځای بايد د خپلې ژورې پوهې په لرليد اوپه ذهني صلاحيت دهرې پيښې په باب خپله معقوله رايه وړاندې کوي!

په دې کار سره به د نوموړي په سرليکنو کې نوښت، ځانګړتيا او موثريت رامنځته شي! په تشو بازاري لفاظيو او د تاويلي! ماويلي په لومو کې نه ښنلي ځکه د هغو په اساس خپل فکريا رايه جوړول دسرليکونکي لپاره ترټولو لوی عيب دی!

۴-متوازن شخصيت:

په ښلا ښلو حالاتو ،د ډ لو ټپلو په کړو وړو او حکومتي پاليسيو د تبصرو او څرګندونو پرمهال سرمقاله ليکونکی يوه منصف او درښيمګړي ته ورته وي! د هغه تبصرې اوپريکړې بايد لرليد لرونکي وې، په داسې بڼه چې يواځي د يوتن رايې ونه ګڼل شي، بلکې ديوې ادارې، ټولنې او خلکو د رايې او دريځ په توګه وګڼل شي! که سرمقاله ليکونکی د غير معتدل مزاج څښتن و، هغه نشي کولی چې په سمه توګه دټولنې دغوښتنو د ادراک پرته رهنمائي وکړای شي، بې اعتدالې په هيڅ معامله کې مناسب نه ده، ځيني وخت د همدې له امله داسې ستونزې اومشکلات زيږي چې بيا د هغو مخنيوی او حل تقريباً ناممکن وي.

د پر ځلي داسې ښکاري چې سرمقاله ليکونکيله يوې معمولي پيښې، ديوغير مهم فرد له وينا يا دکوم لوستونکي دليک نه په تاثراخستو دومره مغلوب شي چې په دقيقه توګه د معاملې له ارزونې او پيژندلو پرته په تونډ لهجه سرمقاله وليکي! خو د نشرولو وروسته جوته شي چې اړوند پښښه! وينا يا ليک حقيقت نلري! يا داچې هغه په دې نه ارزيده چې په اړه يې دومره په جوش او جذبه سرمقاله ليکل شوې

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

وای !ددغه ډول سرمقالو په لیکلو سره نه یواځي د سرمقالې پانې ته زیان رسي بلکې د ټولې مجلې یا ورځپاڼې حیثیت ته درنه صدمه رسوي

بل ډ ډرځلي سرمقاله لیکونکی له څو خواوو تر فشار لاندې وي !که ورځپاڼه یا مجله [دکومې ډلې یا تحریک پورې تړلي وه] د پالیسي لحاظول اړین وي، خو ددې ترڅنګ دا هم ضروري ده چې سرمقاله لیکونکی دصحافت منلي اقدار پایمال نکړي که څو هغه له ببلا ببلو ډلو او لوریو لخوا دفشار سره مخ وي ، مثلاً: دمزدورانو او آجرانو ترمنځ د نزاع راتلو په صورت کې مزدوران غواړي چې سرمقاله لیکونکی ددوی له دریځ ملا تړ وکړي، بل لور ته آجران د خپل دریځ دملا تړ لپاره له فشار واردولو کار اخلي ، په دغسي حالت کې دسرمقاله لیکونکي لپاره داسې صورت جوړول پکاردي چې نه یومخ اصول پایمال او ترپښو لاندې شي او نه اړونده ډلې په اشتعال کې راشي !ددغسي حالت سره دمخ کېدو پرمهال سړو مغزو ، متوازن او معتدل شخصیت ،زغم او لویې حوصلې د شتون سربیره په ژبه او وینا کې برلاسې هم اړینه ده

۵- دپریکړې څواک سرمقاله لیکونکی یو داسې منصف دی چې په وړاندې یې داستغاثې او سپیناوي لپاره د وکیل وکالت کولو ته اړتیا نشته له دې وجې هغه د دواړو لوریو د دلایلو داوریدو پرته یواځې د تحقیق او تجزیې له مخې پریکړه نکوي بلکې هغه به دټولو حقایقو او اوقانوني جواز پخپله وړاندې کوي ددینه علاوه دیو قاضي پریکړه عموماً په یوتن او څو تنو اغیز فریبا سي، خو دسرمقاله لیکونکي پریکړې په ټول قوم او هېواد تاثیر کوي له دې وجې ضروري ده چې په سرمقاله لیکونکي کې دپریکړې کولو صلاحیت په پوره توګه شتون ولري

دسرمقاله لیکونکي د تمیز کولو قوت هم دسرمقالې په معنویت او اهمیت ژور آغیز کوي ددې لپاره ضروروي ده چې هغه دهرې ورځې پېښو تقابلې اهمیت ته په پام پریکړه وکړې چې کوم خبر یا کومه مسئله دسرمقالې لپاره او کومه دتبصرې لپاره غوره کول پکاردي، ددې پرته په سرلیکنه او تبصره کې وزن نشي راتلی، اونه یې څوک په دلچسپي سره لولي، د موضوع انتخاب او دهغې په باره کې دځانګړې رایې بنکاره کولو پریکړه د دلایلو څرنګوالی او لیکنې انداز هغه څه دي چې په اړه یې دسهې او سملاسي پریکړې صلاحیت ضروري دی.

۲- دمطالعې پراختیا:

که څه هم دورځپاڼو په د فترونو کې دمختلفو موضوعاتو په اړه اخذلیکونه، کتابونه او نور ضروري مطبوعاتي مواد شتون لري، خو هغه سرمقاله لیکونکی چې یواځې په کتابونو او اخذلیکونو انحصار کوي او تر بحث لاندې موضوع کې ژور غور او نظر نه کوي دهغه سرمقالې به په هیڅکله مؤثره او په زړه پورې نه وي، په کومو سرمقالو کې چې د غیر ضروري معلوماتو او بې اړتباطه ارقامو لښکر پنډې وي هغه دلوستونکو په متاثرکولو کې پاته وي دمعلوماتو ، یا ارقامو سره دسرمقاله لیکونکي یواځې بلدتیا ضروري نده، پکې دهغو د موزون استعمال سلیقه هم ورته پکاره ده، ددې برعکس دکومو سرمقاله

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

لیکونکو مطالعه پراخه وي ، هغوی د لیکنې لاندې موضوع عوامل او مضمرات په ښه توګه پیژني، څوک چې دخپلې پوهې او قابلیت درعب اچولو لپاره اعداد او ارقام نه کاروي بلکې دهغو په وجه په دلایلو او لرلید کې وزن اچول غواړي دداسي لیکوال په لیکنیز ځواک کې زور او اثر وي. دخپل علم او مطالعې باوجود سرمقاله لیکونکی د دسهي ارقامو او عدادو یا دنورو په اړه دکتابونو او اخذ لیکونو دحوالو څخه هم مرسته اخستلی شي.

۷-فني برلاسي:

دسرمقاله لیکونکي لپاره ځینې داسې ځانګړتیاوې لرل ضروري دي ،دکومو لپاره چې پرلپسي مطالعې ، مشق او زیار ایستل ضروري دي، په هغو ځانګړتیا وو کې دسرمقالې لیکنې له فن او اسلوب سره بلد تیا هم راځي دسرمقالي لیکوال ته باید دا معلومه وي چې دسرمقالې موزون پیل څنګه پکاردی؟ په کومه مرحله کې د بحث لاندې موضوع وضاحت ته اړتیا ده؟ او کله او په کومو الفاظو کې خپله پریکړه راوړل دي؟ننسبا په ورځپانو کې یو خاص ځای وي، سرمقاله لیکونکي بالعموم هغه ټ کلي ځایته په پام سره سرمقاله بشپړه وي او خپل مافی الضمیر اظهار په کمو الفاظو کې له ټول وضاحت او په انتهائي مدلل توګه بیانول یو مشکل فن دی، دکوم لپاره چې یو اوږد مشق اوزیار ایستل پکاردي، په دې فن کې له مهارت پیدا کولو پرته دسرمقالې لیکلو او خانه پوری ترمنځ توپیر ګران وي

په تاریخ نظر:

سرمقاله لیکونکي لپاره په تاریخ باندې ژور نظر ضروري دی، د یوه هوښیار سړي په ینا:

کوم سړی چې یواځې خپل نسل پیژني هغه به تل ماشوم پاته وي، دکوم سړي علم ،مشاهده او تجربه چې دخپل نسل تر شاوخوا محدوده وي، هغه په پوره او سمه توګه دعلم او شعور څښتن نشي کېدای ! ځکه چې هغه دماضي دزرګونو کلو دعلم او تجربو څخه ناخبر پاته دی، دماضي علوم او تجربات دسلطنتونو دعروج او زوال فلسفې د تولنې دجوړیدو او شړیدو اسرار دقومونو دترقی او بیرته پاتیوالي رموز پیژندل یواځې یوه رزیعه ده، هغه زریعه دنړی دقومونو تاریخ دی، سیاست، اقتصاد ، علم، ادب ، ژبه، ثقافت لنډه داچې دژوند داسې شعبه نشته چې پکې د بشري ارتقاء څرک نه ځلیږي دتاریخ مطالعه دیو عام سړي لپاره هم ګټوره ده خو دسرمقاله لیکونکي لپاره نهایتې ضروري ده، ځکه چې هغه ته هره ورځ په انفرادي ا جتماعي ، سیاسي قومې ، کورني او نړیوال ژوند په اړه درایې ورکولو او دخپلو لوستونکو دذهن جوړولو اړتیا پیښه وي، دسمې رهنمایې په لړ کې تاریخي پوهه او شعور ورسره زیات کومک کولی شي، سرمقاله لیکونکی که غواړي دکومې خبرې یا رجحان مخالفت و کړي دهغه دزیانونو ثبوت باید له تاریخ پانو وراندې کړي که کوم وړاندیز یا مشوره ورکول غواړي نو دلیل یې باید دماضي له پیښو راوړي، تاریخ درس ورکونکی هم دی علم بښونکی او معلومات زیاتوونکی هم، سرمقاله لیکونکی چې د تاریخ له مطالعې کومه ګټه ترلاسه کولی شي هغه بیان ته حاجت نلري نوربیا

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

امنيتي ځواکونه ولي د ملي اُردو له ليکو تښتي ؟!

شاهد (غزنيوال)

وال ستريټ ژونال ورځپاڼې په خپل يوه وروستي رپوټ کې ليکلي، چې په ۲۰۱۵م کې ۳۶۰۰۰ پوځيان د ملي اردو له ليکو څخه تښتېدلي دي، هغه ملي اردو چې نړيوالې ټولنې يې په تجهيز او روزنه باندې ۲۸ ميليارده امريکايي ډالر لګولي دي.
ورځپاڼې د افغان ملي اردو له ليکو څخه ديادو پوځيانو د تيښتې لامل د افغان امنيتي چارواکو اداري کمزورتيا، مالي فساد او د وسله والو طالبانو لخوا د بريدونو زياتوالی ښودلی دی.
دوې ورځپاڼې په حواله يواځې په تيره جنوري کې تر ۲۰۰ زيات افغان امنيتي ځواکونه د وسله والو طالبانو په بريدونو کې وژل شوي او په سلګونو نور ټپيان شوي دي .
يرغلګرو امريکايانو په تيرو ۱۵ کلونو کې د افغان ملي اردو او امنيتي ځواکونو په روزلو باندې په لسګونه ميليارده ډالره لګولو سربيره هغوی د وخت په تر ټولو پر مختللیو وسلو مجهز کړ.
د خپلو تبليغاتي وسائلو له لارې يې هغوی ته د مورال ورکولو او د هغوی د فعال ښودلو په غرض ډير تبليغات وکړل، خو وروستۍ پايله يې دا شوه چې اوس خپله امريکايان د افغان پوځيانو په کمزورۍ او نه اهليت اعتراف کوي.
د په اصطلاح ملي اردو ځواکونو تر ټولو ستره نيمګړتيا په هغوي کې د عقيدوي انګيزې او محاربوي مورال نه شتون دی؛ ځکه د هغوبجګړه د هيواد پالنې او يا له خپلو دينې او ملي ارزښتونو څخه د دفاع په خاطر نه؛ بلکې يواځې د محدودو مادي امتيازاتو تر لاسه کولو په خاطر ده، او کله چې کوم پوځي د محاربې په ډګر کې مړ يا ژوبل کيږي بيا د خپلو آمرينو لخوا وروروسته هماغه محدود مادي امتيازات هم قطع کيږي.
ډير وخت خو داسې هم پيښيږي چې دغه پوځيان د بهرنيو ځواکونو لخوا په بيرحمۍ سره بمبار او وژل کيږي او يا هم په ډير فضيحت سره بنديانيږي چې د هلمند ولايت په سنګين ولسوالي کې د امريکايانو لخوا د دغې ولسوالۍ د سرپرست امنيه قومندان څارمن محمد نبي او د هغه اړوند د لسګونو امنيتي ځواکونو د نيولو وروستۍ پيښه يې د بيلګې په توګه يادولای شو.
يادو ځواکونو ته چې کله له پوځي روزنې ځخه د فراغت په مهال د هيواد له حريم څخه د دفاع په غرض عسکري حلف ور کول کيږي هغوی په همدې حلف په بشپړه توګه بې باوره وي؛ ځکه هغوی عملا وينې چې د هيواد څمکه او فضاء يې د بهرنيانو لخوا اشغال او حتی په هيواد کې ډير داسې ځايونه شته دي چې همدا افغان ځواکونه هلته نه دور تلو اجازه لري او نه هم د دې کار جرأت کولای شي .
دا او ديته ورته نور ډير عوامل دي چې افغان ځواکونه مجبوروي چې د ملي اردو له ليکو څخه فرار ته پر قرار ترجيح ورکړي او يا کله ناکله د خپلو وسلو ججوري د خپلو مربيانو (بهرنيو روزونکو) په ککړيو باندې تش کړي.

PDF created with pdfFactory Pro trial version www.pdffactory.com

د مورچل وږمي

ځوان کهول

(عرفان الله عرفاني)

ګل د نرګس ګل د غاټول دی طالب
د نوي نسل ځوان کهول دی طالب

اوس که کتاب سره سیاست هم وایی
د امارت ښکلی سمبول دی طالب

مونږ رالوی کړئ د مسجد حجره کې
زموږ د خوارو هیلو پسول دی طالب

نن له نړۍ سره سیالي کوئ شي
پوره په ځوان پوره په تول دی طالب

د سلطنت کېسو کې نه غږېږي
لکه ملنګ ورور د بالول دی طالب

ورته لیکه ښی حماسي ترانې
عرفاني یار دې غزل بول دی طالب

محمد عزیز عزیزي

کاش وجدان بشر بیدار بود!
از جنایت در جهان بیزار بود
آدمیزاد این چنین وحشی نبود
نه بمثل گرگ ویا کفتار بود
نسل انسان مهربان برهمدگر
نه چنین درنده وخونخوار بود
کاش اوضاع جهان ما کنون
دور از خونریزی وکشتار بود
حاکمان در مسند قدرت چنان
نه خیانت پیشه وغدار بود!
واعظان برمنبر ودر قیل وقال
راستگو درخطبه وگفتار بود
دور از کبر وهوا اهل غنا
مهربان بر آدم نادار بود
هرکسی بر عهد وپیمان استوار
پای بند قول ویا اقرار بود
دعوتش خدمت بخلق وحریت
نه غلام ونوکرِ کفار بود
روزهای ما بتر از بد نبود
سال ما بهتر زسال پار بود
کاش از ظلم وفساد وقتل وخون
در جهان نه مظهر وآثار بود
هر طرف ازهمدلی های زیاد
با طراوت گلشن وگلزار بود
هرکسی لبخند وشادی بر لبان
هر کجا خوشحال ویا سرشار بود
مجلسِ یاران پاک وهمدلان
دور ازهرصحبت اغیار بود
ای«عزیزی» خوش بران مرد سخن
صادق اندر گفته وکردار بود

ډيوه مه بلوه

ساحل

کافر مونه پريږدي کراره، ډيوه مه بلوه
پاس الوتکي گرځي ياره ، ډيوه مه بلوه

زړه دي نری دی گوره ! مه مې گوره، څه مي کوي ؟!
وينې مې څاځي له پرهاره، ډيوه مه بلوه

چې زه به پاتي شم ژوندی؟ او که نه څنگه اشنا ؟!
ته مې تپونه يو ،يو شماره ، ډيوه مه بلوه

بلا دې واخلمه ، د ښار د رنا گانو ياره
مورږه تيارو کې وهو لاره، ډيوه مه بلوه

چوپ شه، ته غورږه شه، چې له کومې خوا خبري راځي؟
څوک شته ! غږيږي په اواره ، ډيوه مه بلوه

مورږد قران او د سنتو د کاروان لاروي
مورږ پسې هر وخت (سپينه ياره) ډيوه مه بلوه

راځه کوچيه د تروږمی د مسافرو په ياد
ستوري به شمارو تر سهاره ، ډيوه مه بلوه

ډيوه مه بلوه

(کوچی)

کافر مونه پريږدي کراره، ډيوه مه بلوه
پاس الوتکي گرځي ياره ، ډيوه مه بلوه
زړه دي نری دی گوره ! مه مې گوره، څه مې کوي ؟!
وينې مې څاځي له پرهاره، ډيوه مه بلوه
چې زه به پاتي شم ژوندی؟ او که نه څنگه اشنا ؟!
ته مې تپونه يو ،يو شماره ، ډيوه مه بلوه
بلا دې واخلمه ، د ښار د رنا گانو ياره
مورږه تيارو کې وهو لاره، ډيوه مه بلوه
چوپ شه، ته غورږه شه، چې له کومې خوا خبري راځي؟
څوک شته ! غږيږي په اواره ، ډيوه مه بلوه
مورږد قران او د سنتو د کاروان لاروي
مورږ پسې هر وخت (سپينه ياره) ډيوه مه بلوه
راځه کوچيه د تروږمی د مسافرو په ياد
ستوري به شمارو تر سهاره ، ډيوه مه بلوه

غزل

چنار تکور

تروږمی ده لاره پاتې ده لا مخته
وخت هم پروت دی لکه غر درنا مخته
د حالاتو له بدلونه ښکاری دا چې
محکمه به شي وزير د باچا مخته
طالب جان د دغه عصر مومن خان دی
دريدلی دی د توري بلا مخته
خدايه راوله کاروان د سپين پتکيو
زمورږ د خړې برجوری کلا مخته
ملگری ته دی تر داسې حده ژمن يم
جنت نه غواړم جانانه ترتا مخته
شکر شکر چې افغان يم مسلمان يم
شکر يمه له دی تولی دنيا مخته
تول پرهريم بی تکوره يم جهانه
نور ازغی مه کړئ بس ده زما مخته

۲۰۱۶ زکال

د فروري میاشت جهادي خبرونه

مسلمانه

مولوي رضوان الله (فيضاني)

مسلمانه لـه ژوندون سره تقواکړه
بندګي درب په صدق اورښتياکړه
له هېڅاسره دوکه اوغدر مکړه
په خپل عهداووعده باندي وفاکړه
مغفرت دګناهونوترښه غواړه
همېش رب ته په سجده اوسه ژړاکړه
ژبه تل مدام لمده وربانديساته
دکريم خدای ذکرهرسبابېګاکړه
پاک قرآن په مينه مينه باندي لولـه
استغفاروايه شيطان په واويلاکړه
صالحانو انسانانوسره ګرزه
له شريرواوبدانو ځان جداکړه
تورلحدته ورتلل شته دي خبراوسه
دقيامت لپاره ښه توښه پيداکړه
(فيضاني)غواړه امان له جهنمه
تل غفورپروردګارته دي دعاکړه

کابل

چهار آسیاب کې د جاسوسي اداري مهم کارمند (سخي) ووژل شو

د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالي اړوند سیمه کې د جاسوسي شبکې په مهم او ظالم کارمند (سخي) برید وشو چې په مهال یې نومورې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۴

سروبي کې د پولیسو په کاروان برید وشو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي اړوند د وزبین سیمې د جنارو کلي ته څېرمه د ګوډاګیو پولیسو په کاروان برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې ۲ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۶

سروبي کې د دښمن په هاونونو ۲ تنه ماشومان شهیدان شول، ۱ میرمن ټپي شوه

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي اړوند د بند په کلي د ګوډاګیو عسکرو له لورې د درنو وسلو بریدونه وشول چې له امله یې ۲ تنه تنکي ماشومان شهیدان شول او ۱ میرمن ټپي شوه. ۱۶/۲/۸

په کابل کې یوه نظامي هلیکوپتره منفجر په کې ۱۸ تنه افسران او عسکر ووژل شول

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالي د ده نو ته څېرمه د راز غونډۍ سیمه کې د کابل اداري د مزدورو عسکرو یوه نظامي مرکز ته نېږدې یوه نظامي هلیکوپتر د کنټینا ستو په حال کې په تکتیکي ډول والوزول شوه. پېښه کې هلیکوپتر په بشپړ ډول له منځه لاړه او د عملي په ګډون ۱۸ تنه افسران او عسکر پکې ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۸

سروبي کې ۳ عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي اړوند د اوزبین چهل ګزي په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۴

سروبي کې ۴ عرادې رینجر ویجار، ۶ عسکر قتل، ۲ نور سخت ژوبل شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي اړوند د زیرې منځي په سیمه کې د ګډ دښمن په کاروان برید ونه ترسره شول، د برید ونو په جریان کې د ګوډاګیو عسکرو ۴ عرادې رینجر ویجار شول، ۶ تنه عسکر قتل او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۶

موسهي کې چاودنې د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د کابل ولایت د موسهي ولسوالي اړوند د عبدالرؤف کلاپه سیمه کې د ګوډاګي دښمن په عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۸

سروبي کې رینجر ویجار، ۲ عسکر ووژل شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي جلال اباد ته په غزیدلې لویه لار د شنیلي په سیمه کې د ګوډاګي دښمن په عسکرو برید وشو، په برید کې ۱ رینجر پوره ویجار، ۲ تنه عسکر ووژل شول، ۱ میل پیکاماشیندار، ۱ توفنګچه او یوه مخابره په غنیمت ونیول شول. ۲۰۱۶/۲/۲۱

سروبي کې رینجر ویجار، ۲ تنه عسکر ووژل شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي د نغوبند په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو، په برید کې ۱ رینجر پوره ویجار، ۲ تنه عسکر ووژل شول، دغه راز ۱ میل پیکاماشیندار، ۱ امریکایي توفنګچه په غنیمت ونیول شول. ۲۰۱۶/۲/۲۱

قره باغ کې د سیاف مهم قومندان (نقیب الله) له ۳ ساتونکو سره ووژل شو

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالي اړوند سیمه کې د سیاف د مهم قومندان (نقیب الله) په موټر د چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر پوره ویجار، نومورې قومندان له ۳ تنو ساتونکو سره ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۴

سروبي کې په بیس اوپوستو برید ونه ترسره شول

د کابل ولایت سروبي ولسوالي اړوند د وزبین په سیمه کې د ګوډاګي دښمن په لوی بیس او ورځپرمه پوستو مجاهدینو تعرضي عملیات وکړل، د عملیاتو په مهال دښمن ته درانه تلفات او وښتل خو شمېره یې نه ده معلومه شوې. ۲۰۱۶/۲/۲۵

سروبي کې ۷ تنه عسکر قتل، ګڼ شمیر نور ژوبل شول

دکابل ولایت د سروبي ولسوالي پروند داوزبین په سیمه کې د مزدور دښمن په لوی بیس او شاوخوا پوستو بریدونه ترسره شول، په ځښتو کې ۷ تنه عسکر ووژل شول او ګڼ نور سخت ژوبل شول. د جګړې په مهال ۲ تنه مجاهدین د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل. ۲۰۱۶/۲/۲۵

غزنی

غزني مرکز کې ۲ تنه عسکر ووژل شول

د غزني ولایت د مرکز پروند سیمه کې د ګوداګي اردو په پلیو عسکرو بریدترسره شو چې په پایله کې یې ۲ تنه عسکر ووژل شول، ۱ میل دراز کوف، ۱ راکټ لانچر او یو شمیر مهمات په غنیمت ونیول شول. ۲۰۱۶/۲/۱

غزني مرکز کې رینجر ویجاړ، ۲ عسکر له منځه لاړل

دغزني ولایت د مرکز پروند په سپینه سیمه کې د ګوداګیو عسکرو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر پوره ویجاړ او ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۲

ګیلان کې په پوسته دبریدله امله ۲ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي پروند په ورو سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید وشو، په برید کې ۲ تنه اربکیان قتل شول او ابل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲

قره باغ کې ماین پال ټانک ویجاړ، ۲ عسکر ووژل شول

دغزني ولایت د قره باغ ولسوالي پروند په صاحب زاده صاحب سیمه کې د ګوداګي دښمن په ماین پال ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک په بشپړه توګه ویجاړ او ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۲

شلګر کې په پوسته دبریدله امله ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

دغزني ولایت د شلګر ولسوالي پروند په صاحب خان سیمه کې د مزدورو پولیسو په پوسته بریدترسره شو، په برید کې ۲ تنه پولیس قتل او ابل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۳

شلګر کې ۴ عسکر قتل، ۲ نور ژوندي ونیول شول

د غزني ولایت د شلګر ولسوالي پروند داوښق والو په سیمه کې د ګوداګي دښمن په عسکرو بریدوشو او په ترڅ کې ۴ تنه عسکر ووژل شول. دغه راز یادي سیمې ته نژدې د خارښتو په سیمه کې مجاهدینو داجیري اردو ۲ تنه عسکر ژوندي ونیول. ۲۰۱۶/۲/۳

شلګر کې په ګوداګیو عسکرو بریدونه وشول، ۲ عسکر له منځه لاړل

دغزني ولایت د شلګر ولسوالي پروند په صاحب خان سیمه کې د ګوداګي د ښمن په عسکرو چې غوښتل یې د ۲ تنو وژل شوپو پوییسو جسدونه انتقال کړي برید وشو او په مهال یې عسکرو ته تلفات واوښتل، دغه راز د یادې ولسوالي پروند د بدوانو په سیمه کې په عسکرو برید وشو او ۲ تنه عسکر پکې ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۳

غزني مرکز کې ۲ ټانکونه ویجاړ، ۶ عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول

د غزني ولایت د مرکز پروند د سپینه په سیمه کې د ګوداګیو عسکرو په پوسته د هشتاد دو بریدونه ترسره شول، دبریدونو په پایله کې د مزدور دښمن ۲ ټانکونه ویجاړ، ۶ تنه عسکر قتل او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۴

خوګیانو کې ټانک ویجاړ، ۵ عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالي پروند په ګل سرخ سیمه کې د ګوداګیو عسکرو په ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ویجاړ او ۵ عسکر و ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۴

شلګر کې ۲ تنه عسکر ووژل شول

دغزني ولایت د شلګر ولسوالي پروند د خانې کلا او اوشنونو سیمو کې د نویه لارې په عسکرو بریدترسره شو او په مهال یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. دغه راز دیادي ولسوالي پروند په نظرخان سیمه کې هم ددښمن په عسکرو بریدوشو خو دښمن ته داوښتي زیان معلومات نشته. ۲۰۱۶/۲/۴

ګیلان کې په خپل منځي جګړه کې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبل واوښته

دغزني ولايت د ګيلان ولسوالي اړوند په بختيار سيمه کې د اربکيانو تر خپل منځ سخته جګړه وشوه، په جګړه کې ۱ تن اربکی قتل او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۵

واغزولسوالي په ودانۍ بريدوشو

د غزني ولايت د واغز ولسوالي په مرکزي ودانۍ د سپکو اودرنو وسلو بريدترسره شو، په برید کې دښمن ته درانه زيانونه واوښتل. خو شمېره يې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۵

شلګر کې ۲ تنه عسکر ووژل شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند د علم والو په سيمه کې د ګوډاګي دښمن په عسکرو بريد وشو چې په مهال يې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۵

خوګيانو کې د دښمن عمليات ناکام شول، ۵ ټانګونه يې ويجاړ، ۵۶ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

دغزني ولايت په خوګيانو ولسوالي کې د دښمن لوی عملياتي کاروان چې له ۱۳ ورځو راهيسې د مجاهدينو ترکارنده بريدونولاندې و، د درنو تلفاتو په ليدو سره له سيمې وتښتېد. د اوږدمهالې جګړې په جريان کې د دښمن ۵ ټانګونه پوره ويجاړ، ۲۹ تنه عسکر قتل شول، له ۳۰ نه زيات ژوبل شول، وحشي دښمن د جګړې په ډګر کې ملکيانوته هم ګڼ ځاني او مالي تلفات واړول. د معلوماتوله مخې ګوډاګي دښمن ۷ کسي (روباه کلا، کريم کلا، ولي کلا، غريب کلا، سيدانوکلی، خاشاکلی، پتني کلی) د درنو وسلو ترهدف لاندې نيولي و چې له امله يې دملکي خلکو لسګونه کورونه ويجاړ، د ميرمنو، ماشومانوپه ګډون ۷ تنه مړه او ټپيان شول. ۲۰۱۶/۲/۶

غزني مرکز کې ۱۳ اربکيان قتل، ۳ نور ژوندي ونيول شول

د غزني ولايت د مرکز اړوند د شهباز په سيمه کې د شريرو اربکيانو په موټر بريدترسره شو، د برید په پايله کې ۳ تنه اربکيان قتل او ۳ نور (عباس، رضا او نظر) ژوندي ونيول شول. دغه راز دې سيمې ته نژدې د نوغې په سيمه کې هم د مزدور دښمن په پليو عسکر وبريدوشو خو د د ښمن دتلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۷

شلګر کې ۱ عسکر، ۱ اربکی مجاهدينو ته تسليم شول

د غزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند د قدم خېلو اوسيدونکی ۱ تن عسکر (فضل احمد) او د عدلي کلي اوسيدونکی ۱ تن اربکی (زمرک) له ۱ ميل کلاشينکوف اوچانتي سره د اسلامي امارت له مجاهدينوسره يوځای شول. ۲۰۱۶/۲/۷

مقر کې په پوسته د بريدله امله ۱ عسکر ووژل شو

دغزني ولايت د مقر ولسوالي اړوند د ګداخېلو په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په پوسته بريدوشو چې په مهال يې ۱ تن عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۸

شلګر کې په مزدورو عسکرو بريدوشو

د غزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند د سيني په سيمه کې د ګوډاګي دښمن په عسکرو بريدترسره شو، په برید کې دښمن ته داوښتي زيان معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۲/۹

آب بند کې چاودني ۱ اربکی ووژله

د غزني ولايت د آب بند ولسوالي اړوند د سرفراز کلا په سيمه کې په شريرو اربکيانو چاودنه وشوه، په چاودنه کې د عبدالواحد په نوم ۱ تن اربکی ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۰

ګيرو کې ټانک ويجاړ، ۱۰ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د غزني ولايت د ګيرو ولسوالي اړوند د بهار او ننې په سيمو کې د ګوډاګيو عسکرو په عملياتي کاروان بريدترسره شو، د برید په مهال ۴ تنه عسکر قتل او ۶ نور مرګوني ټپيان شول، په جګړه کې د دښمن ۱ ټانک په ماين والوزول شو چې پوره ويجاړ شو او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، وروسته دښمن انتقاما د بابکر، ادينو، پنا او بهاره کلي د درنو وسلو ډزي وکړې چې لله الحمد زيان يې نه درلود. ۲۰۱۶/۲/۱۲

ده يک کې چاودني ۳ ګوډاګيانو ته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي اړوند درباط په سيمه کې په پليو پوليسو چاودنه وشوه چې له امنه يې ۱ تن پوليس قتل او ۱ بل ژوبل شو. دغه راز ديادي ولسوالي اړوند دلغه باد په سيمه کې د ماين چاودني ۱ تن اربکی ووژله. ۲۰۱۶/۲/۱۳

غزني: شلګر کې رينجر ويجار، ۳ تنه عسکر ووژل شول

د غزني ولايت د شګر ولسوالي اړوند په لغړو سيمه کې د مزدورو عسکرو په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رينجر ويجار او ۳ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۳

مقر کې ۲ تنه عسکر له ۱ ټانګ او وسلو سره يوځای مجاهدينو ته تسليم شول

دغزني ولايت په مقر ولسوالي کې ۲ تنه عسکر (محمدتيوم اوطالب جان) د مزدورې دارې له ليکونه رابيل او مجاهدينوته تسليم شول، يادوعسکرو ۱ ټانګ، ۱ ميل دهشکه و ۲ ميله کلکونونه له ځانوسره مجاهدينو ته راوړل. ۲۰۱۶/۲/۱۳

قره باغ کې ۱ پوليس تسليم شو

د غزني ولايت د قره باغ وسوالي اړوند دازد کلي اوسيدونکی ۱ تن پوليس (عبدالله شاه) دحقانقو په درک کولوسره مجاهدينو ته تسليم شو. ۲۰۱۶/۲/۱۳

شلګر کې ۴ تنه عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند ديرګتو په سيمه کې د ګودامې دښمن په پليو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله يې ۲ تنه عسکر قتل شول او ۱ بل ژوبل شو. دغه راز د يادي ولسوالي په مربوطاتو کې په مزدورو عسکرو برید وشو چې په ترڅ کې يې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۳

مقر کې مهم اربکی (محمدعالم) ووژل شو، ۱ بل ژوبل شو

دغزني ولايت د مقرولسوالي اړوند په لرمه سيمه کې په اربکيانو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ تن اربکی (محمدعالم دغله غوثوزوی) ځای په ځای قتل او ۱ تن بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۳

ګيرو ولسوالي په ودانی برید ترسره شو

دغزني ولايت د ګيرو وسوالي په ودانی د سپکو اودرنو وسلو برید ترسره شو، په برید کې د ښمن ته داوښتي مرګ ژوبلې په اړه دقيق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۲/۱۴

کې ۲ پوليس قتل شول، ۱ بل ژوبل دی

دغزني ولايت د ده يک ولسوالي اړوندې په پلپو پوليسو برید ترسره شو، دبريد په جريان کې ۲ تنه پوليس قتل شول او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۴

ده يک کې ناڅاپي برید ۲ اربکيانو ته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي اړوندد عسم کلاپه سيمه کې په پليو اربکيانو بريدترسره شو. دبريدپه پايله کې ۱ تن شرير اربکی قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۴

شلګر کې ناڅاپي برید ۲ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند د خار خشه په سيمه کې د ګودامې دښمن په عسکرو برید وشو چې په مهال يې ۱ تن عسکر قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۴

شلګر کې له ۳ پوستو اربکيان وتښتيدل

د غزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوندپه سنګينکه او کړپال سيمو کې له ۳ پوستو څخه اربکيان وتښتيدل اويادي سيمې د مجاهدينو تربشپړ کنټرول لاندې راغلې. ۲۰۱۶/۲/۱۵

شلګر کې له مهمې پوستې اربکيان وتښتيدل

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند محکم کلي ته څېرمه د اربکيانو په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې يې ۲ تنه اربکيان سخت ژوبل شول. وروسته سيمې ته ګڼ شمير عسکر راغلل، د کلي خلک يې سخت ووهل او د مرتضی په نوم ۱ تن ۷۰ کلن بوډا سپين ږيری يې په شهادت ورساوه، دښمن له يادوحشت وروسته پوسته تخليه کړه، اوله سيمې نه وتښتيدل. ۲۰۱۶/۲/۱۵

ګيلان کې چاودنې ۱ اربکی ژوبل کړ

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالي اړوندد وړو په سيمه کې په اربکيانو د مـاين چاودنـه وشـوه چـې لـه املـه يـې ۱ تـن اربکـی سـخت ژوبـل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۷

مقر کې په پوسته دبريدله امله ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ پروند د هستې په سيمه کې د مزدورو عسکرو په پوسته برید وشو چې په مهال يې ۱ تن عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۷

مقر کې په پوسته برید وشو

دغزني ولايت د مقر ولسوالۍ پروند د هستې په سيمه کې د مزدورو عسکرو په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې يې دښمن ته تلفات واوښتل، يوبل خبر وايي چې ددې ولسوالۍ پروند په کوډلو سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو او اربکيانو چاپه له ماتې سره مخ شوه اودښمن د تلفاتو په لیدلو سره وتښتید. ۲۰۱۶/۲/۱۸

ده يک کې ۳ تنه اربکيان ژوبل شول

دغزني ولايت د ده يک ولسوالۍ پروند په تاسن سيمه کې په پيپو اربکيانو برید وشو او په مهال يې ۳ تنه اربکيان سخت ژوبل شول. وروسته سيمې ته نور عسکر اواربکيان راغلل او په سيمه کې يې ۲ تنه ماشومان او ۱ تنکی ځوان سخت ووهل. ۲۰۱۶/۲/۱۹

شلګر کې اربکيانو عام خلک ووهل، ۲ تنه يې سخت ژوبل کړل

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ پروند په کجير کلي کې اربکيانو د کلي په خلکو چې په مسجد کې يې مونځونه اداکول ډزې وکړې چې په امله يې ۱ تن کليوال(عبدالنظر) ژوبل شو، وروسته اربکيان د خلکو کورونو ته ننوتل او د نصير په نوم يو کليوال يې سخت ووهله. ۲۰۱۶/۲/۱۹

ده يک کې په پوسته برید وشو

دغزني ولايت د ده يک ولسوالۍ پروند درباط په سيمه کې د اربکيانو په پوسته برید ترسره شو او په مهال يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۲/۲۰

مقر کې د پوستې ساتونکی عسکر ووژل شو

د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ پروند د هستې په سيمه کې د مزدور دښمن په پوسته برید وشو چې په مهال يې عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۰

ده يک کې رينجر وبجار، ۴ پوليس ژوبل شول

د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ پروند په خشکه سيمه کې د ګوډاګيو پوليسو په رينجر د ماين چاودنه وشوه، په چاودنه کې رينجر وبجار او ۴ تنه پوليس سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۱

قره باغ کې ټانګ وبجار، ۵ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د غزني ولايت د قره باغ ولسوالۍ په باران کلا سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په ټانک چاودنه وشوه، چاودنې ټانګ پوره وبجار کړ، ۲ تنه عسکر يې ووژل او ۳ نور يې مرګوني ټپيان کړل. ۲۰۱۶/۲/۲۲

ګيلان کې اربکيانو خپلمنځي نښته وکړه

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالۍ په بازار کې اربکيانو په خپل منځ کې نښته وکړه، په نښته کې دواړو خوا ووته د وښتې مرګ ژوبلې د شمير په اړه کره معلومات نه دي رارسيدلي. ۲۰۱۶/۲/۲۲

مقر کې په ۲ پوستو برید ونه وشول، ۱ عسکر ووژل شو

د غزني ولايت مقر ولسوالۍ پروند په هستې سيمه کې د مزدورو عسکرو په پوسته کې يو تن عسکر په درازکوف ووېشتل شو او ځای يې ووژل شو. دغه راز د يادې ولسوالۍ پروند په راده سيمه کې د مزدورو عسکرو په پوسته توغندي وتوغول شول چې په هدف ولګيدل اوله امله يې دښمن ته ځاني تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۲/۲۳

ده يک کې چاودنې ۲ اربکيان ژوبل کړل

د غزني ولايت ده يک ولسوالۍ پروند درامک په سيمه کې په اربکيانو چاودنه وشوه چې له امله يې ۲ تنه اربکيان ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۳

شلګر کې ۱ ټانګ، ۱ رينجر وبجار، ۷ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د غزني ولايت د شلګر ولسوالۍ پروند په کوټه سنګي سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو رينجر په ماين والوزول شو، په چاودنه کې رينجر وبجار، ۳ تنه عسکر قتل شول او ۴ نور مرګوني ټپيان شول.

دغه راز د يادې ولسوالۍ پروند د خار خشته په سيمه کې هم د مزدورو عسکرو په ټانګ برید وشو چې په مهال يې ټانک وبجار او عسکر وته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۳

شلګر کې ۱ تن اربکی له مخالفت نه لاس په سر شو

د غزني ولایت د شلګر ولسوالی اړوند د خیروالو کلي اوسیدونکی ۱ تن اربکی (یوسف د رحمت الله زوی) له خپلې دندې لاس په سر او مجاهدینوته تسلیم شو. نومورې امیل کلاشینکوف او چانته هم مجاهدینوته تسلیم کړل. ۲۰۱۶/۲/۲۴

شلګر کې ټانګ ویجاړ، ۴ تنه پولیس ووژل شول

د غزني ولایت شلګر ولسوالی اړوند د زاړه بنارپه سیمه کې د ګوډاګیو پولیسو په ټانګ په راکټ وویشتل شو، په برید کې ټانګ پوره ویجاړ، ۴ تنه پولیس ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۴

شلګر کې ۱ اربکی ته تسلیم شو

د غزني ولایت د ننه د یادولایت د شلګر ولسوالی اړوند د مهمان کلی اوسیدونکی ۱ تن اربکی (محبوب الرحمن) د حقانۍ په درک کولو سره مجاهدینو ته تسلیم شو. ۲۰۱۶/۲/۲۶

ده یک کې په پوسته د بریدله املې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولایت د ده یک ولسوالی اړوند په بشیر کلا په سیمه کې د اربکیانوپه پوسته برید وشو، په برید کې ۱ تن اربکی ووژل شو او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۷

ده یک کې چاودنې ۳ اربکیانو ته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولایت د ده یک ولسوالی اړوند په لغه باد سیمه کې په پلیو اربکیانو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ اربکی (محمدامین) ووژل شو او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۰۱۶/۲/۲۸

میدان وردک

نرخ کې چاودنې د ۱ عسکر ژوند واخیست

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالی اړوند په لالاندر سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو چاودنه وشوه چې له املې یې ۱ تن مزدور عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۱

سیدآباد کې ۱ اربکی قتل، ۱ بل ژوبل شو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی اړوند دسیاه چوب په سیمه کې له ګوډاګیو عسکرو او اربکیانو سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې ۱ تن اربکی قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲

چک: کې چاودنې د ۲ عسکرو ژوند واخیست

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالی اړوند د بوت په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ او په کې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله و ونښته، اړوروسته په یادوعسکرو یوه بله چاودنه هم وشوه چې له املې یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۲

نرخ ولسوالی په ودانۍ برید تر سره شو

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالی په ودانۍ هفه مهال د سپکو ودرنو وسلو برید وشو چې یادي ولسوالی ته ددې ولایت والي راغبی و. په برید کې دښمن ته زیان واوښت خو په اړه یې کره شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۲/۳

سیدآباد کې د له املې ۱ عسکر ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی اړوند د عزیز کلا په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید وشو چې په مهال یې ۱ تن مزدور عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۴

نرخ کې په پوسته د بریدله املې ۱ عسکر ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالی اړوند سورپول ته څېرمه د ګوډاګیو عسکرو په پوسته برید وشو چې په مهال یې ۱ عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۵

سیدآباد کې چاودنې ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د میدان وردګ ولایت د سیدآبادولسوالی اړوند د ممنوپه سیمه کې د مز دور دښمن په پلیو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۵

سیدآباد کې ټانګ ویجاړ، ګڼ عسکر میړه اوژوبل شول

د ميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اړوند د اوتړيو په سيمه کې د مزدورو عسکرو په ټانک چاودنه وشو، په چاودنه کې ټانک پوره ويجاړ شو او يکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۶

ميدان وردګ مرکز کې ټانګ ويجاړ، ۲ تنه عسکر ووژل شول

دميدان وردګ ولايت د مرکز اړوند د ده افغانانو په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ويجاړ او ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۶

سيدآباد کې رينجر ويجاړ، ۲ عسکر ژوبل شول

دميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اړوند د اوتړيو په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رينجر پوره ويجاړ او ۲ تنه عسکر مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱۶/۲/۷

سيدآباد کې له ګوډاګيو عسکرو سره جګړه وشوه

د ميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اړوند دوره په سيمه کې له ګوډاګيو عسکرو سره جګړه وشوه، د جګړې په جريان کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو شمېره يې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۷

سيدآباد کې ۱ عسکر په کې ووژل شو

دميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اړوند د منګيو په سيمه کې د ګوډاګي دښمن په عسکرو برید وشو چې په مهال يې ۱ تن عسکر ځای په ځای قتل شو. ۲۰۱۶/۲/۸

نرخ کې ټانګ ويجاړ، په سپاره عسکر ووژل شول

دميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ اړوند د حيات په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په عملياتي کاروان چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ويجاړ او په کې سپاره ټول عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۰

جلګه کې په ګوډاګيو عسکرو برید وشو

دميدان وردګ ولايت د جلګې ولسوالۍ ودانۍ ته نژدې د سپينو تيرو د پوستې په عسکرو برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو د شمير په اړه دقيق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۲/۱۰

نرخ کې ۲ ټانګونه ويجاړ، ۱۱ تنه عسکر قتل او ۸ نور مرګوني ټپيان شول

د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ اړوند د ده حيات په سيمه کې د ګوډاګي دښمن عملياتي کاروان له چاودنو او بريدونو سره مخ شو. د جګړې په جريان کې ۲ زغره وال ټانګونه پوره ويجاړ، د قومندان (فيض الله) په ګډون ۱۱ تنه عسکر ووژل شول او ۸ تنه مزدور عسکر مرګوني ژوبل شول، په نښته کې ۱ تن مجاهد ټپي شو، وروسته مورال بايللي دښمن د عامو خلکو په کورونو د درنو وسلو بريدونه وکړل چې لله الحمد تلفات يې نه درلودل. ۲۰۱۶/۲/۱۰

جلريز او چک کې ۳ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د ميدان وردګ ولايت د جلريز ولسوالۍ اړوند دزيولات په سيمه کې په ګوډاګيو پوليسو برید وشو او په مهال ۱ تن د عامه نظم پوښس ځای په ځای ووژل شو. دغه راز دياد ولايت د چک ولسوالۍ اړوند د يکسمند په سيمه کې په ګوډاګيو عسکرو ترسره شو چې په ترڅ کې يې ۱ تن مزدور عسکر قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۰

نرخ کې عملياتي کاروان له ماتې سره مخ شو، ۴ کمانډو عسکر قتل شول

د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ د دادل په تنګي کې د دښمن عملياتي کاروان ترسختو بريدونو لاندې رغی، په جګړه کې مزدور عسکر د تلفاتو په ليدلو سره بيرته په شاشول، د جګړې په جريان کې د ګوډاګي د دښمن د ۴ کمانډو عسکرو مړي د جګړې په ډګر پاته شول، په نښته کې ۱ مجاهد هم شهيد او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۱

سيدآباد کې رينجر ويجاړ، ۲ عسکر له منځه لاړل

د ميدان وردګ ولايت د سيدآباد ولسوالۍ اړوند د هفت اسياب په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رينجر ويجاړ، ۲ تنه عسکر ووژل شول او يو شمير نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۱

نرخ کې ټانګ ويجاړ، دښمن ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند دخواجه بلند په سیمه کې د ګوډاګیو دښمن په عملیاتي کاروان چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ زغره وال ټانک پوره ویجاړ او یکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۱۲

نرخ کې ۵ تنه عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند د اخچي په مانده کې د ګوډاګیو عسکرو په عملیاتي کاروان برید ترسره شو، په برید کې د مزدور دښمن ۵ تنه عسکر ووژل شول او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۲/۱۲

چک کې د مشهور اربکي قومندان نجیب مرستیال (حبیب چاتا) ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند دامبخاک په سیمه کې د اربکي قومندان نجیب په مرستیال (حبیب چاتا) چاودنه وشوه، په چاودنه کې حبیب له ۱ تن ساتونکي سره ځای په ځای ووژل شو. وروسته د چاودنې ځای ته نور ګڼ شمیر عسکر او اربکیان راغلل او ۲ چاودنې وربانديې وشوې چې له امله یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۱۳

نرخ کې د دښمن عملیات ناکام شول، ۵۰ تنه عسکر یې مړه اوژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند په کریمداد، عمرخېل، ده خورکه، دادل تنګۍ او خانجان خېلو سیمو کې د ګوډاګیو عسکر وله عملیاتي قوې سره خونړۍ نښتې وشوې. د جګړو په جریان کې د مزدور دښمن ۳۰ تنه عسکر ووژل شول، نه ۲۰ تنه زیات نور یې مرګوني ټپیان شول او په دې علاوه ۳ ټانګونه پوره ویجاړ شول، د جګړې په میدان د دښمن په عمدي ډزو ۶ تنه عام وسلې وګړي ژوبل شول او ۳ دوکانونه وسوزېدل. په جګړو کې ۱ تن مجاهدهم شهید و ۳ نور ژوبل شول، وروسته د دښمن قوه د تلفاتو په ویرلوسره له سیمو ووته. ۲۰۱۶/۲/۱۴

سیدآباد کې په دښمن برید ۱ عسکر ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند دملي خېلو په سیمه کې ۱ تن ګوډاګي عسکر په درازکوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. دغه راز دیادې ولسوالۍ اړوند په لوړه سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید وشو خو د تفاتو شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۶/۲/۱۴

چک کې ټانګ ویجاړ، ۱۳ تنه عسکر مړه او ژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند په مختلفو سیمو (عیشه، بکسمند، السنګ، دورانخېل، نورخېل) کې د ګوډاګیو دښمن له عملیاتي کاروان سره سخته جګړه وشوه، د جګړې په مهال د مزدور دښمن ۱ ټانګ پوره ویجاړ، ۱۳ تنه عسکر مړه او ژوبل شول او له اوږدې نښتې وروسته د دښمن عسکر نه ماتې سره مخ او وتښتېدل. ۲۰۱۶/۲/۱۶

مرکز کې رینجر ویجاړ، ګڼ اربکیان مړه اوژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د مرکز اړوند دده افغانانو په سیمه کې د اربکیانو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر ویجاړ او اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته . ۲۰۱۶/۲/۱۶

چک کې ټانګ ویجاړ، ۱ عسکر ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند د خوات درې په خلیلي سیمه کې د مزدور و عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، چاودنې ټانګ ویجاړ او ۱ عسکر ووژه. ۲۰۱۶/۲/۱۷

نرخ کې رینجر ویجاړ، ۱۱ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند د شهاب الدین، تیمور اوده پاک سیمو ته یوځل بیا د ګوډاګیو عسکرو کاروان د عملیاتو په موخه راغی چې له بریدونو سره مخ شو. په نښته کې ۴ عسکر ووژل شول، ۲ نور مرګوني ټپیان شول او یو رینجر یې د تېښتې په مهال د ماین ښکار شو، په چاودنه کې رینجر ویجاړ، ۳ عسکر قتل او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۸

جلریز کې ټانګ ویجاړ، دښمن ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند دزیولات په سیمه کې د مزدور و پوښیو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ شو او یکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۱۸

سیدابادکې ګودامګیو عسکرو تنکی ماشوم (یاسر) په وحشیانه توګه شهید کړ

دمیدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند د میلوپه سیمه کې مزدورو عسکرو ۱ تن ۱۲ کلن ماشوم (یاسر) چې په خپله کروندې کې په کاربوخت ،وویشت او په شهادت یې وساوه، له پېښې وروسته د سیمې قهریدلو خلکو د کابل کندهار لویه لار وتړله او د مزدورۍ اداري په ضدیې سخت شعارونه ورکول. ۲۰۱۶/۲/۱۹

چک کې په ګودامګیو عسکرو بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند دخوات دري دبوت په سیمه کې په مزدورو عسکرو بریدوشو، دبرید په جریان کې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلې شمېره نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۲۰

سیدابادکې چاودنې ۵ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند داوتړیو په سیمه کې د ګودامګیو عسکرو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجرویجاړ، ۲ تنه عسکرقتل و ۳ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۰

جلګې ولسوالۍ ودانۍ ته نژدې ۱ عسکرووژل شو

دمیدان وردګ ولایت جلګې ولسوالۍ ودانۍ ته څېرمه په پلیو عسکرو برید وشو چې په مهال یې ۱ تن عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۱

جغتو کې ټانګ ویجاړ، عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان وردګ ولایت جغتوولسوالۍ ته څېرمه د ګودامګیوعسکرو په ټانګ بریدترسره شو، په بریدکې ټانګ پوره ویجاړ او ګڼ شمېر عسکر وته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۲

چک ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ د سپکو اودرنو وسلو بریدترسره شو، په برید کې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلې د شمیر په اړه دقیق معلومات نه دي رارسیدلي. ۲۰۱۶/۲/۲۲

جغتو کې ۲ چاودنې ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د میدان وردګ ولایت جغتو ولسوالۍ اړوند د خواجه عمریو په سیمه کې په ګودامګیو پولیسو د چاودنه وشوه، چاودنې ۲ تنه پولیس ووژل او ۱ بل یې ژوبل کړ. ۲۰۱۶/۲/۲۲

سیدابادکې ټانګ ویجاړ، عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت سیدابادولسوالۍ اړوند د سالاروپه سیمه کې د مزدورو عسکرو ټانګ په راکټ وویشتل شو، په برید کې ټانګ پوره ویجاړ اوعسکروته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۳

سیدابادکې ۲ تنه عسکر قتل شول، ۱ بل ژوبل دی

د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند داوتړیو په سیمه کې په ګودامګیو عسکرو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ تنه عسکرقتل شول او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۳

د چک ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

د میدان وردګ ولایت چک ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ د سپکو اودرنو وسلو برید وشو، په برید کې دښمن ته ځاني ومالي تلفات واوښتل خو کره شمیرې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۲۳

چک کې ۱ عسکر قتل، ګڼ نور ژوبل شول

د میدان وردګ ولایت چک ولسوالۍ اړوند د دورانخېلو په سیمه کې په ګودامګیو عسکرو وسلوال بریدوشو، په برید کې ۱ عسکرووژل شو او ګڼ نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۳

چک کې ټانګ ویجاړ، عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند د بوت په سیمه کې په ګودامګیو عسکرو بریدترسره شو، په برید کې ۱ ټانګ پوره ویجاړ شو او عسکر وته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۵

سیدابادکې د دښمن عملیاتي کاروان په شاوتمبول شو ۱ ټانک له منګه لاړ

دمیدان وردګ ولایت په سیدابادولسوالۍ کې د ګودامګیو عسکرو په موټرېز کاروان چې ابدره سیمې ته دعملیاتو په موخه روان و برید وشو، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل او د تلفاتو په لیدلوسره له سیمې نه وتښتید، د دښمن په ډزوکې د ابدې په کلي کې ۱

میرمن ژوبله شوه، یادکاروان د تیښتې په مهال د ماشین کلاپه سیمه کې یوځل بیا دمجاهدینو تربریدلاندې راغی. په دغه برید کې ۱ ټانګ پوره ویجاړ و عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۵

نرخ کې ۲ اربکیان ووژل شول

د میدان وردګ ولایت پروند د مارخانې په کوټل کې له اربکیانو سره نښته وشوه، په جګړه کې ۲ تنه اربکیان ووژل شول ویوشمیر نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۵

نرخ کې ۲ ټانګونه ویجاړ، ۶ کمانډوعسکر ووژل شول

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ پروند د شاه کابل په سیمه کې د ګوډاګیوعسکرو له عملیاتي کاروان سره جګړه وشوه، په جګړه ۲ زغره وال ټانګونه پوره ویجاړ، ۶ تنه کمانډوعسکر ووژل شول. ګڼ نور ژوبل شول او جګړه د دښمن په ماته سره پای ته ورسیده. ۲۰۱۶/۲/۲۵

جغتو ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

دمیدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ په ودانۍ توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په هدف ولګېدل اوله امله یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۲۶

چک کې ۲ عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ پروند د دورانخېلو په سیمه کې د مزدور دښمن په عسکرو برید وشو، په برید کې ۲ تنه عسکرقتل شول او ا بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۶

سیدآباد کې ۴ عسکر قتل، ۴ نور ژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ پروند د سالارو په سیمه کې د مزدور دښمن پهاکمالاتي کاروان برید وشو. د بریدپه جریان کې ۴ تنه عسکرقتل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۲/۲۷

نرخ کې د کمانډوعسکرو په بیس بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ پروند سیمه کې د ګوډاګیوعسکرو په بیس د سپکو اودرنو وسلو برید وشو، په برید کې دښمن ته تلفات واوښتل خوشمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۲۹

چک کې ټانګ ویجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ پروند د دورانخېلو په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ اوعسکرو ته مرګ ژوبله و وښته. ۲۰۱۶/۲/۲۹

لوګر

لوګر مرکز کې چاودنې ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د لوګر ولایت د مرکزپروند د وزیر کلاپه سیمه کې په پلیو پویسو چاودنه ترسره شوه، چې له امله یې ۱ پوښیس قتل او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۳

خوشي کې ۱ تن پولیس مجاهدینو ته تسلیم شو

د لوګر ولایت د خوشي ولسوالۍ پروند د کاریزو کلي اوسیدونکی ۱ تن پولیس (سلطان) د حقانقو په درک کولو، د دعوت او ارشاد دمسئولینو په هلوځلو سره د ګوډاګي اداري له ناولو بیکونه راپیل و مجاهدینوته تسلیم شو. ۲۰۱۶/۲/۶

لوګر مرکز کې د محکمې د رئیس موټر ویجاړ، ۶ تنه قاضیان مړه اوژوبل شول

د لوګر ولایت د مرکز پروند سیمه کې د یاد ولایت د محکمې د رئیس په موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر ویجاړ، د ۴ قاضیانو په ګډون ۶ تنه مړه اوژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۷

محمدآغه کې ټانګ ویجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ پروند د زرغون ښار په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ او دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۲/۱۰

محمدآغه کې چاودنې د ۴ عسکرو ژوند واخیست

د لوګر ولایت د محمدآغه ولسوالۍ پروند د سرخاب په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجرپوره ویجاړ، ۴ تنه عسکرقتل او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. دغه راز د مرکز

اړوند د بادخواب شانه په سیمه کې په مزدورو عسکرو برید وشو چې په مهال یې ۱ تن ګوډاګی عسکر سخت ژوبل شو، وروسته د دښمن په ډزو ۱ تن ملکي وګړی ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۱

محمد اغه کې ۱ تن پولیس مجاهدینو ته تسلیم شو

د لوګر ولایت د محمد اغه ولسوالۍ اړوند د زرغون ښار په سیمه کې ۱ تن پولیس (عطامحمد) له خپلې دندې لاس په سر او مجاهدینو ته تسلیم شو. ۲۰۱۶/۲/۱۲

لوګر مرکز کې رینجر ویجاړ، ۲ تنه عسکر ووژل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند د درویش په سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په رینجر د لاسي بمونو برید ترسره شو. په برید کې رینجر ویجاړ او ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۲

مرکز کې په ګوډاګیو عسکرو برید ترسره شو

د لوګر ولایت د مرکز اړوند د هوني سیدان په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو سره سخته جګړه وشوه، د برید په جریان کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۱۴

لوګر مرکز کې چاودنې د ۲ عسکر وژوند واخیست

د لوګر ولایت د مرکز اړوند باتنخواب شانه سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه مزدور عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۵

لوګر مرکز کې رینجر ویجاړ، ۳ عسکر قتل، ۲ نور ژوبل شول

د لوګر ولایت د مرکز اړوند د زرداد کلا په سیمه کې د مزدورو پولیسو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر ویجاړ، ۳ تنه پولیس ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۵

لوګر مرکز کې چاودنې د ۱ عسکر ژوند واخیست

د لوګر ولایت د مرکز اړوند پادخواب شانه ته څېرمه دامیراکاغوندۍ په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو چاودنه وشوه او ۱ تن عسکر یې ووژه، وروسته دښمن په عامو خلکو ډزې وکړې چې له امله یې ۲ تنه ولسي خلک ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۶

لوګر مرکز کې په ۳ پوستو برید ونه وشول

د لوګر ولایت د مرکز اړوند د ګوډاګي دښمن په ۳ پوستو (بوچه کلا، علي خان کلا، جمعه کلا) د سپکو، درنو وسلو برید ونه وشول، په برید ونو کې دښمن ته داوښتو تلفاتو شمېره نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۱۷

څرخ کې ناڅاپي برید ۱ عسکر ووژه

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړوند د خواجه اسماعیل په پوستې ته څېرمه په ګوډاګیو عسکرو برید وشو او ۱ عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۱۷

لوګر مرکز کې رینجر ویجاړ، عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د مرکز ته څېرمه ګردیز ته د ګوډاګیو عسکرو په رینجر برید ترسره شو، په برید کې رینجر ویجاړ او په کې سپاره عسکر مړه وژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۱۸

محمد اغه کې اربکی قومندان (بهایي) په ډوغتون کې ومړ

د لوګر ولایت د محمد اغه ولسوالۍ اړوند سرخاب سیمې مشهور او ظالم اربکي قومندان (بهایي) چې د ماین په چاودنه کې ژوبل شوی و، د ژورو ټپونو له امله ساه ورکړه. ۲۰۱۶/۲/۲۰

څرخ کې په پوسته د برید له امله ۲ عسکر ووژل شول

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړوند د خواجه علي په پوسته برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۲

څرخ کې ۱۱ کماليتي موټر ویجاړ شو

د لوګر ولایت په څرخ ولسوالۍ کې په هغو ګوډاګیو عسکرو برید وشو چې غوښتل په سیمه کې د بسته جک پوستې ته اکمالات ورسوي، په برید کې ۱ کاماز موټر پوره ویجاړ شو او نور وتښتېدل. ۲۰۱۶/۲/۲۳

مرکز کې دناڅاپي برید له امله ۲ تنه عسکر ژوبل شول

د لوګر ولایت مرکز اړوند د الیاس خان کلا د پوستې په عسکرو برید ترسره شو او په مهال یې ۲ تنه عسکر سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۲/۲۳

محمد اغه کې چاودنې ۳ اربکیان ژوبل کړل

دلوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند د واغجان بازار ته څېرمه په پیپو اربکیانو چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ تنه اربکیان مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۲/۲۵

لوګر مرکز کې په بیس توغندیز برید تر سره شو

د لوګر ولایت مرکز اړوند دخدربیس تر توغندیز برید لاندې راغی. په برید کې دښمن ته ځاني اومالي تلفات واوښتل خو کره شمیره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۲/۲۵

محمدآغه کې ۲ تنه اربکیان ووژل شول

د لوګر ولایت د محمدآغه ولسوالۍ اړوند د دولت کلاپه سیمه کې ۱ تن مجاهد (حنظله) له اربکیانو سره سخته جګړه وکړه، په جګړه کې ۲ تنه اربکیان ووژل شول او وروسته یاد مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسید. ۲۰۱۶/۲/۲۶

څرخ ولسوالي په مرکزي ودانۍ دبریدله امله ۱ عسکر ووژل شو

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ په ودانۍ برید وشو، په برید کې د ولسوالۍ ودانۍ ته درونډ زیان واوښت او ۱ تن عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۸

برکي برک کې مشهور اربکی (سیف الله) ووژل شو

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په بازارکې په ۱ تن ځالم اربکي (سیف الله) برید وشو چې ځای په ځای ووژل شو او وسله یې غنیمت شوه. ۲۰۱۶/۲/۲۹

لوګر مرکز کې چاودنې ۳ عسکر وته مرګ ژوبله واړوله

د لوګر ولایت د مرکز اړوند دحصارک په سیمه کې د دښمن په عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۹

محمدآغه کې ۱ اربکی قتل، بل ژوبل شو

دلوګر ولایت د محمدآغه ولسوالۍ اړوند د غزنیخېلو په سیمه کې په اربکیانو برید وشو، په برید کې ۱ تن اربکی قتل او بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۲/۲۹

خوست

شیخ امیر کې ۳ تنه پولیس ووژل شول

